# د اصول حدیث عظیم او مشهور کتاب

# اختصار علوم حدیث

تالیف : اسماعیل بن عمر بن کثیر الدمشقي
رحمه الله

المتوفی (۷۷۴)

Ketabton.com

پښتو ژباړه تحقیق وتخریج :عامر حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اولنی قسم :صحیح

## د صحت او ضعف په اعتبار سره د حدیث تقسیم

ابن الصلاح فرمایي: پوهه شه الله دی ما او تا دواړو ته د پوهه عطا کړی چی د اهل حدیثو په نزد حدیث صحیح حسن او ضعیف ( دری قسمونه ) لری

زه ( ابن کثیر ) وایم که دا تقسیم د نفس امر په نسبت سره وی نو د حدیث دوه قسمه دی صحیح یا ضعیف او که د محدثینو د اصطلاح په لحاظ سره وی نو د محدثینو په نزد د حدیث اقسام ددی نه زیات دی لکه مونږ همدا وس ددی وضاحت وکه او نورو علماو هم ددی خبری وضاحت کړی دی

## د صحیح حدیث تعریف

ابن الصلاح فرمایي صحیح حدیث هغه مسند حدیث ته وایي چی د هغی سند د عادل او ضابط راویانو د سند سره تر اخر پوری متصل وی او شاذ او معلول نه وی

بیا هغه ددی تعریف فواید بیان کړی دی او پدی سره یی د مرسل منقطع معضل شاذ او کوم کی چی علت قادحه وی یا د کوم په راوی چی جرح وی ددی ټولو نه احتراض کړی دی

هغه فرمایي دا هغه حدیث دی چی ددی په صحت باندی د اهل حدیثو مابین کی هیڅ اختلاف نشته

هغوی ددی اوصافو په وجود او بعضی شرایط کی لکه د مرسل په قبولیت کی اختلاف لری

زه وایم د صحیح حدیث د تعریف خلاصه داده چی چی هغه د رسول الله پوری یا

اخر پوری که صحابی وی یا د هغه نه لاندی بل راوی د هغه پوری په متصل سند سره رسیدلی وی او عادل راوی د عادل او ضابط د ضابط څخه بیان کړی وی شاذ نه وی او په علت قادحه سره معلول نه وی دا به کله مشهور وی او کله به غریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محدثینو نظرونه چونکه مختلف وی دی وجی نه هغوی بعضی سندونو ته اصح الاسانید ویلی دی

د احمد بن حنبل او اسحاق نه روایت دی چی الزهری عن سالم عن ابیه اصح الاسانید دی ( صحیح ترین سند دی ) (معرفة علوم الحدیث: 54، والکفایة: (563 ت – 397 هـ).

د علی بن المدینی او عمرو الفلاس نه نقل دی چی محمد بن سیرین عن عبیده عن علی اصح الاسانید دی (معرفة علوم الحدیث 54)

یحی بن معین فرمایی الاعمش عن ابراهیم عن علقمه عن ابن مسعود اصح الاسانید دیمعرفة علوم الحدیث: 54.

د امام بخاری نه روایت دی چی مالک عن نافع عن ابن عمر اصح الاسانید دی

[معرفة علوم الحدیث: 53، والکفایة: (563 ت، 398 هـ)].

بعضو پدی کی اضافه کړی چی الشافعی عن مالک عن نافع عن ابن عمر اصح الاسانید دی

ځکه چی امام شافعی د امام مالک په شاګردانو کی جلیل القدر شاګرد دی

## صحیح احادیث د ټولو نه مخکی چا راجمع کړی دی

د ټولو نه مخکی امام بخاری رحمه الله د صحیح حدیث جمع کولو لپاره متوجه شوی وو بیا د هغه شاګرد مسلم رحمه الله د هغه په نقش قدم باندی روان شو او دادوه کتابونه بخاری او مسلم د حدیث په کتابونو کی د ټولو نه صحیح ترین کتابونه دی

بخاری د مسلم نه غوره دی ځکه هغه پدی کتاب کی د حدیث روایت کولو لپاره دا شرط لګولی چی راوی به د خپل استاذ هم عصر وی او د هغه نه به یی سماع ثابت وی

امام مسلم دویم شرط ندی لګولی بلکی صرف په معاصرت باندی یی اکتفا کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی ځای څخه د هغه اختلاف فیصله کیږی چی د حاکم استاذ ابو علی نیسابوری او د مغرب بعضو علماو د قول برعکس صحیح بخاری په مسلم باندی غوره دی لکه دا د جمهورو قول دی

بیا دا خبره یاده کړه چی بخاری او مسلم دا شرط ندی لګولی چی هغوی به ټول صحیح احادیث روایت کوی ځکه هغوی بعضی نورو احادیثو ته هم صحیح ویلی دی حالانکه هغه ددوی په کتابونو کی موجود ندی

لکه امام ترمذی د بخاری نه د هغه احادیثو د صحت قول نقل کوی چی بخاری کی نشته بلکی سنن وغیره کی دی

## په بخاری او مسلم کی د احادیثو تعداد

ابن صلاح فرمایی د مکرر احادیثو سره سره په بخاری کی د احادیثو تعداد وه زه دوه سوه پینځه اویا دی او د تکرار نه بغیر څلور زره دی

او د صحیح مسلم ټولو روایات د تکرار نه بغیر څلور زره دی

## په بخاری او مسلم باندی زیادات

حافظ ابو عبدالله محمد بن یعقوب بن الاخرم فرمایی د بخاری او مسلم نه ډیر کم صحیح احادیث پاتی شوی دی

پدی خبره کی ابن صلاح د هغه مخالفت کړی دی ځکه حاکم په بخاری او مسلم دواړو باندی په ډیرو احادیثو کی استدراک کړی دی اګر چی بعضی استدراک کی کلام دی لیکن ډیر روایات د غبار نه خالی دی

زه ( ابن کثیر) وایم پدی مناقشه او مخالفت کی نظر دی ځکه چی حاکم بخاری او مسلم لره پداسی احادیثو ملزم کوی چی د هغوی په نزد د ضعیف راویانو یا علت د وجی لازم نه راځی

په بخاری او مسلم باندی ډیر کتابونه بطور تخریج لیکلی شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


مثلا صحیح ابی عوانه صحیح ابی بکر اسماعیلی صحیح البرقانی صحیح ابی نعیم الاصبهانی وغیره پدی کتابونو کی مفید اضافات او بهترین سندونه موجود دی

نور کتابونه چی د هغی مولفینو په هغی کی صرف د صحیح حدیث د ذکر کولو التزام کړی دی

مثلا صحیح ابن خزیمه صحیح ابن حبان دا د حاکم د المستدرک نه بهتر دی ددی سندونه او متون هم صفا او بهترین دی همدارنګه په مسند د امام احمد کی هم داسی ډیر سندونه او متون وجود لری چی د مسلم او بخاری د روایتونو برابر دی او په بخاری او مسلم کی نشته بلکی پدی کی بعضی داسی احادیث دی چی په سنن اربعه سنن ابی داود سنن ترمذی نسایی ابن ماجه کی هم نشته

دغه شان د طبرانی په المعجم الکبیر او المعجم الاوسط مسند ابی یعلی مسند البزار نورو مسانیدو معاجم فواید او اجزا کی داسی روایات موجود دی کومو ته چی ددی فن ماهرین د راویانو او علت د تحقیق نه پس صحیح ویلی شی ددی علماو دا اقدام صحیح دی اګر که د دوی نه مخکی کوم محدث دیته صحیح نه وی ویلی

پدی کی مونږ د شیخ ابو زکریا یحی النووی موافقت کړی دو د ابن صلاح مخالفت کړی دی

حافظ ضیا الدین محمد بن عبدالواحد المقدسی پدی باره کی یو کتاب المختاره لیکلی دی لیکن دا مکمل ندی زمونږ د استاذانو څخه بعضی استاذانو ( ابن تیمیه ) دیته په مستدرک حاکم باندی ترجیح ورکړی ده

شیخ ابو عمرو بن الصلاح په مستدرک کی د حاکم په طریقی باندی کلام کړی دی هغه فرمایی

د صحیح په شرط کی حاکم اوږد قدم اغستی دی او پدی کی په حکم لګولو کی متساهل دی بهتره داده چی په کوم حدیث ( باندی چی هغه د صحت حکم لګولی وی ) که د نورو امامانو له طرفه د هغی تصحیح میلاو نشی نو ددی باره کی به درمیانه لاره اختیار کړی شی

که صحیح نه وی نو حسن به ضرور وی مګر که هغی کی داسی علت ظاهر شی چی د هغی په وجه یی ضعف لازم راځی

زه وایم د حاکم پدی کتاب کی د حدیث ډیر اقسام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی کی صحیح روایات هم شته چی ډیر کم دی پدی کی داسی صحیح روایتونه هم شته چی بخاری او مسلم په خپلو کتابونو کی ذکر کړی دی او حاکم ته پته نشته پدی کی حسن ضعیف او موضوع روایات هم شته زمونږ استاذ ذهبی رحمه الله دا مختصر کړی دی ( د هغی نوم دی تلخیص المستدرک ) هغه دا ټول ( صحیح حسن ضعیف او موضوع ) روایتونو وضاحت کړی دی هغه په مستدرک کی د موجوده موضوع روایات په یو غټ کتاب کی راجمع کړی دی چی سل احادیث دی

## موطا امام مالک

### تنبیه

د امام شافعی دا قول ما ته د هیڅ یو علمی کتاب پته نشته چی د امام مالک د کتاب نه ډیر صحیح وی

[أسنده ابن أبي حاتم في تقدمة الجرح والتعديل 1/ 12، والبيهقي في آداب الشافعي: 195، ... وابن حبان في المجروحين 1/ 41، وابن عبد البر في التمهيد 1/ 77.]

هغه دا قول د صحیح بخاری او مسلم د وجود نه مخکی کړی دی

پدغه زمانه کی ډیر کتابونه د حدیث باره کی لیکل شوی وو

ابن جریج ابن اسحاق د السیره نه علاوه نور کتابونه د ابو قره موسی بن طارق کتاب او مصنف د عبدالرزاق وغیره

چونکه د امام مالک الموطا ددی ټولو کتابونو څخه ډیر فایده مند وو اګر که پدی کی بعضی کتابونه په مقدار او کثرت احادیث په اعتبار سره غټ وو

خلیفه منصور د امام مالک نه مطالبه وکړه چی هغه خلک دده په کتاب راټولول غواړی نو امام مالک دا خبره قبوله نکړه دا د هغه په کمال علم او انصاف باندی دلیل دی

امام مالک فرمایی نور علماو داسی شیان جمع کړی او په هغه روایاتو اطلاع لری چی مونږ ته یی پته نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



علماو د هغه کتاب الموطا ته ډیره توجه ورکړه او ددی په شرح کی ډیر کتابونه ولیکل چی په هغی کی د ټولو نه بهترین کتاب د شیخ ابو عمر بن عبدالبر رحمه الله دوه کتابونه التمهید او الاستذکار دی

دا سره ددی چی په موطا کی د متصل صحیح احادیثو نه علاوه مرسل او منقطع روایات او داسی بلاغات هم شته چی د ډیرو سند نه میلاویږی

## د سنن ترمذی او سنن نسایی باره کی د لفظ صحیح استعمال

امام حاکم او خطیب بغدادی دواړه د ترمذی کتاب ته الجامع الصحیح ویلی دی او دا د هغوی تساهل دی ځکه پدی کی ډیر منکر احادیث هم شته

ابو علی بن السکن او د خطیب بغدادی سنن نسایی ته صحیح ویل محل نظر دی او دا ویل چی دهغه شرط د مسلم د شرط نه سخت دی دا ناقابل تسلیم ده ځکه پدی کی ضعیف معلول او منکر روایتونه شته دی لکه مونږ په خپل کتاب الا حکام الکبیر کی د هغی باره کی تنبیه کړی ده

## مسند امام احمد

د ابو بکر المدینی د مسند احمد باره کی دا ویل چی دا صحیح دی ضعیف قول دی ځکه پدی کی ضعیف بلکی موضوع احادیث موجود دی لکه فضایل مرو د عسقلان شهیدانو او د حمص سره نژدی د سری ځمکی باره کی احادیث لکه د محدثینو یو جماعت ددی وضاحت کړی دی

د مسند احمد په مقابله کی د کثرت روایات او حسن سیاق په اعتبار سره هیڅ مسند نشته ددی باوجود د امام احمد نه پدی کتاب کی ډیر احادیث پاتی شوی دی بلکی دا هم ویل کیږی چی د هغه نه دوه سوو پوری صحابه روایات ندی رسیدلی د کومو احادیث چی بخاری او مسلم کی شته دی

## کتب خمسه وغیره

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه شان د حافظ ابو طاهر اصول خمسه یعنی یعنی د صحیح بخاری مسلم سنن ابی داود سنن ترمذی او نسایی باره کی دا ویل چی ددی په صحیح والی د مشرق او مغرب د علماو اتفاق دی د هغه تساهل دی چی ددی رد ابن صلاح وغیره علماو کړی دی.

ابن صلاح فرمایی: او ددی سره دا کتابونه ( پینځه کتابونه ) د مسانیدو نه لکه مسند عبدبن حمید مسند دارمی مسند احمد مسند ابی یعلی مسند البزار مسند ابی داود مسن حسن بن سفیان مسند اسحاق بن راهویه مسند عبیدالله بن موسی وغیره نه اعلی درجه لری ځکه د مسانید والا علما هغه روایات ذکر کوی چی د هر صحابی هغه روایات ذکر کوی چی هغوی ته رسیدلی دی

## په بخاری او مسلم کی معلق روایتونه

شیخ ابو عمرو په بخاری کی د موجود معلق روایتونو باندی کلام کړی دی

په صحیح مسلم کی ډیر معلق روایات شته لیکن ډیر کم دی ویل کیږی چی صحیح مسلم کی ۱۴ معلق احادیث دی خلاصه داده چی کوم معلق احادیث امام بخاری د جزم په صیغه سره روایت کړی دی هغه د بخاری په نزد د قایل یا فاعل پوری صحیح دی او بیا به په نورو احادیثو کی تحقیق کولی شی پد ی کی چی په صیغه تمریض سره کوم روایات دی د هغی نه نه صحت لازمیږی نه ضعف ځکه په هغی کی بعضی احادیث صحیح دی او بعضی امام مسلم هم روایت کړی دی

په معلقاتو کی چی کوم احادیث صحیح دی هغه د باسند صحیح احادیثو درجی ته نه رسیږی ځکه امام بخاری د خپل کتاب نوم الجامع المسند الصحیح المختصر ... ایخی دی

کله چی بخاری داسی ووایی هغه مونږ ته بیان کړ فلانی ما ته بیان که یا ماته یی دا الفاظ ډیر ویلی دی نو د جمهورو په نزد به دا د متصل په حکم کی وی

بن صلاح د بعضی مغربی علماو څخه نقل کړی چی دا هم تعلیق دی دا امام بخاری د اعتماد لپاره نه ذکر کوی بلکی د استشهاد لپاره یی نقل کړی دی او کیدای شی چی دا یی مذاکری کی اوریدلی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابن الصلاح پدی خبره باندی رد کړی او د حافظ ابو جعفر نه یی نقل کړی چی کله بخاری وقال لی فلان ووای نو دا روایت هغه د مناوله او عرض په طور سره اوریدلی وی

ابن حزم چی د ګانو باره کی د بخاری حدیث رد کړی کوم کی چی بخاری ویلی دی وقال هشام بن عمار نو د ابن حزم رد ابن صلاح پدی ډول کړی دی

ابن حزم ته په ډیرو وجوهاتو سره غلطی لګیدلی ده ځکه دا روایت د هشام بن عمار نه ثابت دی

زه وایم دا حدیث امام احمد په مسند کی ابو داود په سنن کی برقانی په صحیح کی او نورو محدیثنو په متصل سند سره د هشام بن عمار او د هغه د استاذ صدقه بن خالد نه روایت کړی دی لکه مونږ په خپل کتاب الا حکام کی ددی وضاحت کړی دی

بیا ابن صلاح فرمایلی دیچی ټول امت دا دوه کتابونه صحیح بخاری او مسلم لره د قبول درجه ورکړی ده د یو څو احادیثو نه چی دارقطنی وغیره پری رد کړی دی

بیا ابن صلاح ددی نه استنباط کړی دی چی په بخاری او مسلم کی چی په حدثنا سره څومره احادیث بیان شوی دی هغه په قطعی طور سره صحیح دی ځکه دا امت د غلطی نه معصوم دی نو کوم شی ته چی امت صحیح ویلی دی په هغی عمل کول واجب دی او دا ضروری ده چی دا روایات په حقیقت کی صحیح وی او دا ښه استنباط دی

پدی مساله کی شیخ محی الدین النووی مخالفت کړی دی او فرمایی چی دیته قطعی الصحت ویل صحیح ندی

زه وایم زه پدی مساله کی د ابن الصلاح ملګری یم هغه چی څه ویلی دی او د څه هدایت یی چی کړی دی همدا صحیح دی

ددی نه پس ماته زما د استاذ ابن تیمیه رحمه الله کلام میلاو شو چی د هغی مضمون دادی

کوم حدیث چی ټول امت قبول کړی دی هغی ته قطعی الصحت ویل د ایمه کرامو نه نقل دی پدی کی قاصی عبدالوهاب شیخ ابو حامد قاضی طبری د شافعینو څخه شیخ ابو اسحاق د

(c) ketabton.com: The Digital Library


حنابله ځخه ابن حامد ابو یعلی ابو الخطاب ابن الزاغونی او ددی پشان نورو علماو د احنافو ځخه شمس الایمه سرخسی ځخه دا خبره نقل ده

ابن تیمیه فرمایی

د اشاعره و د جمهور متکلمینو مثلا ابو اسحاق الاسفراینی او ابن فورک هم دا قول دی

هغه وایی او همدا د ټولو اهل حدیث او سلف صالحین مذهب دی

دا خبره ابن الصلاح د استباط په طور کړی وه چی پدی کی هغه د دی امامانو سره موافقت کړی دی

# دویم قسم حسن

د جمهورو په نزد دا د صحیح پشان قابل حجت دی

په حقیقت کی نه بلکی د کتونکی په نظر کی دا قسم د صحیح او ضعیف په مابین کی دی لهذ ددی فن په ډیرو ماهرینو باندی ددی تعریف مشکل شوی دی دا ځکه چی دا نسبتی معامله ده ځکه یو شی د یو محدث په نزد جرح وی لیکن کله کله د هغه عبارت د جرح د بیانولو نه قاصر وی

بعضی علماو ددی په تعریف بیانولو باندی ځان ستړی کړی دی

خطابی فرمایی د کوم سند  چی معلوم او راوی یی مشهور وی
[معالم السنن 1/ 11. وهذا التعريف نقله الحافظ المزي في تهذيب الكمال 1/ 10.]
ابن صلاح وایی د اکثر حدیثونو دارو مدار پدی باندی دی جمهور علما دی لره قبلوی او عام فقها دا په خپل دلایلو کی ذکر کوی زه وایم که د حسن تعریف دا وی چی د کوم چی سند معلوم او راوی مشهور وی نو صحیح حدیث خو هم دارنګه وی بلکی ضعیف هم داسی وی او که په باقی کلام سره تعریف مکمل ګرځی نو دا کلام چی اکثر حدیثونه حسن دی دا قابل قبول ندی او نه دا اکثر علما قبلوی نه یی عام فقها په دلایلو کی ذکر کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ترمذی په نزد د حسن تعریف

ابن صلاح فرمایی مونږ ته د ترمذی د طرفه روایت رارسیدلی دی چی هغه د حسن نه دا مراد اخلی

چی د هغی په سند کی متهم بالکذب راوی نه وی شاذ به نه وی او په دویم سند سره هم روایت
[الجامع الکبیر 6/ 251 (العلل).]
ابن کثیر وایی که دا د ترمذی نه روایت دی چی هغه دا خبره کړی ده نو کوم کتاب کی ده ؟ او ددی سند چیرته دی او که ابن الصلاح دا خبره د ترمذی د کتاب الجامع نه مستنبط کړی وی نو دا صحیح نده ځکه هغه د ډیرو احایثو باره کی وایی دا حدیث حسن غریب دی مونږ دا صرف پدی سند سره پیژنو

## د حسن نور تعریفونه

شیخ ابن الصلاح فرمایی بعضی متاخرینو ویلی دی کوم حدیث کی چی معمولی ضعف قابل احتمال وی هغه حسن حدیث دی او په هغی عمل کول درست دی
ددی نه مراد ابن الجوزی دی
[الموضوعات 1/ 35، نکت الزرکشي 1/ 310. قال السخاوي 1/ 65: ((هذا کلام صحیح في نفسه، لکنه لیس علی طریقة التعاریف)).]
بیا ابن الصلاح فرمایی دا ټول شیان مبهم دی پدی سره زړه ته اطمنان نه راځی ترمذی او خطابی چی کوم تعریف بیان کړی هغی سره د حسن او صحیح د یو بل نه جداوالی نه معلومیږی ما ددی په بحث او تحقیق کی ډیر غور فکر وکه اخر ماته دا واضحه شوه چی حسن په دوه قسمه دی

اول هغه روایت چی د هغی په سند کی داسی مستور راوی وی چی ثقه توب یی نه وی ثابت لیکن هغه کثیر الخطا غافل او متهم الکذب هم نه وی ددی حدیث متن یا مفهوم په بل سند سره هم روایت وی دغه شان دا روایت نه شاذ وی نه منکر

بیا ابن صلاح فرمایی د ترمذی کلام پدی باندی محمول دی زه وایم مونږ چی څه بیان کړل د هغه په وجه دا کلام په هغی باندی حمل کول ممکن ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم د کوم حدیث راوی چی په صدق او امانت سره مشهور وی البته په حفظ او اتقان کی د صحیح حدیث د راویانو درجی ته نه وی رسیدلی د هغه منکر روایاتو ته چا منکر نه وی ویلی او نه دا روایت شاذ او معلول وی ابن الصلاح فرمایی د خطابی کلام پدی باندی محمول دی

ابن الصلاح فرمایی مونږ چی څه بیان کړل په هغی سره د خطابی او ترمذی په کلام کی تطبیق راځی

ابن الصلاح فرمایی د یو حدیث په ډیرو سندونو سره واردیدل ددی دلیل ندی چی دا حدیث به حسن وی ځکه حدیث د الاذنان من الراس لکه دا حدیث

ځکه د ضعیف درجی مختلفی دی ددی نه بعضی ضعف د متابعت په وجه نه زایله کیږی لکه شدید ضعف والا روایت تابع وی او که متبوع دی سره هیڅ اثر نکیږی لکه د کذابین او متروکینو روایت ( په هر لحاظ سره مردود دی ) البته بعضی ضعف په متابعت سره زایله کیږی کله چی راوی سی الحفظ وی یا حدیث مرسل وی نو پدی وخت کی متابعت فایده ورکوی او حدیث د ضعف د کندی څخه د حسن یا صحیح درجی ته رسیږی والله اعلم

## د حسن حدیث په پیژندلو کی ترمذی اصل دی

ابن الصلاح فرمایی د حسن حدیث په پیژندلو کی ترمذی اصل دی همهغه دی لره شهرت ورکړی دی او دا ( حسن حدیث ) د نورو علماو ( یعنی ) د ترمذی د ستاذانو مثلا احمد بن حنبل او بخاری په کلام کی موجود وو دغه شان د وروستنو علماو په کلام کی هم ددی وجود شته لکه دارقطنی وغیره

## سنن ابی داود د حسن حدیث د مصادرو څخه دی

ابن الصلاح فرمایی د حسن حدیث د مصادرو څخه ابو داود هم دی مونږ ته د ابو داود رحمه الله څخه روایت رارسیدلی دی چی هغه فرمایی ما پدی کتاب کی صحیح د هغه مشابه او قریب روایات ذکر کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



[هذا النص الذي يذكر في كتب المصطلح بلفظ: ((ذكرت فيه الصحيح وما يشبهه وما يقاربه)). لم نجده في رسالة أبي داود إلى أهل مكة المطبوعة مع مقدمة بذل المجهود 1/ 35، ولا في المطبوعة بتحقيق الدكتور محمد لطفي الصباغ، على الرغم من تظافر العديد من كتب المصطلح على نسبته إلى الرسالة. انظر: التقييد والإيضاح: 55، وفتح المغيث 1/ 77، وكشف الظنون 2/ 1005.]

كوم احاديث چې شديد الضعف وو د هغې وضاحت مې کړی دی او د کومو احاديثو باره کې چې ما سکوت کړی دی هغه صالح دی بعض احاديث د نورو نه ډير صحيح دی

[رسالة أبي داود إلى أهل مكة1/ 35 مع بذل المجهود. وفي نص الرسالة التي ساقها السيوطي بسنده في كتابه البحر الذي زخر 3/ 1117. وانظر: النفح الشذي 1/ 208، ونكت الزركشي 1/ 336 – 342.]

ابن الصلاح فرمايي: او د ابو داود څخه نقل دی چې هغه د خپل علم مطابق په هر باب کې صحيح احاديث بيان کړی دی

زه(ابن کثير ) وايم: د ابو داود څخه نقل دی چې هغه فرمايي: د کوم روايت باره کې چې زه چپ پاتې شم هغه به حسن وی.

ابن الصلاح فرمايي: نو کوم حديث چې په سنن ابی داود کې د جرح نه بغير موجود وی او په صحيحينو کې هم هغه وجود نلری نه ورته چا صحيح ويلی وی نو هغه به د ابوداود په نزد حسن وی.

زه( ابن کثير ) وايم: د ابو داود (رحمه الله ) څخه په سننو کې ډير احاديث مروی دی ،بعضی روايتونو کې دومره کلام موجود دی چې نورو کې نشته

ابو عبيد الاجری يو مفيد کتاب ليکلی دی چې په هغې کې هغه د ابو دواد (رحمه الله) څخه د جرح تعديل او تصحيح او تضعيف باره کې سوالونه کړی دی چې د هغې څخه بعضې احاديث او راويان دی کوم چې هغه په خپل سنن کې ذکر کړی دی دی وجې نه د ابو داود دا قول ((د کوم حديث نه چې زه سکوت اختيار کړم هغه به حسن وی))ددی نه څه مراد دی ؟ ايا ددی نه صرف په سنن ابی داود کې سکوت مراد دی که مطلقا ؟ دی لپاره تنبيه او بيداريدل ضروری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بغوی کتاب( المصابیح)

ابن الصلاح فرمایی: بغوی چی په خپل کتاب المصابیح کی دا خبره ذکر کړی ده چی صحیح حدیث هغه دی چی بخاری یا مسلم یا دواړو نه یو روایت کړی وی او حسن حدیث هغه د ی چی ابو داود ترمذی او ددی پشان نورو علماو روایت کړی وی. [مصابیح السنة 1/ 2 و 189].

دا ددی خاص اصطلاح ده چی د بغوی نه علاوه بل چا نه ده ذکر کړی.

نووی ددی اصطلاح په وجه په بغوی باندی رد کړی دی ځکه ډیر داسی روایات منکر دی ( چی سنن کی موجود دی )

## د سند د صحت په وجه د حدیث صحت لازم نه راځی

ابن الصلاح فرمایی: په یو سند باندی په ظاهر کی د صحیح یا حسن حکم لګولو سره په متن باندی د صحیح یا حسن حکم لازم نه راځی ځکه متن شاذ یا معلول کیدای شی.

## د ترمذی یو حدیث باره کی (حسن صحیح) ویل

ابن الصلاح فرمایی: د ترمذی دا ویل چی هذا حدیث حسن صحیح مشکل دی ځکه ددوه حالتونو په یو حدیث کی راجمع کیدل ناممکن دی بعضی دا وایی: چی حسن صحیح د دوه سندونو په لحاظ سره دی ١ حسن ٢ صحیح

زه ( ابن کثیر )وایم: دا پدی وجه مردود دی چی ترمذی د بعضی احادیثو باره کی وایی :دا حدیث حسن صحیح غریب دی مونږ صرف پدی سند سره دا پیژنو.

بعضی وایی: چی دا حدیث د متن په لحاظ سره حسن او د سند په لحاظ سره صحیح دی.

پدی کی هم نظر دی ځکه امام ترمذی د جهنم د صفت د حدود او قصاص وغیره احادیثو باره کی همدرانګه کلام کوی.

زما په نظر کی ظاهر داده چی هغه حسن په صحیح کی او صحیح په حسن کی ورننباسی پدی لحاظ سره هغه چی کوم حدیث ته حسن صحیح وایی هغه د هغه په نزد د حسن نه بره او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح نه لاندی درجه کی وی او د هغه کوم حدیث ته صرف صحیح ویل د حسن صحیح په مقابلی کی ډیر قوی دی

والله اعلم

# دریم قسم ضعیف حدیث

ابن الصلاح فرمایی: په کوم حدیث کی چی د صحیح یا حسن سابقه مذکور شروط موجود نه وی هغه به ضعیف وی

بیا هغه د ضعیف احادیثو د تعداد او د صحیح حدیث د یو یا زیات شرایطو د عدم وجود په اعتبار سره د ضعیف مختلف اقسام ذکر کړی دی

پدی لحاظ سره د ضعیف حدیث اقسام دادی موضوع مقلوب شاذ معلل مضطرب منقطع معضل وغیره

# ۴ څلورم قسم مسند

حاکم فرمایی :مسند هغه حدیث ته وایی چی سند یی نبی علیه السلام ته رسیدلی وی.

خطیب بغدادی فرمایی: د کوم سند چی اخیر پوری متصل وی الكفاية (58 ت - 21 هـ)، والجامع لأخلاق الراوي 2/ 189..

ابن عبدالبر فرمایی: کوم روایت چی د نبی علیه السلام نه مروی وی برابره ده که متصل وی یا منقطع. التمهيد 1/ 21.

دا دری اقوال دی.

# ۵ پینځم قسم متصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیته موصول هم وایی دا روایت د ارسال او انقطاع منافی دی او هغه ټول احادیث ددی په مفهوم کی شامل دی چی نبی علیه السلام ته مرفوع وی صحابی باندی موقوف وی یا لاندی کوم راوی ته په متصل سند سره رسیدلی وی

# ۶ شپږم قسم مرفوع

کوم روایت چی د نبی علیه السلام طرفته منسوب وی برابره ده که قول وی یا فعل متصل وی ای منقطع یا مرسل.

خطیب رحمه الله ددی نه انکار کړی دی چی مرسل مرفوع نشی کیدای هغه وایی مرفوع هغه حدیث دی چی د نبی علیه السلام څخه صحابی بیان کړی وی.

# ۷ وم قسم موقوف

په مطلق طور سره موقوف حدیث هغی ته وایی چی د صحابی سره خاص وی د صحابه نه پس خلکو باندی ددی اطلاق د قید نه بغیر نه کیږی (مثلا فلانی دا حدیث په ابن سیرین تابعی باندی موقوف کړی دی )

ددی سند متصل او غیر متصل کیدای شی ډیر فقها او محدثین دیته اثر وایی

ابن الصلاح د خراسانیانو طرفته دا خبره منسوبوی چی هغوی موقوف حدیث ته اثر وایی

ابن الصلاح فرمایی :مونږ ته د ابو القاسم له طرفه خبر میلاو شوی دی چی هغه فرمایی کوم روایت چی د نبی علیه السلام له طرفه وی هغی ته خبر وایی او کوم چی د صحابی له طرفه وی هغی ته اثر وایی

دا د امام شافعی قول دی

الرسالة للإمام الشافعي الفقرات (597) و (1468) -

زه وایم دی وجی نه په کوم کتاب کی چی د نبی علیه السلام احادیث او د صحابه و اثار وی هغی ته علما السنن والاثار نوم کدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه طحاوی ته السنن والاثار او بیهقی ته السنن والاثار ویل

# ۸ اتم قسم مقطوع

دا هغه روایت ته وایی چی په تابعینو باندی موقوف وی برابره ده که قول وی یا فعل دا د منقطع نه علاوه بل شی دی

د امام شافعی او طبرانی په عبارتونو کی په منقطع باندی د مقطوع اطلاق شوی دی

[قال ابن حجر 2/ 514: ((عنى به الدارقطني والحميدي، فقد وجد التعبير في كلامهما بالمقطوع في مقام المنقطع. وأفاد شيخنا – أي: العراقي– في منظومته: أنه وجد التعبير بالمنقطع في كلام البرديجي في مقام المقطوع على عكس الأول ... ))].

ابن الصلاح د صحابه دی قول ته چی مونږ به داسی کول یا مونږ به داسی ویل پدی باندی بحث کړی دی چی که صحابی دا کار د نبی علیه السلام زمانی ته منسوب نکړی نو دا به موقوف وی او که د نبی علیه السلام زمانی ته ددی نسبت وکړی نو ابو بکر البرقانی د خپل استاذ ابو بکر الاسماعلی څخه نقل کوی چی دا هم د موقوف د قسم څخه دی

حاکم رحمه الله دیته مرفوع وایی ځکه دا د نبی علیه السلام په اقرار باندی دلالت کوی او ابن الصلاح همدی خبری ته ترجیح ورکړی ده

ابن الصلاح فرمایی او ددی څخه د صحابی دا قول مونږ به پدی باندی څه باک نه ګڼړه یا خلکو به داسی کول یا داسی به یی ویل یا د نبی علیه السلام په زمانه کی به داسی ویل کیده دا ټول د مرفوع اقسام دی

د صحابی دا ویل چی مونږ ته دا حکم شو وو یا مونږ ددی څخه منع کړی شوی وو

د محدثینو په نزد دا مرفوع دی او دا د اکثر علماو قول دی یو جماعت چی هغی کی ابوبکر الاسماعیلی هم دی ددی مخالفت کړی دی

وكذلك أبو بكر الصيرفي من الشافعية، وأبو الحسن الكرخي والرازي من الحنفية، وابن حزم والغزالي وجماعة من الأصوليين، وأكثر مالكية بغداد، وحكاه إمام الحرمين عن المحققين، وذكر الزركشي أنه قول إمام الحرمين، بل حكى ابن فورك وسليم الرازي وابن القطان والصيدلاني: أنه الجديد من مذهب الشافعي وكذا نسبه المازري إلى أحد قولي الشافعي. انظر: البرهان 1/ 649، والمنخول: 278، والتبصرة في أصول الفقه: 331، وإحكام الأحكام 2/ 87، والإبهاج 2/ 328، والبحر المحيط 4/ 375، وشرح التبصرة

(c) ketabton.com: The Digital Library



والتذكرة 1/ 235، ونكت ابن حجر 2/ 523، وشرح السيوطي: 149، وهو الخلاف نفسه الذي يأتي في قول الصحابي: ((من السنة كذا ... )). وانظر: نكت ابن حجر 2/ 520.

دغه شان د صحابی دا ویل دا د سنت څخه ده او د انس رضی الله عنه دا ویل چی بلا ته حکم شوی وو چی د اذان الفاظ دوه دوه ځل ووای او د اقامت الفاظ یو یو ځل دا هم د مرفوع په حکم کی دی

ابن الصلاح فرمایی: دا ویل چی د صحابی تفسیر د مرفوع په حکم کی وی دا هله چی د هغه په تفسیر کی د ایت د نزول سبب بیان شوی وی

که د صحابی څخه یو تابعی یو حدیث حدیث مرفوعا بیان کړی یا ووایی ینمیه ( نبی علیه السلام ته یی رسوی) دا الفاظ استعمال کړی نو د محدثینو په نزد به دا صریح مرفوع وی

# ۹ نهم قسم مرسل

ابن الصلاح فرمایی ددی اتفاقی حالت دادی چی یو مشر تابعی کوم چی د ډیرو صحابه وو سره میلاو شوی وی د هغوی سره د ناستی پاستی شرف ورته حاصل وی لکه عبیدالله بن عدی سعید بن المسیب او ددوی پشان نور چی کله ووایی نبی علیه السلام فرمایلی دی ( نو دا به مرسل حدیث وی )

ابن الصلاح فرمایی مشهور خو داده چی ټول تابعین پدی کی برابر دی البته ابن عبدالبر د بعضو علماو نه نقل کړی دی چی هغوی د کشرانو تابعینو مرسل احادیثو ته مرسل نه وایی

بیا حاکم رحمه الله مرسل د تابعینو سره خاص کړی دی

معرفة علوم الحديث 26

بلکی جمهور فقها او د علم اصول ماهرین پدی باندی د عام نظر کوی برابره ده که د د تابعی مرسل روایت وی یا د تبع تابعی وغیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وايم ابو عمرو بن الحاجب النحوی په خپل کتاب مختصر فی اصول الفقه کی ويلی دی کله چی د صحابی نه علاوه بل څوک دا ووايی جی نبی عليه السلام فرمايلی دی نو ديته مرسل وايی

البته دا مساله چی مرسل حجت دی که نه ددی تعلق د علم اصول سره دی او مونږ په خپل کتاب المقدمات کی پدی تفصيلی خبره کړی ده

امام مسلم د خپل کتاب په مقدمه کی ويلی دی بيشکه زمونږ او د علمای حديث په نزد مرسل **حجت ندی**مقدمة صحيح مسلم 1/ 24.

دغه شان ابن عبدالبر د محدثينو د يو جماعت نه ددی نقل کړی دی التمهيد 1/ 6.

ابن الصلاح فرمايی: مونږ د مرسل باره کی دا ويلی دی چی دا ضعيف او ساقط احتجاج دی پدی باندی د محدثينو د يو جماعت اتفاق دی او خپلو کتابونو کی يی ددی تذکره کړی ده.

ابن الصلاح فرمايی :مرسل ته حجت ويل د يو جماعت لکه مالک ابو حنيفه او د هغوی د ملګرو قول دی.

التبصرة في أصول الفقه 326، والمحصول 2/ 224، شرح تنقيح الفصول 379، وإحكام الأحكام 2/ 112، والمجموع 1/ 60، وكشف الأسرار للنسفي 2/ 42، والإبهاج 2/ 112، والبحر المحيط 4/ 409.

زه وايم: همداسی يو قول د امام احمد څخه هم مروی دی.

امام شافعی د سعيد ابن المسيب مرسل احاديثو ته حسن ويلی دی خلک وايی چی امام شافعی ددی مرسل احاديثو تحقيق کړی دی او ددی سند ورته ميلاو شوی دی

په کتاب الرساله کی د امام شافعی د کلام نه معلوميږی چی کله د مشرانو تابعينو مرسل حديث په بل سند سره ميلاو شي او دا سند هم مرسل وی يا د کوم صحابی يا جمهورو علماو قول ددی تاييد کوی يا ارسال کونکی تابعی صرف د ثقاتو څخه ارسال کوی نو پدی حالت کی به ددی مرسل حجت وی البته د متصل حديث درجی ته به نه رسيږ ی

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام شافعی فرمایی زمونږ د علم مطابق هیچا هم د مشرانو تابعینو نه علاوه د نورو تابعینو مرسل حدیث ندی قبول کړی

ابن الصلاح فرمایی د صحابه و مراسیل لکه د ابن عباس او ددی پشان د نورو صحابه مرسل روایات د متصل په حکم کی وی ځکه دوی د صحابه وو نه احادیث بیانوی او ټول صحابه عادلان دی ددی مجهول والی مضر ندی

زه وایم بعضو دبن صحابه د مراسیل په قبلولو اجماع ذکر کړی ده

ابن الاثیر وغیره ددی باره کی اختلاف ذکر کړی دی دا مذهب د استاذ ابو اسحاق الاسفراینی څخه نقل دی ځکه ددی خبری احتمال شته چی صحابه و به دا روایات د تابعینو څخه اغستی وی

ځکه اکابرو د اصاغرو او پلارانو د ځامنو څخه روایات اغستی دی لکه مخکی ددی باره کی تفصیل راروان دی

تنبیه حافظ بیهقی په خپل کتاب السنن الکبری کی هغه حدیث ته مرسل وایی چی یو تابعی د صحابی نه روایت کړی وی او د هغه نوم یی نه وی اغستی

که بیهقی دیته حجت نه وایی نو لازمی طور سره به د صحابی مرسل ته هم حجت نه وایی

# ۱۰ لسم قسم منقطع

ابن الصلاح فرمایی ددی او د مرسل د فرق باره کی ډیر مذاهب دی

زه وایم بعضی وایی چی کله د سند نه یو راوی وغورځیږی یا د یو مبهم راوی اضافه وشی

د اولنی خبری مثال ابن الصلاح رحمه الله دا بیان کړی دی چی عبدالزراق د عن الزهری عن ابی اسحاق عن زید بن یثیع عن حذیفه په سند سره مرفوعا روایت کړی دی چی که تاسو ابو بکر خپل امیر وګرځوی نو دا قوی او امین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



أخرجه: العقيلي 3/ 111، وابن عدي في الكامل 5/ 950 - ط دار الفكر و 6/ 542 ط دار الكتب العلمية، والحاكم في المستدرك 3/ 142، وفي معرفة علوم الحديث: 29، وأبو نعيم في الحلية 1/ 64، والخطيب في تاريخه 3/ 302، وابن الجوزي في العلل المتناهية: (405)

پدی کی دوه ځای انقطاع ده

١ عبدالرزاق دا د سفیان نه ندی اوریدلی هغه دا د نعمان بن ابی شیبه څخه روایت کړی دی هغه د ثوری نه روایت کوی

٢ ثوری دا د ابو اسحاق السبیعی نه ندی اوریدلی هغه د شریک نه او هغه د ابو اسحاق نه روایت کوی

هغه یو دویم مثال کی دا روایت بیان کړی دی ابو العلا بن عبدالله بن الشخیر د عن رجلین عن شداد بن اوس په سند سره حدیث بیانوی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی ای زما ربه زه ستا نه پدی معامله کی ثابت قدمی غواړم

وقد وقع الحديث في مسند أحمد 4/ 125، ومعجم الطبراني الكبير (7176) و (7177)، وحلية الأولياء 1/ 267 بلفظ: عن الحنظلي. في حين وقع في جامع الترمذي (3407) ومعجم الطبراني الكبير (7175) بلفظ: ((عن رجل من بني حنظلة))؛ لكن وقع في المعجم الكبير (7179): ((عن رجلين)). فالله أعلم بالصواب.

بعضی وایی چی منقطع د مرسل پشان دی او هر هغه روایت مرسل دی چی سند یی متصل نه وی مګر عام طور سره مرسل هغی ته وایی چی تابعی د نبی علیه السلام نه بیان کړی

ابن الصلاح فرمایی دا ډیر مناسب قول دی د فقهاو د یو جماعت په همدی باندی عمل دی او خطیب په خپل کتاب الکفایه کی دا ذکر کړی دی

ابن الصلاح فرمایی خطیب د بعضی علماو نه نقل کړی دی چی د تابعی یا د هغی نه پس د بل راوی قول یا فعل ته منقطع وایی

دا قول عجیب او غریب دی والله اعلم

# ١١ یوولسم قسم معضل

د کوم روایت د سند نه چی مسلسل دوه یا ددی نه زیات راویان پریوځوی هغی ته معضل وایی ددی څخه د تبع تابعی مرسل روایت هم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمايي ددى څخه د فقهاو دا قول هم دى رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى خطيب په خپلو بعضو كتابونو كى ديته مرسل ويلى دى او دا د هغه منهج دى چى هر غير متصل روايت ته مرسل وايى

ابن الصلاح فرمايي الاعمش د الشعبى نه بيان كړى دى چى د قيامت په ورځ به يو كس ته وويل شى تا دا كار كړى دى ؟هغه به وايى نه نو د هغه په خوله به مهر ولګول شى(6) أخرجه من هذا الوجه معضلاً الحاكم في معرفة علوم الحديث: 38.

ابن الصلاح فرمايي اعمش دا حديث معضلا بيان كړى دى ځكه دا شعبى د انس نه او هغه د نبى عليه السلام نه بيانوى

اعمش په سند كى د انس او نبى عليه السلام ذكر ندى كړى لهذا مناسب داده چى ديته معضل وويلى شى

بعضو دا كوشش كړى دى چى معنعن سند باندى د ارسال يا انقطاع اطلاق وكړى

صحيح او معمول به خبره داده چى معنعن روايت متصل او په سماع محمول وى پدى شرط سره چى استاذ او شاګرد د يو بل معاصر وى او د تدليس د عيب نه برى وى

شيخ ابو عمروالدانى المقرى پدى باندى د محدثينو اجماع ذكر كړى ده

قال الزركشي 2/ 23: ((ما نقله عن الداني وجدته في جزء له في علوم الحديث، فقال: ((وما كان من الأحاديث المعنعنة التي يقول فيها ناقلوها: ((عن)) ((عن)) فهي أيضاً مسندة بإجماع أهل النقل، إذا عرف أن الناقل أدرك المنقول عنه إدراكاً بيّناً)). وسبق الزركشي إلى هذا العزو ابن رشيد في السنن

الأبين: 36. لكن البقاعي عزا هذا النقل إلى كتاب القراءات للداني. النكت الوفية 129 / ب.

قلنا: وسبق الجميع إلى نقل الإجماع على الاتصال، الحاكم في المعرفة: 34، والخطيب في الكفاية:

(421 ت، 291 هـ)، فكان الأولى بابن الصلاح نقله عنهما فإنهما من أئمّة المحدّثين. وانظر: نكت الزركشي 2/ 24، ونكت ابن حجر 2/ 583.

ثمَّ إنَّ في النقل عن أبي عمرو الداني اضطراباً، فانظر ما كتبه محقّق شرح السيوطي على ألفية العراقي: 67، وما علقناه على شرح التبصرة والتذكرة 1/ 283.

او نژدى وه چى ابن عبدالبر هم پدى باندى د اجماع دعوى وكړى قال الزركشي 2/ 22: ((لا حاجة لقوله: ((كاد))، فقد ادَّعاه في أول كتابه التمهيد 1/ 13 – وعبارته: ((أجمع أهل العلم على قبول الإسناد المعنعن بثلاثة شروط: عدالة المخبرين، ولقاء بعضهم بعضاً، وأن يكونوا براء من التدليس.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه وایم پدی قول باندی امام مسلم په خپل صحیح کی اعتماد کړی دی او د صحیح مسلم په مقدمه کی یی په هغه خلکو سخت رد کړی دی چی د معاصرت سره ملاقات هم شرط کوی

تر دی چی د بعضو په نزد هغه ددی نه امام بخاری مراد اخلی لیکن ظاهر داده چی د هغه مراد پدی رد سره علی بن المدینی دی ( مسلم د بخاری رد ندی کړی بلکی د علی بن المدینی رد یی کړی دی ) ځکه ابن المدینی د صحیح حدیث شرط ملاقات ګرځوی لیکن د بخاری په نزد د د حدیث د صحت لپاره دا اصل شرط ندی البته په صحیح بخاری کی هغوی ددی التزام کړی دی

ابو المظفر السمعانی د ملاقات سره دا شرط هم لګولی دی چی شاګرد به د خپل استاذ سره ډیر وخت پاتی شوی وی

ابو عمرو الدانی فرمایی که هغه د خپل استاذ نه په روایت کولو سره مشهور وی نو د هغه عنعنه به مقبوله وی

القابسی وایی که په واضح طریقی سره د هغه ملاقات د خپل استاذ سره ثابت وی

که راوی ان فلانا قال ووایی نو پدی کی د امامانو اختلاف دی ایا دا د راوی ددی قول عن فلان په څیر دی چی په اتصال به محمول وی تر دی چی ددی خلاف ثابت شی ؟ یا دا قول د عن فلان نه لاندی درجه کی دی ؟

احمد بن حنبل یعقوب بن شیبه او ابوبکر البردیجی پدی کی فرق کړی دی هغه عن ته د متصل او ان فلانا قال کذا ته د منقطع حکم ورکوی مګر که ددی خلاف ثابت شی

د جمهور په نزد عن فلان او ان فلانا قال لی په متصل والی کی برابر دی لکه دا خبره ابن عبدالبر کړی ده

امام مالک هم ددی صراحت کړی دی

# ۱۲ دولسم قسم مدلس ( د تدلیس والا روایت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



تدلیس په دوه قسمه دی

١ راوی د هغه چا نه چی د هغه سره دده ملاقات ثابت وی داسی روایت بیان کړی چی د هغه نه یی نه وی اوریدلی

( دیته تدلیس الاسناد وایی)

یا یو معاصر چی د هغه سره یی ملاقات نه وی ثابت ( داسی روایت بیان کړی چی هغه یی ترینه نه وی اوریدلی ) او خلکو ته دا وهم واچوی چی هغه دا روایت د خپل معاصر نه اوریدلی دی

د اول تعریف مثال د علی بن خشرم دا قول دی چی مونږ د سفیان بن عیینه خواته ناست وو

هغوی وایی زهری ویلی دی د هغه نه تپوس وشو اسا تا دا د زهری نه اوریدلی دی

هغوی وویل ماته عبدالرزاق عن معمر عن الزهری په سند سره دا روایت بیان کړی دی

(4) أسند هذه القصة الحاكم في المدخل إلى الإكليل: 20 - 21، وفي معرفة علوم الحديث: 105، والخطيب في الكفاية: (512 ت، 359 هـ).

د علمای کرام یو جماعت د تدلیس دی قسم ته حرام ویلی دی

پدی مساله کی به شعبه د ټولو نه ډیر ردکوو د هغه نه روایت دی چی هغه به ویل زما لپاره د تدلیس کولو نه زنا ډیره بهتر ده یعنی تدلیس د زنا نه غټ جرم دی

(1) رواه ابن أبي حاتم في تقدمة الجرح والتعديل 1/ 173، وابن عدي في الكامل 1/ 107، والخطيب في الكفاية: (508 ت، 356 هـ).

ابن الصلاح فرمایی د شعبه دا قول په مبالغه او سخت وعید باندی محمول دی

شافعی فرمایی تدلیس ددروغو ورور دی(7) رواه ابن عدي في كامله 1/ 107، والبيهقي في مناقب الشافعي 2/ 35، والخطيب في الكفاية: (508 ت، 355 هـ).

بعضی محدثینو به ددی تدلیس په وجه په روایانو باندی جرح کوله او مطلقا به یی د هغوی روایت رد کوو اګر که هغوی د اتصال والا الفاظ هم استعمال کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اګر که ( د تدلیس والا راوی ) صرف یو ځل تدلیس کړی وی لکه امام شافعی رحمه الله فرمایی ( چی که د یو کس تدلیس یو ځل معلوم شو نو په روایت کی د هغه پرده ګنده شوه یعنی مونږ به د هغه د عن والا روایت نه قبلوو)

ابن الصلاح فرمایی: صحیح خبره داده چی که مدلس د سماع تصریح وکړی نو د هغه روایت به مقبول وی او که تصریح ونکړی نو روایت به یی مردود وی

ابن الصلاح فرمایی په بخاری او مسلم کی ددی قسم مدلسینو لکه سفیان بن عیینه اعمش قتاده هشیم وغیره ډیر احادیث موجود دی

زه وایم :د تدلیس انتها داده چی مدلس په خپل نزد په یو ثابت شوی روایت کی ارسال کړی دی د هغه ګمان داوی چی که زه د خپل استاذ نوم واخلم نو د هغه په وجه به دا روایت مردود شی

۲ د خپل استاذ نوم یا کنیت ( چی د خلکو په مابین کی مشهور وی) په ( غیر معروف نوم سره د هغوی نه روایت کول ) چی په خلکو باندی د هغوی معامله پټه پاتی شی او د هغه د حال نه خبر نشی

( دیته تدلیس الشیوخ وایی)

تدلیس حکم د مختلف حالاتو په اعتبار سره مختلف دی

کله به دا مکروه وی کله چی د تدلیس کونکی راوی استاد د هغه نه کم عمر والا یا د اوږد سند والا وی او کله به حرام وی لکه د هغه استاذ ثقه نه وی او د تدلیس په وخت یی دا د سند نه وغورځوی دی دپاره چی حال یی معلوم نشی یا دا ددغه غیر ثقه د هم نوم او کنیت ذکر وکړی او خلک په دهوکه کی واچوی

ابو بکر مجاهد المقری د ابو بکر بن ابی داود نه روایت کړی دی او ویلی یی دی

حدثنا عبدالله بن ابی عبدالله او ابو بکر محمد بن حسن النقاش المفسر ( کذاب ) نه یی روایت کړی دی نو ویلی یی دی حدثنا محمد بن سند هغه یی د خپل یو نیکه طرفته مسنوب کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن الصلاح فرمايي: خطيب بغدادي په خپلو كتابونو كې د تدليس ددې قسم ( تدليس شيوخ ) ډېر استعمال كړى دى.

# ۱۳ ديارلسم قسم شاذ

امام شافعي فرمايي: شاذ هغې ته وايي چې يو ثقه راوي داسې حديث بيان كړي چې هغې كې د نورو راويانو مخالفت وكړي البته هغه روايت چې ثقه راوي هغه بيان كړي وي او نورو نه وي روايت كړې هغې ته شاذ نه وايي. رواه عن الشافعي: الحاكم في معرفة علوم الحديث: 119، والخليلي في الإرشاد 1/ 176، والبيهقي في معرفة السنن والآثار 1/ 81 – 82، والخطيب في الكفاية: (223 ت، 141 هـ).

حافظ ابو يعلى دا تعريف د علماى حجاز د يو جماعت نه نقل كړى دى

كه د شاذ حديث بيانونكى ثقه راوي وي نو د هغه په روايت كې به توقف كيږي هغه به په استدلال كې نشي پيش كولى كه د شاذ بيانونكى راوي غير ثقه وي نو د هغه روايت به رد كولى شي

حاكم رحمه الله فرمايي شاذ هغه روايت ته وايي چې هغې كې ثقه منفرد وي او د هغې څوک متابعت كونكى نه وي

معرفة علوم الحديث: 119.

ابن الصلاح فرمايي: پدې باندې د انما الاعمال بالنيات ( د اعمالو دارو مدار په نيتونو باندې دى )

نه اشكال وارديږي ځكه دا صرف عمر رضي الله عنه بيان كړى دى د هغه نه صرف علقمه او د هغه نه صرف محمد بن ابراهيم التيمي او د هغه نه صرف يحيح بن سعيد الانصاري بيان كړى دى

زه وايم: بيا دا روايت د يحيى بن سعيد نه لاندې متواتر دى ويل كيږي چې د هغه څخه دوه يا ددې نه هم ډېرو كسانو دا روايت كړى دى

ابن منده ددې لپاره غريب او غير صحيح متابعات ذكر كړي دي لكه مونږ ددې تفصيل په مسند عمر او الاحكام الكبير كې بيان كړى دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمایی: دغه شان د عبدالله بن دینار د عبدالله بن عمر څخه دا روایت چی نبی علیه السلام د ولا د خرڅولو نه منع کړی ده

او مالک د الزهری عن انس په سند سره منفردا روایت کړی دی چی نبی علیه السلام مکی ته داخل شو او د هغه په سر د وسپنی تړپی وه یعنی هغه د احرام نه بغیر مکه ته داخل شو

دا دری واړه احادیث په بخاری او مسلم کی پدی سندونو سره ذکر دی

امام مسلم فرمایی: زهری ۹۰ داسی ( د بهترین سندونو والا ) احادیث بیان کړی دی چی بل هیچا ندی بیان کړی صحیح مسلم 5/ 82، عقب (1647).
امام مسلم چی د زهری د منفرد روایات باره کی کومه خبره کړی ده داسی منفرد روایات نورو ثقه راویانو هم بیان کړی دی لهذا په شروع کی د امام شافعی بیان کړی شوی خبره صحیح ده چی کله ثقه راوی داسی روایت بیان کړی چی په هغی کی د نورو راویانو مخالفت وکړی ( اوتطبیق او جمع ممکن نه وی ) نو دا روایت به شاذ او مردود وی

د هغی باب سره ددی تعلق نشته چی ثقه یی بیان کړی او نور یی بیان نکړی بلکی که راوی عادل ضابط حافظ وی نو روایت به یی مقبول وی که چیرته دا رد کړی شی نو دا قسم ډیر احادیث به رد کړی شی او ډیر مسایل به د دلایلو څخه خالی شی

که د تفرد کولو والا راوی حافظ نه وی بلکی عادل او ضابط وی نو د هغه روایت به حسن وی او که دا شرط هم نه وی نو بیا یی روایت مردود دی

# ۱۴ څوارلسم قسم منکر

دا د شاذ پشان مردود وی که ددی ضعیف راوی د ثقه راویانو مخالفت وکړی نو دا به منکر وی او مردود به وی دغه شان که روای عادل او ضابط نه وی ( بلکی ضعیف او مجروح وی ) او د ثقه راویان مخالفت ونکړی نو بیا هم منکر مردود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


که د تفرد کولو والا راوی عادل ضابط حافظ وی نو شرعا به د هغه روایت مقبول وی دیته به منکر نه ویل کیږی اګر که لغوی طور سره ورته منکر ویل درست دی

# ۱۵ پیځلسم قسم اعتبار متابعات او شواهد

ددی مثال دادی چی که حماد بن سلمه عن ایوب عن محمد بن سیرین عن ابی هریره عن النبی صلی الله علیه وسلم په سند سره یو حدیث بیان کړی وس که د حماد نه علاوه کوم دویم راوی د ایوب یا د ایوب نه علاوه بل راوی د محمد بن سیرین نه یا د محمد بن سیرین نه علاوه بل راوی د ابو هریره نه یا د ابو هریره نه علاوه بل راوی نبی علیه السلام نه روایت وکړی نو دیته متابعت وایی

او که ددی روایت هم معنی روایت د بل صحابی نه مروی وی نو دیته شاهد وایی

او که ددی هم معنی بل روایت مروی نه وی نو دیته فرد وایی

په شواهدو او متابعاتو کی د هغه ضعیف راوی باره کی نرمی اختیارولی شی چی ضعف یی شدید نه وی

البته په اصول ( عقایدو ) کی پداسی احادیثو کی نرمی نشته لکه په بخاری او مسلم کی داسی قسم احادیث موجود دی

دی وجی نه د بعضی ضعیف راویانو باره کی امام دارقطنی فرمایی

دا د اعتبار ( شواهدو او متابعاتو ) لایق راوی ندی

یا دا د اعتبار لایق راوی ندی

# ۱۶ شپاړسم قسم افراد ( منفرد روایات )

ددی ډیر اقسام دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضی وختونو کی راوی د خپل استاذ نه په روایت کولو کی منفرد وی لکه مخکی ددی تفصیل تیر شو یا د یو روایت سره د یوی علاقه والا څه راویان منفرد وی مثلا ویل کیږی دی روایت سره اهل شام یا اهل عراق یا اهل حجاز منفرد دی وغیره.

او بعضی وختونو کی ددوی څخه یو راوی منفرد وی نو همداشان دوه صفتونه جمع کیږی.

امام دارقطنی په سل جزء کی د افراد باره کی کتاب لیکلی دی چی د هغی نه مخکی ددی هیڅ مثال نه میلاویږی حافظ محمد بن طاهر  دیته د اطرافو ترتیب ورکړی دی.

# ۱۷ ولسم قسم زیادات ثقه

کله چی یو راوی د نورو راویانو په نسبت د استاذ نه په روایت کی منفرد وی نو دیته زیادت ثقه وایی ایا دا مقبول دی که نه ؟ پدی کی اختلاف مشهور دی خطیب بغدادی د اکثرو فقهاو نه نقل کړی دی چی دا مقبول دی او اکثر محدثینو دا رد کړی دی بعضی وایی که د سماع مجلس یو وی نو مقبول به نه وی او که مجالس مختلف وی نو قبول به وی بعضی وایی چی د روایت بیانونکی اصل روای نه علاوه د بل راوی زیادت به مقبول وی ددی برعکس چی اصل راوی کله دا زیادت بیان کړی او کله نه

نامکمل دا د اتلم قسم پوری پوره کړه

# اتلسم قسم :معلل (معلول) حدیث

دا فن په ډیرو علماو پټ پاتی شوی دی تر دی چی بعضی محدثینو ویلی دی دی علم باندی زمونږ معرفت د جاهل په نزد د کهانت پشان دی

ددی فن د تحقیق سعادت هغی ماهرینو محدثینو ته حاصل دی چی صحیح او ضعیف کوږ او سیده کی فرق کولی شی لکه یو صاحب بصیرت زرگر چی د خپل علم په ذریعه سره جعلی او اصلی دینار او جعلی روپو کی فرق کولی شی لکه څنگه چی دی ته پدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصله کی هیڅ شک نه وی دغه شان محدثینو ته په قطعی طور سره معلومه وی ( چی دا روایت معلول دی او دا ندی )

بعضی خلک صرف گمانونه کوی او بعضی په خپل علم مهارت د حدیث په سند باندی علم او د نبی علیه السلام د کلام د ذوق سره واقف او اشنا وی.

د نبی علیه السلام کلام د عامو خلکو د خبرو پشان ندی.

دی وجی نه په بعضو احادیثو باندی د نبوت رڼا پرته وی او په نورو کی د الفاظو تبدیلی باطل زیادت غلطی خبری یا همداسی نور الفاظ موجود وی چی ددی فن ماهرین دی لره پیژندلی شی.

بعضی وختونو کی د سندونو د جمع کولو په وجه علت معلومیږی.

ددی د مثالونو په بیانولو سره به کتاب ډیر اوږد شی دا خو د عملی تجربی سره معلومیږی

پدی علم کی د ټولو نه جلیل القدر او عظیم کتاب د امام بخاری د استاذ او پدی فن کی ( علل الحدیث ) د وروستنو د ټولو محدثینو د استاذ علی ابن المدینی کتاب العلل دی

دغه شان د عبدالرحمن بن ابی حاتم کتاب العلل په ابوابو مرتب دی

دغه شان د خلا ل کتاب العلل

د حافظ ابو بکر البزار په مسند کی د ډیرو علتونو ( معلول احادیثو ) ذکر دی چی په نورو مسانیدو کی نشته

دا ټول ( معلول) روایتونه امام دارقطنی په خپل کتاب (العلل الوراده فی الاحادیث النبویه) کی راجمع کړی دی او دا کتاب د ټولو نه جلیل القدر بلکی مونږ چی څومره کتابونه لیدلی دی په هغی کی دا پدی فن کی عظیم کتاب دی داسی کتاب نه د دارقطنی نه مخکی چا لیکلی دی او نه وروسته راتلونکی خلک دداسی کتاب په لیکلو قدرت لری الله دی په دارقطنی باندی رحم وکړی او هغه ته دی جنت الفردوس کی ځای ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن پدی کتاب کی د یو ضروری شی کمی دی هغه ده چی طالب علمانو د اسانی لپاره دی له د ابوابو ترتیب ورکول پکار دی یا پدی کتاب کی د صحابه و نومونه د حروف تهجی مطابق راجمع کړی شی دی لپاره چی ددی څخه استفاده اسانه شی

ځکه ددی روایتونه ډیر ګډوډ دی انسان خپل مطلوبه حدیث ته په اسانی سره نشی رسیدلی او الله توفیق ورکونکی دی نو

# ۱۹ نونلسم قسم مضطرب

دا هغه روایت ته ویل کیږی چی په هغی کی په یو خاص شیخ باندی د راویانو اختلاف وی یا د یو شان اسانیدو او متونو اختلاف وی چی په هغی کی یو بل باندی ترجیح ممکن نه وی

بعضی وختونو کی اضطراب په سند کی وی او بعضی وخت کی په متن کی

ددی ډیر مثالونه دی چی دلته یی ذکر کول د تطویل باعث دی

# ۲۰ شلم قسم د مدرج پیژندنه

مدرج دیته وایی چی د حدیث په متن کی د راوی کلام ( تفسیر او شرح ) اضافه شی او اوریدونکی داګمان وکړی چی دا هم د مرفوع حدیث حصه ده بیا نورو راویان همدارنګه مخکی حدیث بیان کړی

همداسی ادارج په ډیرو صحیح حسن او مسند احادیثو کی واقع شوی دی په سند کی هم ادارج واقع کیږی او ددی ډیر مثالونه دی

خطیب بغدادی د مدرج باره کی یو غټ کتاب لیکلی دی

(فصل الوصل لما ادرج فی النقل) چي ډیر مفید کتاب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ۲۱ یویشتم قسم د موضوع من ګهړت او د جعلی روایاتو پیژنده

د موضوع حدیث د پیژندلو ډیری طریقی دی

۱ د هغه د قول فعل یا اقرار چی هغه دا حدیث د ځانه جوړ کړی دی

۲ د الفاظو رکاکت یعنی الفاظ رکیک ( داسی وی چی نبی علیه السلام ته یی نسبت ممکن نه وی )

۳ مفهوم او معنی یی فاسده وی

۴ فحش الفاظ پکښ استعمال شوی وی

۵ د قران او صحیح احادیثو مخالفت پکښ وی

د جرح نه بغیر د موضوع حدیث بیانول جایز ندی دی لپاره چی عوام الناس د دهوکی ښکار نشی

د ځانه د حدیث جوړونکو ډیر اقسام دی ۱ پدی کی زندیق بی دینه خلک شته

۲ پدی کی هغه عبادت ګزار خلک دی چی دا ګمان کوی چی دوی خو ستر کار کوی دوی د ترغیب او فضایل اعمال باره کی احادیث جوړوی دی لپاره چی په هغی عمل وکړی شی

دا د کرامیه فرقی او نور څه خلک دی ددی قسم حرکتونو والا خلکو کی همدوی بدترین خلک دی ځکه ډیر خلک پدوی باندی د نیکانو ګمان کوی او پدوی دوکه کیږی دا خلک د هر دروغجن نه ډیر خوشی او نقصان ده دی

محدثینو ددوی په هر حرکت رد کړی دی او دوی ته یی دروغجن ویلی دی

د ځانه د حدیث جوړونکو لپاره دا خبره په دنیا کی عیب او په اخرت کی د عذاب سبب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبی علیه السلام فرمایلی دی چا چی د قصده په ما باندی دروغ جوړ کړل هغه دی په جهنم کی ځان له ځای جوړ کړی

دا متواتر حدیث دی

بعضی جاهلان وایی چی مونږ خو نبی علیه السلام باندی دروغ نه وایو بلکی د هغه لپاره دروغ وایو

دا ددوی مکمل جهالت کم عقلی بدکاری او افترا ده ځکه نبی علیه السلام د خپل شریعت په کمال او فضایلو بیانولو کی د چا محتاج ندی

شیخ ابو الفرج د موضوع احادیثو باره کی یو ستر کتاب لیکلی دی البته هغه پدی کتاب کی بعضی داسی روایات ذکر کړی دی چی موضوع ندی او بعضی داسی موضوع احادیث یی پریخی دی چی د هغی ذکر کول ضروری وو

لهذا د عامو خلکو د نظر څخه دا کتاب د اعتماد ددرجی نه پریوتی دی او ددی څخه حقیقی رهنمایی نه ده اغستل شوی

بعضی اهل کلام وایی چی د ځانه د احادیثو جوړول اصلا واقع ندی (موضوع روایات موجود ندی بلکی معدوم دی )

یا خو ددی خبری ویونکی په خپله وجود نلری او یا د شرعی علومو نه ډیر جدا دی ( جاهل دی )

بعضی علماو ددی حدیث په ذریعه په دوی باندی رد کړی دی کوم کی چی راغلی دی نبی علیه السلام فرمایی ما باندی به دروغ وویل شی

که دا حدیث چیرته صحیح وی نو ضرور به په هغه دروغ وویلی شی او که دورغ وی نو بیا هم مقصود حاصل شو( چی هغه باندی دروغ وویل شو )

ددی جواب هغوی داسی کړی دی چی ددی څخه تروسه پوری ددروغو واقع کیدل لازم نه راځی بلکی د قیامت پوری نوری ډیری زمانی شته چی هغی کی ددی واقع کیدل ممکن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قول پد ی باندی استدلال او پدی سره جواب کول د محدثینو او حفاظو په نزد انتهایی کمزوری جواب دی کومو چی ډیر صحیح احادیث او د هغی په شان موضوع او دروغ احادیث په یادو یاد کړی وو دی لپاره چی په خلکو باندی پټ پاتی نشی

الله دی پدی محدثینو رحم وکړی

# ۲۲ دوییشتم قسم مقلوب

د حدیث سند کله ټول مقلوب(تبدیلی پکښ شوی وی) وی کله بعضی د اولنی مثال هغه واقعه ده چی کله امام بخاری بغداد ته راغلی نو د هغه ځای محدثینو د یو حدیث سند د بل حدیث د متن سره او د یو حدیث متن د بل حدیث د سند سره ولګول هغوی احادیثو لره مقلوب کړل مثلا د سالم حدیث یی د نافع سره او د نافع حدیث یی د سالم سره میلاو که او دا دویم قسم دی

هغوی تقریبا سل احادیث یا ددی نه زیاتو کی داسی کار وکړ بیا چی کله هغوی دا احادیث بخاری ته پیش کړل نو هغه هر حدیث د خپل اصل سند سره او هر سند د خپل متن سره یو ځای کړل د بغداد د محدثینو له طرفه په دغه مقلوب او مرکب روایتونو کی یو هم په بخاری باندی پټ پاتی نشو د بغداد محدثینو امام بخاری ته د عظمت په سترګه وکتل او د حدیث په فن کی یی هغه له اوچته مرتبه ورکړه

رواها ابن عدي في جزء أسامي من روى عنهم البخاري من مشايخه: 2/ أ. ومن طريقه رواه الخطيب في تاريخ بغداد 2/ 20. وانظر: وفيات الأعيان 4/ 189، وسير أعلام النبلاء 12/ 408، وطبقات الشافعية الكبرى 2/ 6، والبداية والنهاية 1/ 25.

الله دی په هغه باندی رحمت وکړی او جنت ته دی داخل کړی امین

شیخ ابن الصلاح دلته دا تنبیه کړی ده

چی د یو معین سند د ضعف په وجه د یو روایت ضعف لازم نه راځی ځکه کیدای شی چی د هغی صحیح یا حسن سند وی بل مګر که یو امام تصریح کړی وی چی دا حدیث صرف په همدی یو سند سره روایت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وایم په مناظری کی دومره کافی ده چی مخالف چی کوم سند پیش کړی وی د هغی ضعیف والی ثابت کړی شی هغه به چپ شی ځکه اصل داده چی د هغه د تایید لپاره بل کوم روایت نشته مګر که هغه بل کوم ثابت سند پیش کړی

ابن الصلاح فرمایی په ترغیب ترهیب قصو مواعظ او ددی پشان نورو بابونو کی ( لکه فضایل او مناقبو) کی د موضوع حدیث نه علاوه نور احادیث بیانول جایز دی لیکن دا کار د الله په صفاتو او په حلال حرام کی جایز ندی

هغوی فرمایی عبدالرحمان بن مهدی او امام احمد د ضعیف حدیثو د بیانولو اجازت ورکړی دی

رواه عنه الحاكم في المدخل إلى الإكليل: 25، والبيهقي في المدخل إلى دلائل النبوة 1/ 34، والخطيب في الجامع 2/ 91 (1265).
رواه الخطيب في الكفاية: (213 ت، 134 هـ).

هغه فرمایی کله چی ته د سند نه بغیر کوم حدیث د نبی علیه السلام طرفته منسوب کړی نو دا مه وایه چی نبی علیه السلام داسی فرمایلی دی یا داسی نور الفاظ چی هغی سره جزم او یقین مراد وی

مه استعمالوه بلکی په صیغه تمریض سره یی بیان کړه دغه شان د کوم روایت په صحت کی چی شک وی هغه هم د تمریض په صیغه بیانول پکار دی

# ۲۳ درویشتم قسم د چا روایت مقبول او د چا مردود دی ؟ او د جرح او تعدیل بیان

مقبول هغه ثقه ( قابل اعتماد ) ضابط (که د حافظی نه بیان کوی نو د مضبوط حافظی والا او که د کتاب نه بیان کوی نو خپل خط یا کتاب پیژنی )راوی ته وایی چی مسلمان عاقل بالغ او د فسق او بداخلاقی نه پاک وی ددی سره سره بیدار دماغه او زیرکه وی غافل نه وی که د حافظی نه بیان کوی نو حافظ وی که په معنی سره روایت بیانوی نو د هغی په مفهوم باندی پوهه وی که ددی شرطونو نه یو شرط نه وی نو ددی راوی روایت به مردود وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روای عدالت د هغه د نیک شهرت او ښه تعری په وجه ثابتیږی یا هغه راوی چی محدثینو یا دوه امامانو یا یو امام د راجح قول مطابق د هغه توثیق کړی وی نو د هغه عدالت پدی سره ثابتیږی او یو قول دا هم دی چی د راوی څخه د یو امام د روایت کولو په وجه د هغه عدالت ثابتیږی

ابن الصلاح فرمایی ابن عبدالبر پدی کی ډیره نرمی کړی ده او فرمایلی یی دی

هر عالم چی ددی علم په وجه مشهور وی هغه عادل دی

التمهيد 1/ 28، وجامع بيان العلم وفضله 2/ 199.

د هغه معامله به په عدالت حمل وی تر دی چی د هغه باره کی جرح راشی ځکه نبی علیه السلام فرمایلی دی

دا علم به وروسته راتلونکی عادلان خلک اوچتوی

وابن عدي 1/ 249، وابن عساكر 7/ 38،

. أخرجه ابن حبان في الثقات 4/ 10، وابن عدي 1/ 249، وأبو نعيم في معرفة الصحابة 1/ 53، وابن عبد البر في التمهيد 1/ 59، والخطيب في شرف أصحاب الحديث (55)، وابن عساكر في تاريخ دمشق 7/ 37 – 38، من طريق أبي الربيع الزهراني، عن حماد بن زيد، عن بقية بن الوليد، عن معان، به.

– أخرجه العقيلي 4/ 256، وابن أبي حاتم 2/ 17، وابن عدي 1/ 249، وابن عبد البر 1/ 59، وابن عساكر في تاريخه 7/ 38، من طريق إسماعيل بن عياش، عن معان، به.

دا حدیث په ټولو سندونو سره ضعیف دی او که صحیح هم شی نو دلته یحمل په معنی د صیغه الامر دی لکه یو روایت کی راځی لیحمل باید دا علم دی زده کړی نو ددوی استدلال ساقط شو

ابن الصلاح فرمایی ابن عبدالبر چی کومه خبره کړی ده انتهایی بده او د نرمی خبره ده

زه وایم ابن عبدالبر چی کوم حدیث بیان کړی که چیرته هغه صحیح وی نو د هغه د خبری لپاره قوی دلیل وو لیکن ددی حدیث په صحت کی قوی نظر دی او غالب داده چی دا روایت صحیح ندی

او د راوی ضابط والی ددی نه معلومیږی چی هغه په خپلو احادیثو د لفظ او معنی په لحاظ سره د ثقه راویانو موافقت کړی وی او که هغه د ثقه راویانو مخالفت کړی وی نو هغه به غیر ضابط راوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعدیل د سبب ذکر کولو نه بغیر هم قبول وی ځکه د تعدیل اسباب ډیر زیات دی لهذا دا به مطلقا قبلولی شی ددی بر خلاف جرح به هغه وخت قبلولی شی چی جرح مفسر وی ځکه چی د جرح د اسبابو باره کی د علماو مابین کی اختلاف دی

یو شی د یو جارح په نزد فسق وی چی د هغی په وجه هغه جرح کوی حالانکه په حقیقت کی یا د نورو محدثینو په نزد دا د جرح سبب نه وی دی وجی نه په جرح کی د سبب بیانولو شرط لګول شوی دی

شیخ ابن الصلاح فرمایی د جرح او تعدیل په کتابونو کی اکثر دا عبارت موجود وی چی فلانی ضعیف دی یا متروک دی که چیرته مونږ پدی باندی اعتماد ونکړو نو د جرح او تعدیل دراوازه به بنده شی بیا هغه دا جواب کړی چی که مونږ چیرته پدی اکتفا نکوو نو ددی راوی باره کی به توقف کوو ځکه دده باره کی مونږ ته شک واقع شوی دی

زه وایم ددی فن د ماهر امامانو کلام د اسبابو ذکر کولو نه بغیر تسلیمول پکار دی ځکه هغوی ددی علم په معرفت اطلاع پدی باندی عبور لرلو کی اعلی مقام لری هغوی د انصاف دینداری مهاری او خیرخواهی په صفاتو متصف وو خصوصا دوی ټول ماهرین چی کله یو راوی ته ضعیف متروک یا کذاب ووای نو ددی علماو د صدق امانت او خیرخواهی په وجه هیڅ محدث ددوی د موافقت نه شاته نه پاتی کیږی

دی وجی نه امام شافعی چی به کله په احادیثو کلام کوو نو اکثر به یی فرمایل علمای حدیث دیته ثابت نه وایی هغه به صرف پدی قول سره حدیث رد کوو او استدلال به یی ترینه نه کوو

کله چی په جرح او تعدیل کی تعارض راشی نو باید جرح مفسر وی

بیا ایا دا ( جرح مفسر ) به مقدم وی یا به اکثریت او ډیرو محدثینو ته ترجیح ورکړل کیږی

پدی مساله کی په اصول فقه فروع فقه او علم حدیث کی اختلاف مشهور دی

( صحیح داده چی که جرح مفسر وی نو مطلقا به قبلولی شی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح خبره داده چی په جرح او تعدیل کی د یو محدث قول کافی دی البته دا مساله پاتی کیږی چی کله یو ثقه د خپل استاذ نه صرف روایت وکړی نو ایا په مجرد روایت کولو سره د هغی استاذ تعدیل ثابتیږی که نه

دی مساله کی دری اقوال دی

دریم قول دادی چی که چیرته دی راوی صرف د ثقه نه روایت کوو نو توثیق به وی که نه وی نه به یی صحیح داده چی پدی سره د راوی توثیق نه راځی اګر که یو راوی دا ووایی چی د هغه ټول استاذان ثقه دی

کله چی راوی ووایی ماته دا حدیث یو ثقه بیان کړی دی نو صحیح داده چی دا ددی راوی توثیق ندی ځکه کیدای شی دا دده په نزد ثقه وی او ند نورو په نزد ضعیف وی

دا خبره واضحه ده الحمدلله

ابن الصلاح فرمایی دغه رنګه د یو عالم په یو حدیث باندی عمل کول ددی دلیل ندی چی دغه حدیث به د هغه په نزد صحیح وی

زه وایم پدی کی نظر دی تر څو چی پدی باب کی ددی حدیث نه علاوه بل حدیث نشته یا هغه په خپله فتوی یا فیصله کی ددینه استدلال کړی یا یی د هغی د مفهوم نه استشهاد کړی وی

ابن الحاجب فرمایی د عدالت شرط لګونکی عالم چی کله حکم ولګوی دا به بالاتفاق تعدیل او توثیق وی

د کوم عالم یو حدیث لره د هغی باره کی د علم باوجود پریخودل پدی حدیث باندی بالاتفاق جرح نده ځکه کیدای شی چی هغه دیته صحیح وایی لیکن د یو مضبوط معارض د وجی یی پریخی وی

مساله : د جمهور محدثین په نزد د هغه راوی روایت قابل قبول ندی چی په ظاهر او باطنی لحاظ سره مجهول العدالت وی ( مجهول العین ) وی د کوم باطنی عدالت چی نامعلوم وی لیکن ظاهر کی عادل وی هغی ته مستور وایی بعضی شوافعو ددی روایت قبول کړی دی سلیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن ایوب دیته ترجیح ورکړی ده او ابن الصلاح ددی موافقت کړی دی ما ددی مسالی تحقیق په خپل کتاب المقدمات کی لیکلی دی

البته هغه مبهم راوی چی نوم یی معلوم نه وی یا یی نوم معلوم وی مګر مجهول العین وی نو هغه زمونږ د علم مطابق هیڅوک دده روایت نه قبلوی لیکن د بعضی علماو په نزدکه دا د تابعینو یا خیرالقرون شخه وی نو دده د روایت شخه په ډیرو مقاماتو کی رهنمایی اغستلی شی

په مسند احمد کی دا رنګه ډیر روایات شته

خطیب بغدادی وغیره فرمایی د راوی جهالت د علماو په پیژندلو یا د دوه ثقه راویانو په روایت سره ختمیږی البته ددی دوه راویانو د روایت په وجه هغه ثقه نه ګرځی

الكفاية: (150 ت، 88 – 89 هـ).

پدی طریقه باندی ابن حبان وغیره تګ کړی وو البته هغه به پدی حال کی دی راوی ته ثقه ویل

علما فرمایی د چا نه چی یو راوی روایت وکړی لکه عمرو بن ذی مر جبار الطایی سعید ذی حدان ددوی نه صرف ابو اسحاق السبیعی روایت کړی دی جری بن کلیب ددی نه صرف قتاده روایت کړی دی

خطیب فرمایی هزهار بن میزن ددی نه صرف عامر بن شراحیل روایت کړی دی

ابن الصلاح فرمایی ددی نه سفیان ثوری هم روایت کړی دی

ابن الصلاح فرمایی بخاری د مرادس الاسلمی نه روایت اغستی دی حالانکه د قیس بن ابی حازم نه علاوه د هغی نه چا روایت ندی کړی

حديثه الوحيد عند البخاري 8/ 114 (6434) ولفظه: ((يذهب الصالحون الأول فالأول ويبقى حفالة كحفالة الشعير أو التمر لا يباليهم الله بالة))، قال أبو عبد الله البخاري: يقال: حفالة وحثالة، ورواه في 5/ 157 (4156) موقوفاً على مرداس.
وممن جزم بتفرد قيس بالرواية عن مرداس الأسلميِّ: الأزديُّ في المخزون: 266، والدارقطنيُّ في الإلزامات: 78، والحازمي في شروط الأئمة الخمسة: 38، وغيرهم.

مسلم د ربیعه بن کعب نه روایت اغستی دی حالانکه د هغه نه صرف ابو سلمه بن عبدالرحمان روایت کړی دی

بل روى عنه أيضاً: حنظلة بن علي الأسلمي، وأبو عمران الجوني، ونعيم بن عبد الله الْمُجْمِر. انظر: تهذيب الكمال 2/ 473 (1871)، ونكت الزركشي 3/ 391 – 392، والشذا الفياح 1/ 252، وشرح التبصرة والتذكرة 2/ 41 – 42، والإصابة 3/ 401.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وحديثه من رواية أبي سلمة عند مسلم 2/ 52 (489)، وغيره. ورواية نعيم بن عبد الله المجمر عنه عند أحمد 4/ 59. ورواية أبي عمران الجوني عنه عند أحمد أيضاً 4/ 58.

ابن الصلاح فرمایی ددی نه معلومیږی چی د بخاری او مسلم په نزد د یو راوی په روایت کولو سره هم جهالت ختمیږی او دا خبره قابل توجه ده لکه د یو محدث په توثیق باندی د اعتماد کولو باره کی چی اختلاف دی

زه وایم دا ښه توجیه ده لیکن بخاری او مسلم د یو راوی په روایت ځکه اعتماد کړی دی چی دا دواړه مرداس او ربیعه صحابی دی او د نورو راویانو بر خلاف د صحابه جهالت مضر نه ندی

مساله : که یو راوی داسی بدعتی وی چی بدعت یی مکفره وی نو د هغه د روایت رد کولو باره کی څه اشکال نشته

البته که بدعت یی مکفر نه وی لیکن هغه دروغو ته حلال وایی نو دده روایت به هم مردود وی البته که هغه دروغو ته حلال نه وایی نو ایا دده روایت به مقبول وی که مردود ؟یا دداعی او غیر داعی باره کی به فرق کولی شی که نه ؟د قدیم او جدید دور نه پدی مساله کی تر وسه اختلاف راروان دی

جمهور علما وایی چی په داعی او غیر داعی کی به فرق کولی شی

ابن حبان دی باره کی اتفاق نقل کړی دی او فرمایلی یی دی زمونږ د ټولو علماو په نزد د بدعت ته دعوت ورکونکی بدعتی روایت حجت ندی دی باره کی ماته هیڅ اختلاف معلوم ندی

المجروحين 3/ 63 - 64.

او همدا قول د امام شافعی نه هم مروی دی ابن الصلاح فرمایی دا قول د ډیر انصاف والا او راجح قول دی

د بدعتی روایت مطلقا رد کول بعید دی او دا د محدثینو د مشهور قول مخالفت دی ځکه د هغوی کتابونه دداسی بدعتیانو نه ډک دی چی د بدعت طرفته داعیان نه وو په بخاری او مسلم کی دداسی بدعتیانو احادیث په شواهدو او اصولو کی بکثرت موجود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وایم اما شافعی فرمایلی دی زه په روافضو کی د خطابیه نه بغیر د ټولو بدعتیانو ګواهی قبلوم ځکه دا خطابیه د خپلو ملګرو لپاره دروغ ګواهی ورکول جایز ګڼړی

الأم 6/ 206. ورواه عنه ابن أبي حاتم في آداب الشافعي ومناقبه: 189، والبيهقي في مناقب الشافعي 1/ 468، وفي السنن الكبرى 10/ 208، والخطيب في الكفاية: (194 - 195ت، 120 هـ).

پدی قول کی امام شافعی په داعی او غیر داعی کی فرق ندی کړی نو بیا په معنوی لحاظ سره پدی کی څه فرق کیدای شی ؟

همدا امام بخاری دی چی د علی رضی الله عنه د قاتل عبدالرحمان بن ملجم تعریف کونکی عمران بن حطان نه روایت اغستی دی حالانکه دا کس د بدعت د سترو داعیانو څخه وو

مساله کوم راوی چی خلکو باندی دروغ ویلی وی بیا یی توبه کړی وی نو د ابوبکر صیرفی برخلاف د هغه روایت مقبول دی

البته هغه راوی چی په نبی علیه السلام باندی یی قصدا دروغ تړلی وی نو ابن صلاح د احمد بن حنبل او امام بخاری د استاذ ابو بکر الحمیدی نه نقل کړی چی دده روایت به قبول نه وی(2)

رواه عنه الخطيب في الكفاية: (190 ت، 117 هـ).

(3) رواه الخطيب أيضاً في الكفاية: (191 ت، 118 هـ).

ابو المظفر السمعانی فرمایی څوک چی په یو حدیث کی دروغ ووایی د هغه ټول روایات به رد کولی شیقواطع الأدلة 1/ 324، وبه قال الماوردي والروياني من الشافعية. انظر: البحر المحيط 4/ 284.

قال البلقيني في محاسنه: 232: ((ما نقل عن الصيرفي يقرب منه ما قاله ابن حزم: من أسقطنا حديثه لم نعد لقبوله أبداً، ومن احتججنا به لم نسقط روايته أبداً. وكذا قاله ابن حبان في آخرين)).

زه ابن کثیر وایم په علماو کی بعضی هغه چاته کافر وایی چی په نبی علیه السلام باندی قصدا دروغ وتړی او بعضی د هغه قتل کول ضروری ګڼړی

ددی تحقیق ما پخپل کتاب کی  المقدمات کی لیکلی دی

کوم کس ته چی په حدیث کی غلطی ولګی بیا هغه ته تنبیه ورکړی شی مګر رجوع ونکړی نو ابن المبارک احمد بن حنبل او حمیدی وایی دده روایت به هم ناقابل قبول وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضی علماو درمیانه لاره اختیار کړی ده هغوی وایی که د صحیح خبری طرفته ددی کس رجوع ددشمنی او ضد په وجه وی نو دا به هم د هغه کس پشان وی چی نبی علیه السلام باندی قصدا دروغ تړی که نه یی نو نه به وی

دلته نه معلومیږی چی په هر ممکن طریقی سره ددروغو نه بچ کیدل پکار دی او صرف د قابل اعتماد اصل کتاب نه روایت کول ضروری دی د شاذ او منکر روایاتو نه ځان بچ کول پکار دی قاضی ابو یوسف فرمایی کوم کس چی غریب روایات جمع کوی هغه هم په دروغو کی واقع کیږی

په اثر یعنی مرفوع حدیث کی راغلی دی د یو کس د دروغجن والی لپاره دا کافی ده چی هر هغه خبره بیانوی چی اوری یی

مساله :کله چی یو ثقه راوی د خپل ثقه استاذ نه حدیث بیان کړی بیا د هغه استاذ ددی حدیث نه انکار وکړی نو ابن الصلاح دا مسلک اختیار کړی دی چی د هغه د یقینی انکار په وجه به روایت نشی قبلولی او ددی په وجه به د راوی په عدالت هیڅ جرح نه راځی ددی برخلاف چی د هغه استاذ ووایی ما ته ددی حدیث د سماع پته نشته نو دا روایت به مقبول وی که د راوی نه خپل روایت هیر شوی وی نو دجمهور په نزد به دا قبول وی بعضی احناف ددی رد کوی وحكاه ابن الصباغ عن أصحاب أبي حنيفة. انظر: شرح التبصرة والتذكرة 2/ 54.لکه سلیمان بن موسی عن الزهری عن عروه عن عایشه په سند سره مرفوعا بیان کوی کومه ښځه چی د ولی د اجازت نه بغیر نکاح وکړی نو د هغه نکاح به باطل وی ابن جریج فرمایی بیا د زهری سره زما ملاقات وشو ما د هغه نه ددی حدیث تپوس وکه نو هغه دا ونه پیژنده

روى هذا اللفظ عن ابن جريج: أحمد 6/ 47، والبخاري في التاريخ الكبير 4/ 38، وفي الضعفاء الصغير (146)، والطحاوي في شرح المعاني 3/ 8، والعقيلي في ضعفائه الكبير 2/ 140 (632).

لکه څنګه چی ربیعه د سهیل بن ابی صالح نه هغه د خپل پلار نه هغه د ابو هریره نه روایت بیان کړی دی چی نبی علیه السلام د یو ګواه او یو قسم سره فیصله کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د بیماری د وجی د سهیل نه دا حدیث هیر شو نو هغه به دا حدیث دارنګه بیانوو ماته ربیعه دا حدیث زما له طرفه بیان کړ

الذي في سنن أبي داود عقب (3610)

زه ابن کثیر وایم د مخکی روایت نه دا ډیر قابل قبول دی خطیب بغدادی دی باره کی یو کتاب لیکلی دی من حدث بحدیث ونسي

مساله : کوم کس چی په حدیث بیانولو مزدوری واخلی ایا د هغه روایت به قبولی شی که نه

امام احمد اسحاق او ابو حاتم نه روایت دی چی ددی د بد اخلاقی په وجه به ددی روایت قبول نه وی رواه الخطيب في الكفاية: (240 ت، 153 - 154 هـ).

ابو نعیم الفضل بن دکین علی بن عبدالعزیز او نورو ددی اجازت ورکړی دی

لکه څنګه د قران په تعلیم سره اجرت اغستل جایز دیرواه عنه الخطيب في الكفاية: (243 ت، 155 هـ).

په صحیح بخاری کی راځی نبی علیه السلام فرمایلی دی بیشکه په کوم شی چی تاسو اجرت اخلی هغی کی قران پدی سره ډیر مستحق دی

فقیه عراق شیخ ابو اسحاق الشیرازی په بغداد کی ابو الحسن بن النقور ته فتوی ورکړی چی اجرت اغستی شی ځکه محدثینو هغه د حدیث د روایت کولو په وجه د اولاد لپاره د کسب څخه مشغول کړی وو

تاريخ بغداد 4/ 381، والمنتظم 8/ 314، وسير أعلام النبلاء 18/ 374.

مساله : د تعدیل اعلی ترین عبارت حجه او ثقه دی

او د جرح ادنی ترین عبارت کذاب دی

زه وایم ددی په درمیان کی ډیر الفاظ دی چی د هغی ضبط مشکل دی

ابن الصلاح ددی لپاره په مراتبو باندی کلام کړی دی

یاد ساتی چی د بعضی محدثینو خاص اصطلاحات وی چی د هغی پیژندل ضروری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی څخه د بخاری دا قول هم دی چی کله هغه د یو راوی باره کی ووایی سکتوا عنه یا فیه نظر نو دا د هغه په نزد ادنی ترین او سخته جرح وی

لیکن هغه د جرح د الفاظو په استعمال کی ډیر نرم وو دی باندی ښه ځان پوهه کړه

ابن معین فرمایی د چا باره کی چی زه لیس به باس ووایم نو دا زما په نزد ثقه وی

ابن ابی حاتم فرمایی د چا باره کی چی صدوق محله الصدق یا لا باس به وویل شی نو دا راوی د هغو څخه وی چی د هغوی حدیث لیکلی کیږی او د هغی باره کی به تحقیق جاری وی

ابن الصلاح د امام احمد بن صالح نه نقل کړی دی چی صرف د هغه راوی حدیث به ترک کولی شی چی د هغه په متروک والی باندی د ټولو اجماع وی

ابن الصلاح دی باره کی تفصیلی کلام کړی دی د محدثینو د عبارتونو څخه واقف کس د هغوی د غالب عبارتونو او قرینو څخه د هغوی په مقصد پوهیږی او الله بنده ته توفیق ورکوی

ابن الصلاح فرمایی زمونږ په زمانه کی عام طور سره د اهلیت شروط نشته

وس به صرف د سند د متصل والی خیال ساتلی شی لهذا ضروری ده چی استاذ په فسق وغیره سره مشهور نه وی او د هغه روایت د هغو مشایخو د ضبط نه اغستلی شوی وی چی پدی فن کی ماهر دی

# ۲۴ څلورویشتم قسم : د سماع حدیث کیفیت د هغی حاصلول او ضبط ( په یادو یادول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سن تمییز کی د ماشومانو ګواهی او روایت حاصلول او د بلوغ په حالت کی د هغی بیانول صحیح دی دغه شان په حالت د کفر کی د کفارو ګواهی یا روایت حاصلول او د اسلام راوړلو نه پس د هغی بیانول صحیح دی ماشومانو ته په حدیث وریادولو کی جلدی کول پکار دی

پدی زمانه او مخکی زمانو کی د خلکو دا عادت دی چی د پینځه و کالو پوری د ماشوم مجلس ته حاضریدل او د پینځه کاله نه پس به د هغه سماع لیکل کیده

محدثینو ددی د جواز لپاره د محمود بن الربیع په حدیث استدلال کړی چی هغه ته هغه موتی اوبه یادی وی چی نبی علیه السلام د هغه په کور کی د لوخی نه د محبت په وجه د هغه په مخ باندی شیندلی وی پدغه وخت کی د هغه عمر پینځه کاله وو

دا حدیث بخاری روایت کړی دی هغوی ددی حدیث په وجه په حاضریدو او اوریدلو کی فرق کوی په یو روایت کی راځي چی د محمود ابن ربیع عمر پدغه وخت کی څلور کاله وو او بعضی محدثینو همدیته سن تمییز ویلی دی او بعضی وایی چی که هغه ماشوم کله په عام ځناور او خر کی فرق وکړی شی نو دا سن تمییز دی ( سماع به صحیح وی )

بعضی خلک وایی چی د شلو کالو نه پس سماع کول پکار دی ( یعنی حدیث اوریدل) بعضی وایی د لس کاله نه پس بعضی وایی ددیرش کاله نه پس

ددی ټولو دارو مدار په حالت د تمییز باندی دی هر کله چی ماشوم عقل مند شی د هغه سماع لیکل پکار دی ( سماع یی صحیح ده )

ابن الصلاح فرمایی مونږ ته د ابراهیم بن سعید الجوهری نه دا خبره رارسیدلی ده چی هغه فرمایی ما یو څلور کلنی ماشوم ولیده چی د مامون خلیفه په دربار کی حاضر کړی شو هغه قران لوستلی او په فقه یی عبور حاصل وو مګر کله چی به وږی شو نو ژړل به یی

د حدیث د اوریدلو او حاصلولو اته اقسام دی

## ۱ سماع اوریدل

دیته وایی چی اوریدونکی د هغه چا نه واوری چی د خپلی حافظی یا کتاب څخه یی وراوروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضی عیاض فرمایی پدی کی هیڅ اختلاف نشته چی پدی حالت کی اوریدونکی د حدثنا یا اخبرنا یا انبانا یا سمعت یا قال لی یا ذکر لنا فلان الفاظ استعمال کړی

خطیب فرمایی د ټولو نه اعلی عبارت سمعت دی بیا حدثنا یا حدثنی دی

ابن الصلاح فرمایی ډیر علما مثلا حماد بن سلمه ابن المبارک هشیم یزید بن هارون عبدالرزاق یحی بن یحی التمیمی او اسحاق بن راهویه وغیره به د خپلو استاذانو څخه اوریدل شوی روایتونه صرف په اخبرنا سره بیانول

ابن الصلاح فرمایی باید حدثنا او اخبرنا د سمعت نه اعلی درجه کی وی ځکه د سمعت په حالت کی دا کیدای شی چی د استاذ اراده نه وی چی شاګرد ته حدیث ورواوروی لیکن په حدثنا او اخبرنا کی دا اراده شامل ده

زه وایم بلکی پدی حالت کی اعلی عبارت حدثنی دی ځکه په حدثنا او اخبرنا کی دا کیدای شی چی استاذ د شاګردانو په ډیر والی کی هغه خاص شاګرد ته د حدیث وراورولو اراده نه وی کړی

## ۲ د حافظی یا کتاب څخه د استاذ ( شاګرد ) ته حدیث وراورول

د جمهورو په نزد دیته عرض وایی د شاذ  خلکو نه بغیر د کومو د اختلاف چی هیڅ حیثیت نشته د جمهورو په نزد پدی طریقه سره روایت بیانول جایز دی

ددی علماو دلیل هغه حدیث دی چی ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه بیان کړی دی او هغه صحیح بخاری کی دی

دا ( عرض ) د استاذ د بیان کړی شوی الفاظو د اوریدلو نه کم درجه کی وی

مالک ابو حنیفه او ابن ابی ذیب نه روایت دی چی سماع ددی نه قوی ده

او دا هم ویل شوی دی چی دواړه برابر دی دا خبره د اهل حجاز اهل کوفه امام مالک او دهغه مدنی استاذانو طرفته منسوب کړی شوی ده او بخاری هم دا اختیار کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولنی خبره صحیح ده ( چی دا د سماع نه کمه درجه کی دی) او پدی موقف د مشرق علما قایم دی

کله چی راوی پدی طریقه سره حدیث بیانوی نو وایی به قرات ما قرات کړی دی قری علی فلان وانا اسمع فاقر به په فلانی استاذ باندی حدیث قرات کړی شو ما اوریده او هغه ددی اقرار وکه اخبرنا یا حدثنا قراه علیه او دا ډیر واضح دی

البته که مطلقا دی لره روایت کړی نو د مالک بخاری یحی بن سعید القطان زهری سفیان بن عیینه او د عام حجازیانو او کوفیانو په نزد جایز ده بلکی بعضی خو پدی حالت کی د سمعت ویل هم جایز ګنړی

احمد بن حنبل نسایی ابن المبارک او یحی بن یحی التمیمی ددی نه منع کړی ده

دریم قول دادی چی اخبرنا ویل جایز دی لیکن حدثنا ندی جایز دا قول شافعی مسلم نسایی او د مشرق جمهورو علماو دی بلکی همدا قول د اکثرو محدثینو څخه نقل دی

او دا هم ویل شوی دی چی ددی په مابین کی د ټولو نه مخکی عبدالله بن وهب فرق کړی وو

ابن الصلاح فرمایی د ابن وهب نه مخکی دا قول د ابن جریج او اوزاعی وو او په عامو محدثینو کی دا قول مشهور دی

**فرع ۱** کله چی د شیخ مخی ته دداسی نسخی څخه قرات کیږی چی هغه ته په یادو یاده وی نو دا ډیره بهتره ده که هغه ته یاده نه وی نو باید قابل اعتماد نسخه په قابل اعتماد لاس کی ورکړی شی

دا صحیح ترین او راجح قول دی

بعضی خلکو ددی نه منع کړی دی او دا ډیر مشکل ده

که د لوستونکی سره صرف یوه قابل اعتماد نسخه وی هم کافی ده

**فرع۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمهورو په نزد دا شرط لګول صحیح ندی چی کله د شیخ مخی ته حدیث قرات کړی شی نو هغه به ورله اقرار ضرور کوی بلکی د هغه سکوت یا د هغی انکار نه کول کافی دی نورو علماو ظاهر یه وغیره دا وایی چی د هغه د زبانی اقرار ضروری دی

شیخ ابو اسحاق شیرازی ابن الصباغ او سلیم همدا قول اختیار کړی دی

ابن الصباغ فرمایی که په ژبی سره اقرار ونکړی نو روایت جایز ندی لیکن عمل کول پری جایز دی

**فرع ۳** ابن وهب او حاکم فرمایی کوم راوی ته چی شیخ په ځانله حالت کی حدیث بیان کړی هغه دی حدثنی وایی او که هغه سره نور ملګری هم وی نو بیا دی حدثنا استعمال کړی که هغه صرف ځانله شیخ ته حدیث ورواوری نو اخبرنی به وایی او که نور ملګری ورسره وی بیا به اخبرنا وایی

ابن الصلاح فرمایی دا ښه بهترینه خبره ده

که شک پیدا شی نو د واحد صیغه به استعمالوی او هغه د ابن الصلاح او بیهقی په نزد حدثنی یا اخبرنی ده

د یحی بن سعید القطان نه روایت دی چی حدثنا یا اخبرنا دی استعمال کړی

خطیب فرمایی ابن وهب چی کومه خبره کړی ده هغه ښه ده لیکن د ټولو علماو په نزد څه ضروری نده

**فرع ۴** کوم راوی چی د شیخ نه د سماع په وخت کی لیکل یا اوریدل کوی د هغه د سماع د صحت باره کی اختلاف دی ابراهیم الحربی ابن عدی او ابو اسحاق الاسفراینی دیته ممنوع ویلی دی او ابو بکر بن اسحاق الصبغی فرمایی دا راوی دی زه حاضر وم استعمال کړی او حدثنا او اخبرنا دی نه استعمالوی موسی بن هارون دیته جایز وایی

ابن المبارک به هغه وخت هم لیکل کول چی کله به ورته حدیث بیانیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو حاتم فرمايي ما د عارم په مخکی حدیث ولیکه او هغه لوستل کول او ما د عمور بن مرزوق مخکی حدیث ولیکه او هغه لوستل کول

اما دارقطني په ځوانی کی د اسماعیل بن الصفار په مجلس کی حاضر شو هغه شاګردانو ته حدیثونه لیکل او دارقطني د هغه نه څه کتابونه نقل کول بعضی حاضرینو دارقطني ته وویل ستا سماع صحیح نده ته خو څه شی لیکی هغه وویل د املا په دوران کی زما او ستاسو فهم یو شان ندی بیا هغوی تپوس وکه شیخ تر وسه څومره احادیث ولیکل هغه وویل اتلس احادیث هغه دا ټول روایات د سند او متن سره هغوی ته په یادو ورواړول نو خلک پدی باندی سخت حیران شول

زه وایم زمونږ استاذ ابو الحجاج المزی به د سماع په مجلس کی لیکل کول او بعضی وخت به ورته پرکاری هم راغله لیکن د قرات کونکی غلطی به یی ډیره په اسانی رانیوله لوستونکی به حیران شو چی زه د بیداری په وخت کی کتاب می لاس کی دی او غلطی کوم او استاذ د خوب د حالت باوجود پد ی کتاب باندی دومره توجه لری دا دالله فضل دی چاته چی وغواړی ورکوی یی

ابن الصلاح فرمایی دغه شان د سماع په مجلس کی احادیث بیانول ( خبری کول ) او که لوستونکی زر زر قرات کوی یا اوریدونکی د لوستونکی څخه جدا ناست وی نو څنګه به وی ؟

بیا هغه دا موقف اختیار کړی دی چی داسی معمولی خبری معاف دی که هغه د لیکلو سره سره څه چی قرات کیږی په هغی پوهیږی نو سماع صحیح ده

او بهتره داده چی هغه دا ټول احادیث بطور اجازت بیان کړی

زه وایم زمونږ په زمانه کی همداسی کیږی د سماع په مجلس کی د پوهی والا او نه پوهیدونکی د قاری نه جدا خوب کونکی د خبرو کونکی او داسی ماشومان حاضریږی چی په هغوی کنټرول کول مشکل وی بلکی عام طور سره هغوی لوبی کوی او صرف په سماع باندی ځان نه مشغولوی

ددی ټولو لپاره به زمونږ د شیخ ابو الحجاج المزی په مجلس کی سماع لیکل کیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته د قاضی تقی الدین سلیمان المقدسی خبره رارسیدلی ده چی د هغه په مجلس کی ماشومان د لوبو نه منع کړی شو نو هغه وفرمایل دوی مه منع کوی مونږ هم ددوی پشان احادیث اوریدلی وو

مشهور امام عبدالرحمان بن مهدی نه روایت دی چی هغه فرمایی ستا لپاره د حدیث بویه کول کافی دی

داسی خبره نورو ډیرو محدثینو کړی ده

په بغداد او نورو ښارونو کی به مجلسونه منعقد کیدل نو خلک به د زرګونو په تعدا د کی حاضریدل مستملی ( د شیخ احادیث په خلکو قرات کونکی ) به اوچت ځایونو ته ختل مشایخو چی به ورته څه لیکل هغه به یی خلکو ته رسول خلکو به د هغوی څخه احادیث اوریدل بیا به یی بیانول حالانکه ددی سره سره به پدی مجالسو کی فضول خبری او شور کیده

اعمش فرمایی چی هغه د ابراهیم نخعی په حلقه کی وو کله چی به یی څه خبره صحیح طریقی سره وانه وریدله نو د ملګری نه به یی تپوس کولو

زه وایم چی داسی خبری د عقبه بن عامر او جابر بن سمره وغیره په بعضو احادیثو کی واقع شوی دی

او همدا د خلکو لپاره ډیر مناسب ده اګر که بعضی علماو پدی کی د احتیاط او تشدد څخه کار اغستی دی او همدا قیاس دی

<u>**فرع ۵**</u> د پردی نه شاته حدیث اوریدل جایز دی لکه پدی طریقی سره تابعینو د امهات المومنین څخه روایت اغستی وو

بعضی علماو ددی حدیث نه استدلال کړی دی تر دی چی ابن ام مکتوم اذان وکړی

بعضو د شعبه نه نقل کړی دی چی که داسی کس تاسو ته حدیث بیان کړی چی تاسو یی نه وینی نو د هغه نه روایت نه کوی کیدای شی چی شیطان یو شکل اختیار کړی وی او تاسو ته حدثنا او اخبرنا بیانوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډیر عجیب او غریب قول دی

**فرع ۶** کله چی استاذ یو شاګرد ته حدیث بیان کړی او بیا ووایی زما څخه دا حدیث مه بیانوه یا ما تاته د حدیث بیانولو نه رجوع وکړه یا داسی نور الفاظ استعمال کړی او د ضد نه علاوه د ممانعت څه وجه بیان نکړی یا بعضی شاګردانو ته د حدیث بیانولو په وخت د بعضو تخصیص وکړی لکه ووایی زه فلانی ته اجازت نه ورکوم چی زما نه حدیث بیان کړی

دا ټولی خبری د هغه څخه په روایت کولو کی هیڅ رکاوټ ندی او د هغه ممانعت لره هیڅ اعتبار نشته

پداسی حالت کی نسایی د خپل شیخ حارث بن مسکین څخه روایتونه بیان کړی دی او شیخ ابو اسحاق الاسفراینی ددی د جواز فتوی ورکړی ده

## دریم اجازت

پدی سره روایت کول د جمهورو په نزد جایز دی او قاضی ابو الولید الباجی پدی باندی د اجماع دعوی کړی ده

ابن الصلاح دا دعوی پدی سره ماته کړی ده چی ربیع بن سلیمان د امام شافعی څخه روایت کړی دی چی هغه ددی نه منع کړی ده

ماوردی همدا فیصله کړی ده او دا یی د شافعی طرفته منسوب کړی ده

دغه شان قاضی حسن بن محمد المروروذی صاحب التعلیقه ددینه منع کړی د ه

دی دواړو ویلی دی که چیرته روایت بالاجازه جایز شی نو د حدیث حاصلولو لپاره سفر کول به باطل شی

همدا قول د امام شعبه بن الحجاج او نورو ایمه وو څخه نقل دی

ابراهیم الحربی ابو الشیخ عبدالله بن محمد بن جعفر الاصبهانی او ابو نصر الوایلی اجازت ته باطل ویلی دی او سجزی همدا قول د خپلو استاذانو د یو جماعت څخه نقل کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا اجازت په څو قسمه دی

۱ د یو متعین استاذ د یو متعین شی باره کی یو متعین شاګر د ته اجازت ورکول مثلا داسی ووایی ما تاته دا اجازت درکړی چی ته زما نه دا کتاب یا دا کتابونه روایت کړه

دیته مناوله هم وایی او د جمهورو علماو تر دی چی د اهل ظواهرو په نزد دا جایز ده لیکن هغوی پدی باندی د عمل کولو باره کی اختلاف کړی دی پدیکښ چونکه سماع متصل نده نو هغوی دا د مرسل پشان ګنړی

۲ د یو متعین محدث د یو غیر متعین شی باره کی اجازت ورکول لکه هغه وایی ما تاته دا اجازت درکړی چی ته زما نه زما احادیث بیان کړی یا ستا په نزد چی زما کوم روایات یا کتابونه ثابت وی هغه بیانولی شی

دیته هم جمهور علماو د روایت او عمل په لحاظ سره صحیح ویلی ده

۳ د غیر معین لپاره اجازت مثلا دا ووایی ما ټولو مسلمانانو ته اجازت ورکړی چی زما نه روایت وکړی یا تمام موجود خلکو ته یا هر څوک چی لااله الا الله وایی هغه ته می اجازت ورکړی دی دیته اجازت عامه وایی

بعضی علماو دیته جایز ویلی دی خطیب بغدادی او د هغه استاذ قاضی ابو الطیب الطبری هم دیته جایز ویلی دی

دا قول ابو بکر الحازمی د خپل شیخ ابو العلا الهمدانی او مغربی محدثینو څخه نقل کړی دی

البته د مجهول اجازت یا په مجهول شی باندی اجازت نو دا فاسد دی او ددی څخه هغه اجازت ندی چی یو محدث یی خاص جماعت ته ورکوی د کوم اسباب او تعداد چی هغه ته نه وی معلوم ځکه دا خو جایز او مشهور دی لکه څنګه چی د حدیث بیانونکی ته د مجلس د حاضرینو نسبونه او تعداد معلوم نه وی

او که محدث ووایی ما ددی کتاب د روایت کولو اجازت هغه چاته ورکړی دی چی زما نه روایت کول خوښ ګنړی نو دیته ابو الفتح محمد بن الحسین الازدی ممنوع ویلی دی او نورو علماو ورته جایز ابن الصلاح دیته قوی ویلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رنګه که هغه ووايي ما تاته ستا اولاد او ستا نسل ستا څخه وروسته ټولو خلکو ته ددی کتاب د روايت کولو اجازت درکړی دی

یا یا زما لپاره چی کوم روایت جایز دی د هغی اجازت می درکړی دی نو یو جماعت د علماو دیته جایز ویلی دی ددوی څخه ابو بکر بن ابی داود السجستانی دی هغه یو کس ته ویلی وو

ما تاته ستا اولاد ته او ستا څخه چی کوم نسل پیدا کیدونکی دی ټولو ته اجازت ورکړی دی

یا دا ووایی چی د فلانی قبیلی څخه چی کوم خلک موجود دی یا راتلونکی دی هغی ته می اجازت ورکړی

نو خطیب ددی جواز د قاضی ابو یعلی ابن الفرا الحنبلی ابو الفضل بن عمروس المالکی څخه نقل کړی دی

او ابن الصباغ د یو جماعت څخه نقل کړی دی او دیته یی ضعیف ویلی دی هغه فرمایی دا پدی مبنی دی چی اجازت اذن یا محادثه ده

دغه شان ابن الصلاح هم دیته ضعیف ویلی دی

هغه د هغه وړوکی ماشوم چی هغه سره خبری نشی کیدای د هغه د اجازت ذکر هم کړی دی

خطیب فرمایی ما قاضی ابو طیب ته وویل چی زمونږ بعضی ملګری وایی چی صرف د هغه چا اجازت صحیح دی چی سماع یی صحیح وی ؟نو هغه وویل غایب کس ته هم اجازت ورکول کیږی حالانکه د هغه سماع صحیح نه وی بیا خطیب د ماشوم اجازت ته صحیح ویلی او فرمایلی یی دی مونږ خپل استاذان پدی لیدلی دی چی هغوی به د بچو نه د عمرونو تپوس نه کوو بلکی همداسی به یی اجازت ورکوو او مونږ هغوی ندی لیدلی چی داسی کس ته یی اجازت ورکړی وی چی هلته په موقع موجود نه وی

که هغه ووایی زه تاته د هغه احادیثو اجازت درکوم چی تا زما نه ښه طریقی سره اوردیدلی دی او د هغی هم چی زه یی تاته بیان کړم پدی کی اولنی بهتر او دویم فاسد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن الصلاح ددی دویم لپاره ددلیل پیدا کولو کوشش کړی چی اجازت هم د وکالت په شان یو اذن دی

لهذا که هغه ووایی زه چی د څه شی مالک ګرځم د هغی د خرڅولو اجازت تاته درکوم

پدی کښ اختلاف دی

البته د هغه راوی د یو شی باره کی اجازت چی هغه ته خپله د اجازت په طریقه حاصل شوی د ی نو جمهورو دیته جایز ویلی دی اګر که هر څومره اجازتونه وی ( یو د بل د پاسه ) دارقطنی د هغه استاذ ابو العباس بن عقده حافظ ابو نعیم الاصبهانی او خطیب وغیره علماو دیته جایز ویلی دی

ابن الصلاح فرمایی ددینه بعضی هغی متاخرینو منع کړی چی په علماو کی یی څوک نه حسابوی

صحیح داده چی پدی عمل جایز او علماو ددی تشبیه د وکیل مقررولو سره ورکړی ده

## څلورم مناوله

که ددی سره اجازت هم حاصل وی لکه خپل یو کتاب کوم طالب العلم ته ورکړی او ورته ووایی دا زما څخه روایت کړه دا کتاب ورته هبه کړی یا یی عاریتا ورکړی چی هغه دی تری نقل کړی بیا دی واپس کړی یا طالب علم د استاذ کتاب راوړی استاذ هغه په غور سره وګوری او ووایی دا زما څخه روایت کړه دیته عرض المناوله وایی

حاکم نیسابوری فرمایی د بعضی متقدمینو په نزد دا د سماع قایم مقام دی

هغه دا قول د اهل مدینه څخه د امام مالک زهری ربیعه یحی بن سعید الانصاری د اهل مکه څخه د مجاهد ابو الزبیر او سفیان بن عیینه او د اهل کوفه څخهد علقمه ابراهیم النخعی او شعبی د اهل بصره څخه د قتاده ابو العالیه او ابو المتوکل الناجی د اهل مصر څخه د عبدالله بن وهب عبدالرحمان بن القاسم او اشهب نه د اهل شام او اهل عراق او د خپلو استاذانو د یو جماعت څخه دا نقل کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمایی هغه په خپل کلام کی عرض مناوله د عرض قرات سره خلط ملط کړی دی بیا حاکم فرمایی جمهور فقها چی د حلال او حرام باره کی به یی فتوی ورکولی هغوی دیته د سماع درجه نده ورکړی او همدا قول د شافعی ابو حنیفه احمد اسحاق راهویه ثوری اوزاعی ابن المبارک یحی بن یحی بویطی او مزنی دی زمونږ ټول ایمه کرام پدی باندی ولاړ دی مونږ هغوی پدی قول باندی لیدلی دی او مونږ هم ددی قایل یو

که شیخ هغه ته کتاب هبه یا عاریتا ورنکړی نو دا د مذکوره درجی نه لاندی دی بلکی بعضی دا وایی چی پدی کښی هیڅ فایده نشته دا خو صرف اجازت دی

زه وایم که کتاب د صحیح بخاری مسلم یا نورو مشهور کتابونو پشان مشهور وی نو دا داسی ده چی ګویا کی دا خپل کتاب د هغه په ملکیت یا عاریتا ورکړی

که د اجازت نه بغیر صرف مناوله وی نو مشهور داده چی پدی سره روایت جایز ندی خطیب د بعضو نه ددی جواز نقل کړی دی

ابن الصلاح فرمایی که شیخ ووایی چی دا د هغه سماع ده یعنی هغه اوریدلی دی نو بعضی علما صرف پدی وجه روایت ته جایز وایی

د اجازت والا روایت کی راوی انبانا وایی او که هغه انبانا اجازه ووایی نو ډیره ښه ده

د متقدمینو د جماعت په نزد انبانا او حدثنا ویل جایز دی

د یو جماعت قول مخکی ذکر شو چی که د مناوله سره اجازت وی نو دا د سماع قایم مقام ده نو دا خلک بغیر د څه اشکال نه د حدثنا او اخبرنا اجازت ورکوی

د مخکی او وسنی زمانی د محدثینو په نزد حدثنا او اخبرنا د اجازت د قید نه بغیر استعمالول جایز نه دی اوزاعی به د اجازت لپاره خاص لفظ خبرنا استعمالوو

## پینځم مکاتبه

که یو راوی خپل حدیثونه ولیکی او چا ته یی ولیږی دیته مکاتبه وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او که ددی سره اجازت هم ورکړی نو دا د مناوله قایم مقام دی کومی سره چی اجازت و ی

که ددی سره اجازت نه وی نو ایوب منصور لیث او ډیرو شوافعو فقهاو او د اصولو علماو دیته جایز ویلی دی او همدا مشهور مسلک دی هغوی دا د مجرد اجازت نه قوی ګنړی

ماوردی دیته ممنوع وایی

لیث ابن سعد او منصور په مکاتبه کی اخبرنا او حدثنا ویل جایز ګنړی

حالانکه بهتر او مناسبه داده چی پدی کی د مکاتبت صراحت وشی

## شپږم اعلام الشیخ د شیخ اطلاع ورکول

که شیخ یو راوی ته ووایی چی هغه دا کتاب د فلانی نه اوریدلی دی لیکن د روایت کولو اجازت ورته ورنکړی نو دیته اعلام الشیخ وایی

صرف پدی سره روایت کول بعضو فقهاو لکه ابن جریج جایز ګنړلی دی

ابن الصباغ او متاخرینو هم دا مسلک اختیار کړی دی

تر دی چی بعضی ظاهری علماو ویلی دی که استاذ هغه ته د سماع باره کی ووایی او د روایت څخه یی منع کړی بیا هم د شاګرد لپاره روایت کول جایز دی

دا داسی ده چی شیخ په خپله ژبه یو حدیث بیان کړی او بیا د هغی د روایت کولو څخه شاګرد منع کړی نو هغه لره د هغی بیانول جایز دی

## وم وصیت

وصیت دیته وایی چی یو کس د چا لپاره د خپل کتاب باره کی وصیت وکړی ګویا کی هغه د یو کس لپاره روایت بیانوی

بعضی سلفو هغی کس ته ددی د روایت کولو اجازت ورکړی کوم ته چی د کتاب باره کی وصیت شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ددی تشبیه د مناوله او د روایت د اطلاع سره ورکړی ده

ابن الصلاح فرمایی دا ډیره بعیده خبره ده دا د عالم یا متاول غلطی ده مګر که هغوی ددی څخه د وجادت والا روایت مراد اغستی وی

## اتم وجاده

ددی صورت دادی چی یو راوی د چا په لاس لیکلی شوی حدیث یا کتاب مونده کړی د هغه لپاره جایز ده چی د حکایت په طور هغه نقل کړی او ووایی مونږ د فلانی کس په خط سره دا روایت موندلی دی چی هغه فرمایی ماته دا حدیث فلانی بیان کړی دی ...

او د اخیر پوری متن او سند بیان کړی

دا قسم احادیث په مسند احمد کی په کثرت سره موجود دی د امام احمد ځوی عبدالله وایی ما د خپل پلار په خط سره یو حدیث مونده کړ چی مونږ ته فلانی حدیث بیان کړی دی او بیا به هغه دا حدیث خلکو ته بیانوو

ددی راوی لپاره دا هم جایز ده چی ووایی فلانی وویل پدی شرط سره چی تدلیس به پکښ نه وی چی په هغی سره د ملاقات وهم پیدا شی

ابن الصلاح فرمایی بعضی خلکو دا زیاتی کړی دی چی پدی حالت کی یی مطلقا د حدثنا او اخبرنا استعمال جایز ګڼړلی دی چی د هغی په وجه پدوی باندی تنقید شوی دی

که یو کس د خپل شیخ د خط نه بغیر د هغه په کتابونو کی څه نسخه مونده کړی نو وایی دی فلانی ذکر کړی دی فلانی ویلی دی یا ماته د فلانی له طرفه دا روایت رارسیدلی دی دا د هغه کتاب باره کی دی چی دا ثابت نه وی چی د شیخ کتاب دی یا د شیخ د کتاب سره د هغی مقارنه نه وی شوی

زه وایم وجادت د روایت د باب څخه ندی دا خو د هغه حکایت دی چی هغه په کتاب کی دا حدیث لیکلی شوی موندلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته پدی باندی عمل نو ډیرو فقهاو او محدثینو ددی نه منع کړی ده لکه بعضی علماو د هغوی ځخه نقل کړی دی

د شافعی او د هغی د اتباعو ځخه پدی باندی د عمل جواز نقل دی

ابن الصلاح فرمایی بعضی محققینو شوافعو په اصولو کی پدی باندی عمل کول واجب ګرځولی دی کله چی پدی اعتماد حاصل شی

ابن الصلاح فرمایی پدی وروستنی زمانه کی ددی نه علاوه بله لاره نشته ځکه پدی زمانه کی د روایت شرطونه ناممکن الوجود دی

یعنی صرف د وجادت پاتی شوی دی

زه وایم د نبی علیه السلام ځخه روایت دی هغه فرمایلی دی په خلکو کی ستاسو د چا ایمان خوښ دی صحابه و وویل د فریشتو ایمان هغه وفرمایل هغوی به ولی ایمان نه راوړی هغوی خو د خپل رب په خواکی دی نو صحابه وو د پیغمبرانو د ایمان ذکر وکړ نبی علیه السلام وفرمایل هغوی به ولی ایمان نه راوړی په هغوی خو وحی نازلیږی صحابه وو وویل نو بیا مونږ مراد یو نبی علیه السلام وفرمایل

تاسو به ولی ایمان نه رواړی چی زه پتاسو کی موجود یم

صحابه وو وویل نو بیا ددی نه مراد ځوک دی ؟هغه وفرمایل ستاسو نه پس به داسی خلک راشی چی لیکل شوی کتابونه په موندی او هغی باندی به ایمان راوړی رواه الحسن بن عرفة: حدثنا إسماعيل بن عياش الحمصي عن المغيرة بن قيس التميمي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده مرفوعا. رواه عنه إسماعيل بن محمد الصفار في " جزئه " (90 / 2 مجموع 22) وكذا البيهقي في " الدلائل " (ج 2) والخطيب في " شرف أصحاب الحديث " (26 / 2) وطراد أبو الفوارس في " ما أملاه يوم الجمعة 14 شعبان سنة 478 "دا حدیث په ټولو سندونو سره ضعیف دی اسماعیل بن عیاش او مغیره بن قیس دواړه ضعیف راویان دی

مونږ دا حدیث د سند او متن سره د صحیح بخاری په شرح کی ذکر کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی حدیث نه معلومیږی چی د سابقه کتابونو د مجرد وجادت سره موندل او په هغی باندی عمل کول صحیح دی

## ۲۵ پیځویشتم قسم : د حدیث لیکل د هغی په یادو یادول او اندارج

په صحیح مسلم کی د ابو سعید خدری رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چا چی د قران نه علاوه زما څخه بل شی ولیکه نو هغه دی وران کړی

ابن الصلاح فرمایی عمر ابن مسعود زید بن ثابت ابو موسی او ابو سعید خدری او دتابعینو څخه د لیکلو کراهت مروی دی علی حسن بن علی انس او عبدالله بن عمرو بن العاص وغیره صحابه او د بعضی تابعینو نه ددی جواز نقل دی

زه وایم په بخاری او مسلم کی ثابت دی چی نبی علیه السلام فرمایی د ابو شاه لپاره زما خطبه ولیکی

ددی تفصیل مونږ د خپل کتاب المقدمات په شروع کی ذکر کړی دی

بیهقی او ابن الصلاح فرمایی کیدای شی دا ممانعت هغه وخت وو چی د قران سره د حدیث ګډوډ والی راته کله چی ددی خبری خوف ختم شو نو بیا اجازت ورکړی شو

علمای کرامو په وروسته زمانه کی د حدیث لیکلو باره کی اجماع نقل کړی ده او همدا موقف بغیر د څه انکار نه جاری او ساری دی

کله چی دا خبره ثابته شوه نو د حدیث او نورو علمونو لیکونکی له پکار دی چی په اصل کی په طالب علمانو وغیره باندی د مشکل الفاظو نقطه اشکال او اعراب واچوی او بهتره به داوی چی په حاشیه یی ولیکی

خط دی باید واضح او صفا وی د عذر نه بغیر واړه واړه لیکل او حروف د یو بل سره خلط ملط کول مکروه دی امام احمد خپل تره ځوی حنبل بن اسحاق ولیده چی وړوکی خط یی لیکه هغه وفرمایل داسی مه کوه یوه ورځ به ته دیته ضرورت لری بیا به هیڅ فایده درنکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمایی د هر دوه احادیثو مابین کی ګول دایره ایستل پکار دی دا خبره مونږ ته د ابو الزناد احمد بن حنبل ابراهیم الحربی او ابن جریر څخه رارسیدلی ده

زه وایم ما دا خبره د امام احمد په خط سره لیدلی ده خطیب فرمایی دایره به خالی پریږدی بیا چی کله د هغی مراجعه وکړی په دایره کی به نقطه کوی

ابن الصلاح فرمایی عبدالله بن فلان داسی لیکل چی د یو سطر په اخیر کی عبد او د بل سطر په شروع کی الله داسی لیکل مکروه دی بلکی عبدالله په یوه کرخه کی یو ځای لیکل پکار دی

هغه فرمایی د الله د تعریف او په نبی علیه السلام باندی ددرود اهتمام لازمی دی

که دا بار بار هم وی نو په لیکلو یی ستړی کیدل ندی پکار ځکه پدی کی ډیر اجر او ثواب دی

هغه فرمایی د امام احمد وغیره په لیکلو کی چی کوم ځای درود نشته نو د هغی مطلب دادی چی هغه چی څنګه اوریدلی هغسی یی لیکلی

خطیب فرمایی ماته پته لګیدلی ده چی امام احمد به په ژبه سره درود لوسته او لیکه به یی نه

ابن الصلاح فرمایی درود او سلام باید مکمل ولیکلی شی نه کم او نه په اشاری کی لیکل او صرف په علیه السلام باندی اکتفا کول ندی پکار بلکی په مکمل او واضح طور سره صلی الله علیه وسلم لیکل پکار دی

هغه فرمایی د خپل اصل کتاب د بل قابل اعتماد کتاب سره باید مقارنه وشی پخپله هم او د بل راوی سره هم چی قابل اعتماد حافظ وی

بعضی خلک تشدد کوی هغوی وایی صرف پخپله به ځانله ددوه کتابونو مقارنه کوی حالانکه دا خبره غلطه ده

شیخ ابن الصلاح دلته په تخریج تضبیب نه پس د لفظ نه پس ص یا ض وغیره لیکل تصحیح وغیره عام او خاص اصطلاحاتو متعلقه امورو باندی ډیر تفصیل سره کلام کړی دی هغه ددوه سندونو مابین کی په ح مهمله باندی کلام کړی دی چی دا د تحویل یا الحدیث نه ماخوذ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وایم بعضی خلکو ته دا وهم شوی چی دا خ معجمه ده یعنی دویم سند اوله خبره ډیره مشهوره ده او بعضی علماو پدی اجماع هم ذکر کړی ده

## ۲۶ شپږویشتم قسم د حدیث د روایت کولو صفت

ابن الصلاح فرمایی یو قوم په روایت کی تشدد کړی دی په هغوی کی بعضو دا شرط لګولی چی روایت به د راوی د حفظ یا مذاکری څخه وی هغه دا قول د مالک ابو حنیفه ابو بکر الصیدلانی نه نقل کړی دی

د جمهورو په نزد دومره کافی ده چی د اوریدلی شوی حدیث باره کی د راوی سماع ثابت وی

که دا د بل چا په خط سره وی یا نسخه ورکه شی نو که غالب ګمان وی چی تبدیلی پکښ نده شوی ( نو روایت کول یی جایز دی )

بعضی علماو دداسی نسخو باره کی صرف د طالب علم په قول چی دا د استاذ د روایت څخه دی پدی اعتماد کړیدی دا اعتماد یی د نسخه کتلو او د سماع باره کی لټون نه بغیر کړیدی او د روایت اجازت یی ورکړی دی دا د هغه نسخو باره کی چی تقابل یی تروسه ندی شوی

ابن الصلاح فرمایی داسی خلک امام حاکم په مجروح راویانو کی حساب کړیدی

اولنی فرع خطیب بغدادی فرمایی د ړوند او هغه کتونکی ان پړ راوی نه د سماع د بل چا په خط یا قول سره ثابته شی نو دده څخه در وایت باره کی اختلاف دی بعضی علماو دده در وایت نه منع کړی ده او بعضو ورته جایز ویلی دی

دویم فرع کله چی یو راوی د شیخ نه د صحیح بخاری پشان کتاب روایت کړی بیا داسی نسخه پیدا کړی چی د هغی مقابله یی د خپل شیخ د اصل سره نه وی کړی یا ورسره د هغی د سماع باره کی ثبوت نه وی لیکن د هغی په صحت باندی یی زړه مطمین وی نو خطیب د عامو محدثینو څخه نقل کړی چی هغوی ددی د روایت نه منع کړی ده او دا قول د شخی ابن الصباغ هم دی ایوب او محمد بن بکر البرسانی نه ددی اجازت نقل دی زه وایم زه هم ددی قایل یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ تقی الدین ابن الصلاح دی باره کی درمیانه لاره اختیار کړی چی که د هغه استاذ هغه ته اجازت ورکړی وو نو د هغی روایت جایز دی او حال همداسی دی

دریمه فرع که د حافظ په حافظی او د هغه په کتاب کی اختلاف راشی نو که د حفظ په وخت د هغه اعتماد په کتاب باندی وو د کتاب طرفته به رجوع کولی شی او که اعتماد یی په بل محدث باندی وو نو بیا به په حافظی اعتماد کوی

او بهتره داده چی هغه په کتاب کی دی باره کی تنبیه وکړی لکه د شعبه نه مروی دی

او دغه شان که چیرته نور محدثین دده مخالفت کوی نو دادی هم د روایت کولو په وخت ووایی لکه سفیان ثور ی دا کار کړی وو

څلورم فرع که راوی په کوم کتاب کی خپله سماع په خط یا د یو قابل اعتماد کس په خط سره پیدا کړی لیکن ورته یاد نه وی چی دا زما سماع ده که نه نو ابو حنیفه او بعضی شوافع وایی دده لپاره ددی روایت کول جایز ندی او عام مذهب شافعی د جواز قایل دی

محمد بن الحسن او ابو یوسف هم ددی قایل دی

پد ی کی باید په غالب گمان اعتماد وشی ځکه د حدیث لپاره د سماع یاد لرل شرط ندی دغه شان د داصل کتاب لپاره هم د سماع یاد ساتل ضروری ندی

زه وایم دا ددی مسالی مشابه ده چی کله د راوی نه خپله سماع هیره شی نو هغه چی د چا نه واوری د هغه روایت جایز دی د هغه نسیان مضر ندی

## پینځم فرع په معنی سره د حدیث روایت

که راوی د حدیث په معانو عالم نه وی نو په اتفاق سره د هغه روایت جایز ندی

که هغه ددی عالم وی په هغه الفاظو چی حدیث پری دلالت کوی او د مترادف الفاظو وغیره بصیرت ورسره وی نو جمهور سلفو او خلفو د ده روایت کول جایز گڼړی او پدی باندی عمل دی لکه په صحیح احادیثو کی دا ملاحظه شوی دی یوه واقعه په مختلفو الفاظو او سندونو سره روایت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چونکه ددی په وجه بعضی احادیث د متن په لحاظ سره بدلیږی ددی په وجه بعضی محدثینو فقهاو او د علم اصول ماهرینو د روایت بالمعنی څخه منع کړی ده او هغوی دی باره کی ډیره سختی کړی ده

پکار خو داوه چی همدا مذهب اختیار کړی شی لیکن پدی اتفاق ونکړی شو

ابن مسعود ابو الدردا او انس چی به کله حدیث بیانوو نو ویل به یی یا ددی پشان ددی مشابه دی ته نژدی ( نبی علیه السلام فرمایل دی )

## شپږم فرع ایا حدیث مختصرول د هغی بعضی حصه حذف کول پدی شرط سره چی د مخکی سره یی لازمی تعلق نه وی جایز دی که نه؟ دی باره کی دوه اقوال دی

اما بخاری طریقه دا وه چی اکثر ځاینو کی به یی حدیث مختصروو مګر امام مسلم به حدیث نه کټ کوو بلکی پوره به یی بیانوو دی وجی نه د مغرب ډیرو محدثینو د امام مسلم طریقی ته ترجیح ورکړی د صحیح بخاری په نسبت د اسانی په وجه هغوی د بخاری ډیر شروحات لیکلی دی

امام بخاری خو د ضرورت د وجی یو حدیث په مختلف مقاماتو کی خپروی

د مخکنی او وسنی زمانی جمهور علماو دا مذهب اختیار کړی چی د حدیث مختصرول جایز دی ابن الحاجب په خپل کتاب المختصر کی لیکلی دی

د اکثرو په نزد د حدیث بعضی حصه حذفول جایز دی مګر که د حدیث په محذوف حصه کی انتها یا استثنا وغیره موجود وی

که په متن یا سند کی د زیادت باره کی شک شی نو حذف کول یی جایز دی

په عام طور سره پدی باندی عمل دی امام مالک به داحتیاط د وجی دا کار ډیر زیات کوو بلکی کله چی به هغه ته د سند د موصول والی باره کی شک وو نو سند به یی هم کټ کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد فرمایی حدیث کم کړی مګر هغی کی زیادت مه کوی

## وم فرع ۷ د حدیث طالب علم باید د عربی ژبی باندی پوهه وی

اصمعی فرمایی زه ویریږم که هغه په عربی نه پوهیږی نو د نبی علیه السلام پدی قول کی به داخل شی چا چی د قصده په ما باندی دروغ جوړ کړل نو په جهنم کی دی ځان له ځای تیار کړی

ځکه نبی علیه السلام به په ژبه ویلو کی لحن نه کوو

البته د تصحیف علاج دادی چی د ماهر استاذانو نه علم حاصل کړی شی او الله تعالی بنده ته توفیق ورکوی

که د استاذ نه غلط وشی نو اوریدونکی باید په صحیح طریقی سره روایت وکړی دا خبره د اوزاعی ابن المبارک او جمهورو څخه مروی ده

د محمد بن سیرین او ابو معمر عبدالله بن سخبره نه روایت دی چی هغوی فرمایی لکه څنګه چی یی د استاذ نه غلط اوریدلی دی دغه شان غلط دی بیان کړی

ابن الصلاح فرمایی دا د الفاظو په تابعداری کی غلو والا مذهب دی

قاضی عیاض فرمایی د عامو شیخو پدی باندی عمل جاری دی چی څنګه هغوی ته حدیث بیان شوی هغسی دی مخکی بیان کړی هغوی به په خپلو کتابونو کی پدی کی تبدیلی نه کوله تر دی چی د قران په قراتونو کی به هم دهغوی دا عمل وو

د عام تلاوت برخلاف د هغوی روایت جاری وی مګر که هغه شاذ وی لکه په بخاری او مسلم او موطا کی دا قسم موجود دی لیکن د حدیث علما د سماع او په حواشی وکی دی باره کی تنبیه کوی

بعضی خلک په کتابونو کی د تبدیلی او اصلاح جرات کوی لکه ابو الولید هشام بن احمد د ډیری مطالعی او په فنونو کی د مهارت په وجه دا کار کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمایی هغه ته په ډیرو شیانو کی غلطی لګیدلی وه او دغه شان غلطی د هغه په نقش قدم باندی تلونکو ته لګیږی بهتره داده چی د تبدیلی او اصلاح دورازه بنده کړی شی تر دی چی څوک ماهر نه وی هغه دا جرات ونکړی او د سماع په وخت دی باره کی تنبیه کول لازم دی

د عبدالله بن احمد بن حنبل نه روایت دی چی د هغه والد به د فاحش غلطی اصلاح کوله او په معمولی غلطی به یی پرواه نکوله

زه وایم بعضی خلک چی د خپلو استاذانو څخه د لحن والا احادیث اوری نو د هغوی نه روایت پریږدی ځکه که هغوی د هغو تابعداری وکړی نو نبی علیه السلام خو به خپل کلام کی لحن نه کوو او که تابعداری یی ونکړی نو دا به دروغ شی ځکه هغوی داسی نه وو اوریدلی

## اتم فرع که یو معلوم شی د متن یا سند نه وغورځی نو د هغی په لیکلو څه حرج نشته دغه شان که د کتاب څه حصه ضایع شی نو په صحیح طریقی سره د هغی اصلاح او تجدید جایز دی

الله تعالی فرمایی او الله ته معلومه ده چی څوک فسادی او څوک اصلاح کونکی دی

نهم فرع کله چی راوی ددوه استاذانو څخه روایت بیان کړی او ددواړو الفاظو کی اختلاف وی نو که هغه ددواړو متن یو ځای کړی نو جایز ده لکه زهری چی د افک والا په حدیث کی کړی و هغه زهری د سعید بن المسیب نه هغه د عروه نه هغه د عایشه نه بیان کړی دی او فرمایلی یی دی دی ټولو ماته د حدیث بعضی بعضی حصه بیان کړیده ما د هغوی روایات په یو بل کی داخل کړل او یو متن می تری جوړ کړ بیا هغه ټول متن بیان کړ دا عمل جایز دی ځکه ددی په قبلولو د ټولو امامانو اتفاق دی هغوی دا روایت په خپلو کتابونو کی روایت کړی دی

راوی باید د هر یو روایت جدا جدا د کمی بیشی او د حدثنا او اخبرنا سره بیان کړی

امام بخاری په خپل کتاب کی ددی خاص خیال ساتلی دی لیکن بخاری عام طور سره دیته خاص توجه نده ورکړی البته په بعضی ځایونو کی یی ددی خیال ساتلی دی لیکن نادرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم فرع د خپل طرفنه د راوی په نسب کی اضافه جایز ده لیکن شرط دادی چی تصریح به یی کوی

امام احمد او جمهو رمحدثین ددی قایل دی

## یوولسم فرع د محدثینو دا عادت دی چی کله قرات کوی نو وایی ماته فلانی خبر راکړی هغه وایی ماته فلانی خبر راکړی....

بعضی محدثینو به د لیکلو په وخت د قال کلمه حذف کوله او د اکثرو په نزد یی لیکل بهتر دی کوم احادیث چی په یو سند سره وی مثلا عبدالرزاق عن معمر عن همام عن ابی هریره د سند والا نسخه محمد بن عمرو عن ابی سلمه عن ابی هریره والانسخه عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده والانسخه بهز بن حکیم عن ابیه عن جده والا نسخه داسی نوری نسخی نو د راوی لپاره جایز ده چی د هر حدیث بیانولو په وخت دوباره سند بیان کړی او دا هم جایز ده چی د اولنی حدیث سره سند بیان کړی او د باقی حدیثونو سره ووایی پدی سند سره یا دی سند سره روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ووایی دا هم جایز ده چی هغه چی څنګه اوریدلی وی هغسی دی بیان کړی او د هر حدیث سره سند بیانول هم جایز دی

زه وایم دا معامله انتهای اسانه او هر لحاظ سره جایز ده که متن د سند نه مخکی بیان کړی لکه ووایی نبی علیه السلام داسی فرمایلی دی بیا ووایی اخبرنا او سند یی بیان کړی نو ایا د رواې لپاره جایز دی چی مخکی متن بیا سند بیان کړی دی باره کی اختلاف دی خطیب او ابن الصلاح ذکر کړی دی

زما په نزد ددی جواز بهتر دی

دی وجی نه زمونږ د زمانی محدثین د حدیث روایت کولو نه پس د شیخ سند دوباره وایی ځکه د بعضی خلکو نه څه شی پاتی کیږی نو پدی طریقی سره د هغه د شیخ سره سماع متصله ګرځی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغه لپاره جایز دی چی څنګه وغواړی روایت دی وکړی سند دی مخکی بیان کړی یا وروسته

**دولسم فرع کله چی راوی پخپل سند سره یو حدیث بیان کړی بیا د هغی نه پس دویم سند ذکر کړی او مثل یا نحوه ووایی او دا راوی ثقه حافظ وی نو ایا په دویم سند سره د دغی حدیث متن بیانول جایز دی ؟**

شعبه وایی نه او ثوری وایی هو د هغه نه وکیع دا قول نقل کړی دی

یحی بن معین وایی په مثله والا قول کی دا جایز دی لیکن په نحوه کی جایز ندی

خطیب فرمایی که روایت بالمعنی ته جایز وویل شی نو بیا په نحوه او مثله کی هیڅ فرق نشته او ددی باوجود زه د ابن معین قول اختیاروم

که راوی یو سند بیان کړی او د حدیث بعضی حصه هم ذکر کړی بیا ووایی الحدیث الحدیث بتمامه یا بطوله یا الی اخره لکه دا د عام راویانو عادت دی نو ایا پدی سند سره ټول حدیث روایت کول جایز دی

بعضو ددی اجازت ورکړی او بعضو ترینه منع کړی چی د هغو څخه ابو اسحاق الاسفراینی هم دی

ابو بکر البرقانی د خپل شخی ابو بکر الاسماعیلی څخه دی باره کی پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل که شیخ او شاګرد دواړه حدیث پیژنی نو زه امید لرم چی دا به جایز وی او بهتر داده چی دا فرق واضح بیان کړی شی

ابن الصلاح فرمایی که مونږ دیته جایز ووایو نو باید د شاګرد سره د استاذ له طرفه قوی اجازت موجود وی

زه وایم دی کی باید تفصیل وکړی شی که هغه دا حدیث د خپل استاذ نه پدی مجلس یا بل مجلس کی اوریدلی وی نو روایت جایز دی د کوم بیان چی مخکی شوی وی او سماع ثابت وی نو دا به هغی ته اشاره شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسم فرع د رسول لفظ په نبي او د نبي لفظ په رسول سره بدلول

ابن الصلاح فرمایي ظاهر داده چې دا عمل درست ندی اګر چې روایت بالمعنی جایز دی یعنی ددی دواړو په معنی کې فرق دی

د عبدالله بن احمد څخه نقل دی چې د هغه والد به دی باره کې سختي کوله که په کتاب کې به د نبي لفظ وو او محدث به رسول ولیکه نو هغه به رسول کټ کړ او نبي به یې ولیکه

خطیب فرمایي د هغه دا کار په استحباب محمول دی ځکه د هغه مسلک دادی چې جایز د ی

صالح فرمایي ما د خپل والد نه دی باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وویل زما خیال دی چې دی کې څه باک نشته

یو روایت کې راځي چې د حماد بن سلمه مخکې عفان او بهز دا کار  وکه نو هغه وفرمایل تاسو به هیڅکله فقها نشی

## څوارلسم فرع د مذاکره په حالت کې زده شوی روایت ایا ددی روایت جایز دی

ابن الصلاح د ابن مهدی ابن المبارک او ابوزرعه نه نقل کړی دی چې بطور حدیث دی لره بیانول جایز ندی ځکه پدی کې تساهل راځي او حافظه انسان ته دهوکه ورکوی

ابن الصلاح فرمایي دی وجې نه سترو محدثینو په یادو یاد کړی شوی حدیث د کتاب نه بغیر روایت کول منع کړی چې په هغو کې امام احمد هم شامل دی

ابن الصلاح فرمایي که هغه بطور حدیث بیان کړی نو داسې دی ووایي فلاني دا حدیث مونږ ته په مذاکر ه کې بیان کړ دا دی مطلقا نه بیانوی ورنه دا به د تدلیس د یو قسم مرتکب شي

که یو حدیث ددوه راویانو نه روایت وی نو بهتره داده چې دهغو څخه ثقه ذکر کړی شي او بل وغورځول شي برابره ده که هغه ثقه وی یا ضعیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مسلم به د ابن لهیعه باره کی دا کار کولو  البته امام احمد به هغه نه غورځوو بلکی په هر صورت کی به یی ذکر کوو

## ویشتم قسم د محدث اداب

خطیب بغدادی دی باره کی الجامع لاداب الراوی والسامع مستقل کتاب لیکلی

سابقه اقسامو د اطرافو څخه دی باره کی مهمی خبری تیری شوی دی

ابن خلاد وغیره فرمایی شیخ باید د پنځوس کاله نه پس احادیث بیانول شروع کړی

یو بل عالم ویلی دی د څلویښ کاله نه پس دی حدیثونه بیانول شروع کړی

قاضی عیاض ددینه انکار کړی دی چی ډیرو خلکو د څلویښت نه بلکی دریش کاله نه مخکی حدیثونه بیان کړی دی د هغو څخه انس بن مالک هم دی خلک به دحدیث اوریدلو لپاره په هغه راټلولیدل حالانکه د هغه ډیر استاذانه پدغه وخت کی ژوندی وو

ابن خلاد فرمایی کله چی محدث اتیا کاله ته ورسیږی نو زما په نزد ښه داده چی د اختلاط د یری په وجه احادیث بیانول ترک کړی

خلکو پری دا اعتراض کړی چی صحابه کرامو خو ددی عمر نه پس هم احادیث بیان کړی لکه انس سهل بن سعد عبدالله بن ابی اوفی او نور ډیر خلک وو

بعضی خلکو د سل کاله عمر پوره کیدو نه پس هم احادیث بیان کړی لکه حسن بن عرفه ابوالقاسم البغوی ابو اسحاق الهجیمی او د شوافعو څخه قاضی ابو طیب الطبری

زه وایم نور هم داسی ډیر خلک وو

که د روایت بیانونکی شیخ په خپله حافظه باندی اعتماد وو نو د ډیر عمر نه پس د اختلاط د ویری نه دی د احادیثو بیانولو څخه اجتناب وکړی او که د بل چا په حافظی خط یا ضبط ( مثلا د یو مشهور کتاب په روایت ) باندی یی اعتماد وی نو دی حالت کی چی څومره عمر زیات وی خلک به د هغه نه په اوریدو کی شوق لری لکه زمونږ د شیخ ابو العباس احمد بن ابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب الحجاز سره دا معامله شوی وه هغه یقینا د سلو کالو نه اوړیدلی وو هغه د الزبیدی څخه پ ّ ۶۳۰ کی صحیح بخاری اوریدلی وو او په ۷۳۰ کی یی خلکو ته بیان کړی وو هغه د ډیر عمر یو عامی سړی وو څه ډیر احادیث ورته نه وو یاد او نه یی په ډیرو ظاهرو معانو باندی پوهه درلوده ددی باوجود به د صحیح بخاری اوریدلو لپاره د خلکو یو هجوم دده خواته راته ځکه هغه وخت د زبیدی نه علاوه د هغه څخه بل راوی نه وو د هغه څخه یو لاک نه ډیرو کسانو صحیح بخاری اوریدلی دی

علما وایی محدث باید ښه اخلاق ښه چال چلن او د صحیح نیت حامل وی که د هغه په نیت کی د خیر اراده نه وی بیا دی هم د حدیث بیانول شروع کړی ځکه علم یی دی طرفته راولی بعضی اسلافو ویلی دی مونږ د غیر الله لپاره علم حاصل کړی وو مګر علم انکار وکړ چی هغه به صرف د الله لپاره وی

هغه وایی د عمر او سماع په لحاظ سره د مشر کس په موجودګی کی حدیث بیانول ندی پکار بلکی بعضی خلکو به په هغه ښار کی حدیث بیانول خوښ نه ګڼړل کوم کی چی به د هغوی نه زیات مستحق محدث موجود وو

هغه باید ددغه افضل محدث طرفته خلک دعوت کړی ځکه دین د خیرخواهی نوم دی

هغوی فرمایی هغه له د حدیث مجلس منعقدول لازم دی محدث باید په بهترین حالت کی مجلس ته حاضر شی لکه امام مالک چی به کله د حدیث مجلس ته تشریف راوړه نو اودس به یی کوو او کله کله به یی غسل کولو عطر به یی لګول او بهترین لباس به یی اغوسته

په هغه باندی به وقار او هیبت نظر راته هغه به په ښه مضبوطوالی سره کیناسته او چا چی به اوازونه اوچتول هغه به یی رټه

ددی مجلس افتتاح  د تبرک لپاره په تلاوت سره کول بیا د هغی نه پس په ښه طریقه سره د الله حمد او ثنا او په نبی علیه السلام باندی درود ویل پکار دی

قاری باید د ښه اواز بهترین ادا او فصیح عبارت والا وی هر کله چی د نبی صلی الله علیه وسلم تذکر ه راشی نو په هغه دی درود ووایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطیب فرمایی ددی سره دی خپل اواز اوچت کړی او کله چی د صحابی نوم راشی نو رضی الله عنه دی ووایی

بهتره داده چی د خپل استاذ تعریف هم بیان کړی لکه عطا بن ابی رباح به فرمایل ماته ماته عالم او د علم سمندر دا حدیث بیان کړ

وکیع به فرمایل چی ماته امیر المومنین فی الحدیث سفیان الثوری دا حدیث بیان کړ د هیچا تذکره په خوشی لقب سره یادول ندی پکار البته هغه لقب چی د شهرت په وجه امتیازی نشان ګرځیدلی وی نو هغی کی څه حرج نشته

## اتویشتم قسم د طالب حدیث اداب

څومره چی کیدای شی نیت به  دالله لپاره خالصوی بلکی داسی کول واجب دی دنیا یی باید مقصد نه وی مونږ په خپل کتاب المقدمات کی دی باره کی سخت وعیدونه او ویره ورکونکی دلایل ذکر کړی دی

پخپلی علاقه کی د عالی اسانیدو په اوریدلو کی جلدی پکار ده کله چی دا راټول کړی شی بیا به قریبی علاقو او اعلی ښارونو ته سفر کولی شی دیته رحله وایی

مونږ په المقدمات کی ددی مشروعیت ذکر کړی دی

ابراهیم بن ادهم فرمایی الله ددی امت څخه د اصحاب الحدیث د رحله په وجه مصیبتونه لری کوی

هغوی فرمایی په احادیثو کی چی کوم فضایل ذکر دی د وس مطابق هغی باندی عمل پکار دی

بشر بن الحارث به فرمایل ای اصحاب الحدیث د حدیث زکات ادا کړی د هر دوه سوه احادیثو نه په پینځه و باندی عمل وکړی

عمرو بن قیس الملایی فرمایی  که تاسو ته د نیکی یو شی معلوم وی په هغی عمل وکړی اګر که یو ځل وی ته به د نیکی کونکو څخه شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیع فرمایی که تاسو د حدیث یادول غواړی نو په هغی عمل وکړی

هغوی فرمایی د حدیث اوریدو کی ډیر وخت تیرول او شیخ تنګول ندی پکاری

زهری فرمایی کله چی مجلس اوږد شی نو هغی کی د شیطان حصه وی

نورو طالب علمانو ته علمی فایده بیانول د علم نه پټول ځکه په احادیثو کی ددی ممانعت راغلی دی

هغوی وایی روایت لیکلو یا حاصلولو کی د کم درجی والا کس نه هم شرم ندی پکار وکیع فرمایی یو کس هغی پوری اوچتی مرتبی ته نشی رسیدلی تر څو چی د ځآنه مشر برابر او د ځانه وړوکی کس څخه حدیث ونه لیکی

ابن الصلاح فرمایی هغه کس توفیق والا ندی چی صرف په ډیرو روایاتو او د شهرت لپاره د ډیرو استاذانو څخه په حدیث لیکلو کی وخت ضایع کړی

هغوی فرمایی د ابو حاتم دا قول کله چی لیکل کوی نو د هر چا نه یی وکړه او کله چی حدیث بیان کړی نو تلاش او تحقیق وکړه ددی باب څخه ندی

ابن الصلاح فرمایی بیا طالب علم له صرف بغیر د فهم او معرفت نه د حدیث په سماع اکتفا نده پکار که نه وی نو پدی طریقه به هغه ځان ستړی کړی خو فایده به ورته حاصل نشی

بیا هغه

د مسانیدو او سننو څخه په مفید کتابونو نه د حدیث اوریدلو باندی زور کړی دی

## ۲۹ نهویشتم قسم د عالي او نازل سندونو پيژندنه

ددی امت د خصوصیتونو څخه یو خصوصیت سند دی ځکه ددی امت نه علاوه بل امت د خپل نبی څخه په سند سره احادیث نشی بیانولی لهذا عالی سندونه حاصلول پکار دی امام احمد فرمایی عالی سند د سلف صالحینو سنت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یحی بن معین نه د وفات په وخت پوښتنه وشوه ستا څه خواهش دی هغه وویل خالی کور او عالی سند

ددی وجی نه محقق امامانو او ماهر محدثینو د عالی سند په تلاش کی مختلفو علاقو ته په خوشحالی سره سفر کړی وو

اګر که بعضی جاهل عبادت ګرو د رحلت نه منع کړی ده لکه رامهرمزی په خپل کتاب المحدث الفاصل کی نقل کړی دی بیا دا چی د نازل سند په نسبت عالی سند د خطا او علت نه ډیر پاک وی

بعضی متکلمین وایی سند چی څومره اوږد وی د راویانو حالات او جرح او تعدیل به ډیر وی نو ددی مشقت په وجه به اجر هم ډیر وی

لیکن دا فایده د سابقه فوایدو مقابله نشی کولی

د علو د اقسامو څخه د ټولو نه بهترین هغه دی چی د نبی علیه السلام ته نژدی وی

د کوم امام مصنف یا د سماع تقدم عالی والی د نسبتی امورو څخه دی

موافقت شیخ ابن الصلاح دلته په موافقت باندی هم کلام کړی دی مثلا ( د صحیح مسلم روایت کونکی کس سند د مسلم د استاذ پوری ورسیږی

بدل د خپل استاذ د استاذ یا د هغه په شان بل شیخ ته سند رسیدلو ته بدل وایی

مساوات که ستا سن د مصنف برابر شی نو دیته مساوات وایی

مصافحه که ته یوه درجه د مصنف نه لاندی راشی نو دیته مصافحه وایی ګویا کی تا د هغه سره مصافحه وکړه او د هغه نه دی حدیث واوریده

د خطیب بغدادی په کلام کی دا قسم فنون په کثرت سره موجود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن عساکر دی باره کی په ډیرو جلدونو کی کتاب لیکلی دی زما په نزد د نورو فنونو په مقابله کی دا فن د کمی فایدی والا دی

کومو علماو چی ویلی دی چی عالی سند هغه دی چی صحیح وی اګر که د راویانو عدد ډیر وی نو دا یو خاص اصطلاح ده

دا کس به هغه وخت څه وایی کله چی ډیر دوه صحیح سندونه وی لیکن د یو سند راویان کم وی

دا قول د وزیر نظام ملک او حافظ سلفی نه مروی دی د علو ضد نزول دی دا د عالی په مقابله کی کم فضیلت والا دی مګر که د نازل سند راویان د عالی سند څخه بهتر وی کله چی ټول ثقه وی لکه وکیع خپلو ملګرو ته ویلی وو ستاسو په نزد الاعمش عن ابی وایل عن ابن مسعود والا سند بهتر دی که سفیان عن منصور عن ابراهیم عن علقمه عن ابن مسعود والاسند

هغوی وویل وکیع وویل الاعمش عن ابی وایل خو شیخ عن شیخ دی او سفیان عن ابراهیم عن علقمه عن ابن مسعود فقیه عن فقیه دی

کوم حدیث چی فقها د یو بل نه بیان کړی هغه زما په نزد د شیوخو د بیان کړی شوی حدیث نه بهتر دی

## ۳۰ دیرشتم قسم مشهور

شهرت یو نسبتی معامله ده یو حدیث د محدثینو په نزد مشهور یا متواتر وی لیکن د نورو په نزد نه وی

بیا مشهور متواتر هم کیدای شی او مستفیض هم مستفیض هغی ته وایی چی دری یا ډیر راویان یی روایت کړی

قاضی ماوردی فرمایی مستفیض د متواتر نه ډیر قوی وی دا د هغه خاص اصطلاح ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور حدیث کله صحیح وی لکه الاعمال بالنیات والا حدیث او کله حسن وی د خلکو په مابین کی بعضی داسی احادیث هم مشهوریږی چی هیڅ سند نلری یا موضوع وی او دا ډیر زیات دی

چا چی د ابن الجوزی کتاب الموضوعات کتلی وی هغه پدی باندی ښه پوهیږی

د امام احمد نه روایت دی چی څلور احادیث د خلکو مابین کی په بازارونو کی عام دی چی د هغی هیڅ سند نشته

۱ چا چی ماته د اذار د میاشتی د وتلو خبر راکړو زه به هغه ته د جنت خوشخبری ورکړم

۲ چا چی ذمی ته ضرر ورکړ نو د قیامت په ورځ به زه د هغه دشمن یم

۳ په کومه ورځ چی ستاسو روژه وی په هغه ورځ ستاسو اختر وی

۴ د سایل حق دی چی هغه ته صدقه ورکړی شی اګر که هغه په اس باندی راغلی وی

## ۳۱ یو دیرشم قسم د غریب او عزیز معرفت

غرابت یعنی د حدیث غریب والی کله په متن کی وی چی د هغی په روایت سره یو راوی منفرد وی او کله په بعضی متن کی لکه یو راوی داسی زیاه لفظ بیان کړی چی نور یی نه بیانوی پدی باندی په زیاده الثقه کی کلام تیر شوی دی

غرابت کله په سند کی وی لکه اصل حدیث متن په بل سند یا نورو سندونو سره روایت وی لیکن دا روایت پدی سند سره غریب وی

غریب هغی ته وایی چی یو راوی روایت کړی وی برابره ده که ثقه وی یا ضعیف د هر یو بیا جدا حکم وی

که د یو شیخ نه دوه یا دری راویان روایت وکړی نو دیته عزیز وایی او که د هغه نه یی یو جماعت روایت کړی نو دیته مشهور وایی لکه مخکی ددی تذکره وشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه دیرشتم غریب الحدیث د حدیث د مشکلو الفاظو تشریح

د حدیث فهم د علم او عمل سره د متعلقو مهمو قسمونو څخه دی ددی د علم سند او ددی د متعلقاتو سره هیڅ تعلق نشته

حاکم فرمایی دی باره کی د ټولو نه مخکی نضر بن شمیل کتاب لیکلی دی

یو بل عالم وایی ابو عبیده معمر بن المثنی دی باره کی د ټولو نه مخکی کتاب لیکلی دی

پدی علم کی د ټولو نه بهترین کتاب ابو عبید قاسم بن سلام لیکلی دی

پدی باندی ابن قتیبه ډیر استدراکات کړی دی

دی دواړو باندی بیا خطابی تعقبات او اضافی کړی دی

ابن الانباری او سلیم الرازی هم دی باره کی کتابونه لیکلی دی

ددی ټولو کتابونو مجموعی دوه کتابونه دی الصحاح للجوهری النهایه لابن الاثیر د ټولو نه بهترین کتابونه دی الله تعالی دی په دی دواړو رحمت نازل کړی

## ۳۳ دریدیرشتم قسم د مسلسل پیژنده

مسلسل کله د روایت په صفت کی وی لکه هر راوی سمعت یا حدثنا یا اخبرنا وغیره ووایی یا د راوی په صفت کی وی لکه راوی د روایت په وخت کی هغه خبره وکړی چی استاذ یی کړی وه یا هغه کار وکړی چی استاذ یی کړی وو

بیا حدیث کله د اول نه تر اخره پوری مسلسل وی او کله د هغی اولنی یا اخیرنی حصه کی تسلسل منقطع وی

د مسلسل فایده داده چی دا د تدلیس او انقطاع نه پاک وی

ددی باوجود مسلسل احادیث ډیر کم تعداد کی دی

څلوردیرشتم قسم د ناسخ او منسوخ حدیث پیژندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فن ددی کتاب د خصوصیات څخه ندی بلکی د اصول فقه سره ډیر مشابه دی

خلکو ددی باره کی ډیر مفید کتابونه لیکلی دی په هغی کی د ټولو نه بهترین او مهم کتاب د ابو بکر الحازمی الاعتبار فی بیان الناسخ والمنسوخ من الاثار دی

شافعی رحمه الله ته پدی فن کی ډیر مهارت حاصل وو لکه ددی خبری صراحت د هغه شاګرد امام احمد بن حنبل کړی دی

د ناسخ علم د نبی علیه السلام د حدیث سره وی لکه د نبی علیه السلام ارشاد دی ما تاسو د قبرونو د زیارت څخه منع کړی وی وس د هغی زیارت کوی

د ناسخ علم د تاریخ او سیرت سره هم تعلق لری دا پدی سلسله کی ډیر موید ثابتیږی لکه امام شافعی د افطر الحاجم والمحجوم حجامه لګونکی او کونکی ددواړو روژه ماته شوه دی حدیث باره کی مسلک اختیار کړی چی دا حدیث د فتح مکه په موقع کی د جعفر رضی الله عنه په باره کی وارد وو حالانکه هغه د فتح مکه نه مخکی د موته په جهاد کی وفات شوی وو او د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت نبی علیه السلام حجامه ولګوله او هغه د احرام په حالت کی وو او روژه

ابن عباس خو د خپل پلار سره د فتح مکه په موقع باندی مسلمان شوی وو

البته د صحابی دا قول چی دا ناسخ دی نو د علم اصول ډیرو ماهرینو دا ندی قبول کړی ځکه دا د هغه اجتهاد دی چی د غلطی امکان پکښ شته هغوی د صحابی دا خبره دا ددی نه مخکی وو قبول کړی ځکه هغه د حدیث راوی دی او ثقه راوی دی

## ۳۵ پینځه دیرشتم قسم د حدیث د الفاظو د متن او سند په لحاظ سره معرفت او د تصحیف نه بچ کیدل

پدی کی ډیر علما واقع شوی دی کومو چی صحیح طریقی سره علم حدیث نه وو حاصل کړی او ددی علم د ماهرینو څخه نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکری پدی علم کی یو غټ جلد کتاب لیکلی دی په عام طور سره پدی غلطیانو کی هغه خلک مبتلا دی چی د کتابونو څخه یی علم حاصلوی د هغوی استاذ نه وی چی اصلای یی وکړی بعضی خلک د عثمان بن ابی شیبه باره کی وایی چی هغه ته به د قران په قرات کی غلطی لګیده دا ډیره عجیبه خبره ده ځکه هغه په تفسیر کی کتاب لیکلی دی د هغه طرفته دداسی خبرو نسبت شوی چی د خط زده کونکو ماشومانوڅخه هم نه صادریږی

د بعضی محدثینو څخه داسی خبری صادری شوی چی د هغی په وجه عقل مند له خندا ورځی

لکه یو روایت کی دی چی یو کس د یا ابا عمیر ما فعل النغیر ای ابو عمر ستا مرغی څنګه ده ددی سندونه راټول کړل او بیا یی مجلس ولګوو او د خلکو په مخکی یی وویل یا ابا عمیر ما فعل البعیر ای ابو عمیر ستا اوښ څه وکړل

دی وجی نه هغه ذلیل شو او خلکو دا واقعه په تاریخ کی ولیکله

همداشان یوه ورځ د بغداد په نظامیه مدرسه کی یو استاذ په خپل اولنی مجلس کی دا حدیث بیان کړ د یو مونځ پسی د بل مونځ کولو په وجه په علیین کی یو کتاب لیکلی کیږی ددی په ځای یی وویل کنار فی غلس

کله چی حاضرین پوهه نشو نو یو کس هغی ته وویل چی ستا نه غلطی وشوه او صحیح لفظ کتاب فی علیین دی ددی نور هم ډیر مثالونه شته

ابن الصلاح دلته شیان بیان کړی دی

زمونږ شیخ ابوالحجاج المزی پدی مقام کی د خلکو نه ډیر جدا وو هغه به په ډیره بهترینه طریقی سره سند او متن بیانوو او زمونږ د علم مطابق د ځمکی په مخ د هغه پشان بل څوک نشته کله چی به یو کس هغه ته یو داسی غریب حدیث بیان که چی بعضی شارحین یی د مشهور حدیث د متن او سند خلاف ذکر کوی نو هغه به ویل دا تصحیف دی چی ددی مرتکب صرف د کتابونو څخه علم حاصل کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۳۶ شپږدیرشتم قسم د مختلف الحدیث پیژندنه

امام شافعی دی باره کی پخپل کتاب الام کی د یو جلد برابر فصل لیکلی دی

الام مجلد واحد ص ۱۷۱۴

دغه شان ابن قتیبه دی باره کی یو مفید کتاب لیکلی دی دی کی چی ابن قتیبه سره څومره علم وو د هغی په لحاظ بعضی ردی او فضول شیان هم شته

ددوه حدیثونو په مابین کی د تعارض په صورت کی که تطبیق ونشی نولکه ناسخ او منسوخ نو ناسخ پریخودل او د منسوخ طرفته رجوع کول پکار دی

بعضی وخت جمع او تطبیق ممکن وی لیکن بعضی مجتهدینو ته پته نه وی پدی وخت کی توقف اختیارولی شی تر دی چی د ترجیح کوم صورت ظاهر شی یا بیا مجتهد جرات وکړی او د کوم یو شی باره کی فتوی ورکړی یا کله د یو باره کی فتوی ورکړی کله د بل لکه امام احمد چی به د صحابه د روایاتو باره کی کول

امام بن خزیمه به فرمایل په دنیا کی په هیڅ لحاظ سره دوه متعارض احادیث نشته که د چا سره دا قسم کوم دوه متعارض احادیث موجود وی ماته دی راوړی زه به ورله پکی تطبیق وکړم

الکفایه ص ۴۳۲

## وه دیرشتم قسم د المزید فی متصل الاسانید پیژندنه

دیته وایی چی یو روای په سند کی د یو راوی اضافه وکړی کوم چی نورو راویانو نده کړی

خطیب بغدادی دی باره کی یو غټ کتاب لیکلی دی تمییز المزید فی متصل الاسانید

اب الصلاح فرمایی هغه چی کوم بعضی شیان ذکر کړی دی هغی کی نظر دی

ابن الصلاح ددی مثال پدی روایت سره ورکړی دی چی بعضی علماو دا د عبدالله بن المبارک عن سفیان عن عبدالله بن یزید بن جابر جدثنی بسر بن عبدالله سمعت اباادریس یقول سمعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



واثله بن الاسقع سمعت ابا مرثد الغنوی یقول سمعت رسول الله یقول لا تجلسوا علی القبور لا تصلوا الیها په قبرونو باندی مه کینی مه هغی طرفته مونځ کوی صحیح مسلم ۹۷۲

نورو راویانو دا د ابن مبارک نه بیان کړیدی مګر سفیان یی ندی ذکر کړی ابو حاتم الرازی فرمایی پدی سند کی د ابو ادریس ذکر کول د ابن المبارک وهم دی

علل الحدیث ص ۳۴۹

دا دوه اضافات دی چی سند کی شوی دی

## اته دیرشتم قسم د مرسل خفی پیژندنه

د عموم په لحاظ سره دا منقطع او معضل ته هم شامل دی

خطیب بغدادی دی باره کی کتاب لیکلی دی التفصیل لمبهم المراسیل

دا فن په قدیم او جدید دور کی صرف د حدیث ناقدین او ماهرین پیژنی

زمونږ شیخ حافظ المزی پدی کی امام او ماهر وو الله دی په هغه رحم وکړی او په هغه دی د مغفرت باران رانازل کړی

ډیر علما چی ثقه او ضعیف راویان صحیح نه پیژنی که هغوی باندی یو سند پیش کړی شی نو هغوی دوکه شی او په ظاهر کی ثقه راویانو ته کتلو سر په حدیث د صحت حکم ولګوی

هغوی ته دا پته نه وی چی دی کی انقطاع اعضال یا ارسال د ی هغو ی د صحابی او تابعی درمیان کی فرق نشی کولی او الله د صحیح خبری طرفته رهنمایی کونکی دی

ددی مثال ابن الصلاح دا روایت بیان کړیدی کو چی عوام بن جوشب د عبدالله بن ابی اوفی نه بیان کړی چی کله به بلال قد قامت الصلاه ویل نو نبی علیه السلام به پاڅیده او الله اکبر به یی وویله

الکامل لابن عدی ۲ ۶۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام احمد فرمایی عوام د ابن ابی اوفی سره ملاقات ندی کړی یعنی دا روایت د انقطاع په وجه ضعیف دی ځکه دی کی احتمال دی چی عوام دا د یو ضعیف راوی نه اوریدلی وی

## نهه دیرشتم قسم د صحابه و پیژندنه

صحابی هغه چا ته وایی چی د اسلام په حالت کی یی نبی علیه السلام لیدلی وی اګر که ډیر وخت د نبی علیه السلام سره نه وی پاتی شوی او نه یی څه روایت کړی وی د مخکنی او ورستنی جمهورو علماو همدا موقف دی

بخاري ابو زرعه او د صحابه و باره کی کتابونه لیکونکی علماو لکه ابن عبدالبر ابن منده ابو موسی المدینی او ابن الاثیر صراحت کړی چی صرف روایت کول او ملاقات د صحابی کیدو لپاره کافی دی د ابن الاثیر دا صراحت د هغه په کتاب اسد الغابه کی دی او دا کتاب جامع ترین د ډیرو فایدو والا او وسیع دی دی ټولو ته دی الله بهترین اجر ورکړی

ابن الصلاح فرمایی ابن عبدالبر د قصه ګو مورخینو نه د صحابه باهمی جنګونه اغستی د ی او خپل کتاب کی یی بیان کړی دی چی خپل کتاب یی پری داغدار کړی دی

نور علما وایی د ملاقات سره د صحابی کیدو لپاره دا ضروری دی چی یو یا دوه احادیث به یی روایت کړی وی

د سعید بن المسیب څخه روایت دی چی د صحابی کیدو لپاره ضروری دی چی یو یو یا دوه کاله به نبی علیه السلام سره پاتی شوی وی او په یو یا دوه غزوو کی به شریک شوی وی

الکفایه ص ۵۰

شعبه د ابو موسی تعریف کړی دی او د هغه نه یی نقل کړی چی ما د انس رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه ایا د رسول الله په صحابه و کی ستا نه علاوه بل څوک ژوندی شته ؟هغه وویل بعضی بانډه چیان شته چی هغوی نبی علیه السلام لیدلی وو مګر د نبی علیه السلام کوم خاص صحابی وس ژوندی نشته

دا واقعه مسلم د ابو زرعه مخی ته بیان کړی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خاص صحبت نفی ده د جمهورو د اصطلاح نفی نده د کوم مطابق چی صرف ملاقات د صحابیت لپاره کافی دی چی د نبی علیه السلام د اوچت منزلت او جلالت قدر د وجی په هغه د صحابی اطلاق وشی پدی کی د هغه چا عظمت شان دی چی نبی علیه السلام سره میلاو شوی وی

بعضی صحیح احادیثو کی راغلی دی چی نبی علیه السلام فرمایی تاسو به جهاد کوی نو ستاسو درمیان کی به وویل شی ایا تاسو کی داسی څوک شته چی نبی علیه السلام سره یی ملاقات شوی وی بیا هغ وفرمایل چا چی هغه څوک لیدلی وی چی هغه نبی علیه السلام سره ملاقات کړی وی

صحیح مسلم ۲۵۳۲

بعضی علماو د معاویه او عمر بن عبدالعزیز باره کی ویلی دی د نبی علیه السلام سره د معاویه یوه ورځ تیرول د عمر بن عبدالعزیز د ټول خاندان نه غوره ده

فرع ۱ د اهل سنت والجماعت په نزد ټول صحابه عادل دی ځکه الله تعالی پخپل کتاب کی ددوی تعریف کړی په سنت نبوی کی ددوی د ټولو اخلاقو او افعالو تعرف شته هغوی د نبی علیه السلام مخی ته د خپلو ځانونو او مالونو قربانی پیش کړی وی د هغوی مقصد دا وو چی د الله څخه عظیم اجر او ثواب ورته میلاو شی

د نبی علیه السلام نه پس چی د هغوی مابین کی کوم اختلافات شوی هغه بعضی بغیر د ارادی نه شوی لکه د جنګ جمل او بعضی د اجتهاد د وجی شوی لکه جنګ صفین اجتهاد کله صحیح وی کله غلط لیکن د اجتهاد والا معذوره وی اګر که هغه په غلطه وی هغه ته یو اجر میلاویږی او که اجتهاد صحیح وی نو دوه اجره

علی رضی الله عنه او د هغه ملګری د معاویه په نسبت حق ته ډیر نژدی وو الله دی د ټولو نه راضی شی

د معتزله دا قول انتهایی باطل او مردود دی چی صحابه ټول عادل دی مګر هغه چی د علی رضی الله عنه سره یی جنګ کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح بخاری کی راځی چی نبی علیه السلام خپل نوسی حسن بن علی په منبر باندی وخیژوو او ویی فرمایل بیشکه زما دا ځوی سردار دی او یوه ورځ به الله دده په ذریعه د مسلمانانو د دوه غټو جماعتونو مابین کی اصلاح راولی

صحیح بخاری ۷۱۰۹

ددی حدیث مصداق هله ظاهر شو چی حسن رضی الله عنه د خپل پلار د وفات نه پس خلافت د معاویه په حوالی کړ نو په معاویه باندی په څلویښتم هجری کی اتفاق وشو دیته عام الجماعه ویل کیږی نبی علیه السلام دی ټولو ته مسلمان ویلی دی

الله تعالی هم فرمایی که د مومنانو دوه جماعته په مینځ کی جنګ وکړی نو د هغوی مابین کی صلح وکړی

الله تعالی د مسلمانانو مابین کی د جنګ باوجود هغوی ته مومنان ویلی دی

د معاویه سره کوم صحابه وو

ویل کیږی چی ددواړو ډلو سره سل صحابه هم نه وو او د امام احمد نه روایت دی چی دیرش صحابه هم نه وو

او ټول صحابه عادل او صادقین وو

البته د روافضو د جماعت جهالت بی عقلی او دا دعوی چی صحابه و کفر کړی وو مګر ولس صحابه مسلمانان وو بیا هغوی ددی ولس صحابه وو نومونه ذکر کړی دی دا د مړ ذهن او د پرله پسی بدعاتو بکواس دی چی هیڅ دلیل پری نشته بلکی صرف فاسد رایه او عقل ددی د ایجاد باعث دی

دا دعوی دومره حیثیت نلری چی پدی رد وکړی شی ددی خلاف دلایل انتهایی واضح او مشهور دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس د هغه په احکاماتو د صحابه کرامو عمل مشهور او معروف دی صحابه وو د هغه نه وروسته مختلف ملکونه او علاقی فتح کړی دی هغوی د کتاب او سنت تبلیغ کړی خلک یی د جنت لاری ته سم کړی وو په مونځ زکات او د اسلام په نورو احکامو یی په مسلسل طور سره عمل کړی وو هغوی د بهادری کمال کرم قربانی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دداسې بهترين اخلاقو نمونه وه چې هيڅ مثال نلرې نه په مخکنى امتونو کې ددې مثال شته او نه به راشي

الله دې د هغوی څخه راضې شي او په هغو خلکو دې لعنت وکړې چې ريښتنى ته درغجن او دروغجن ته ريښتينى وايې

دپيغمبرانو نه پس په ټولو صحابه وکې بلکې په ټولو مخلوقاتو کې ابو بکر رضې الله عنه غوره انسان او د نبې عليه السلام خليفه دې

هغه د ټولو خلکو نه مخکې د نبې عليه السلام تصديق کړې وو دې وجې نه هغه ته صديق وايې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايې ما چې هر چاته د ايمان دعوت ورکړې هغه فکر او سوچ کړې مګر ابوبکر هغه هيڅ تردد ندې کړې

ما د هغه سيرت فضايل بيان کړې شوې روايات او فتاوې په يو مستقل جلد کې ليکلې دې

بيا د هغه نه وروسته عمر بن الخطاب او بيا عثمان بن عفان او بيا على بن ابى طالب ( درجه به درجه افضل دې ) د مهاجرينو او انصارو همدا رايه ده کله چې عمر د خپل ځان نه پس دشپږ کسانو شورې قايمه کړه بيا عثمان او على بيا خبره ودريده

عبدالرحمان بن عوف درې ورځې او درې شپې مسلسل کوشش وکه هغه د باپرده زنانه و او د مدرسو د ماشومانو نه پوښتنه وکړه هغوی ټول د عثمان رضې الله عنه خليفه جوړيدل غوښتل نو هغوی عثمان په على باندې مقدم کړ او خليفه يې وګرځوو

دې وجې نه امام دارقطنى فرمايې څوک چې على له په عثمان باندې ترجيح ورکوې هغه ټولو مهاجرينو ته تکليف ورکوې

او دارقطنى ريښيتا ويلې دې الله دې د هغه نه راضې شي او هغه ته دې په جنت کې بهترين ځاى ورکړې تعجب دې دکوفې په بعضې خلکو چې هغوی على په عثمان رضې الله عنهما باندې مقدم ګڼړې

داسې قول د سفيان ثورې نه منقول دې ليکن ويل کيږې چې هغه رجوع کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همداسی قول د وکیع بن الجراح نه هم مروی دی ابن خزیمه او خطابی ددی حمایت کړی دی لیکن د سابقه دلایلو په وجه دا قول مردود او ضعیف دی

بیا په افضلیت کی باقی عشره مبشره بیا اهل بدر بیا اهل احد بیا د حدیبیه په ورځ د بیعت رضوان والا

سابقین اولین هغو ته ویل کیږی چا چی د دوو قبلو طرفته مونځ کړی وو بعضی وایی ددی نه مراد بدری صحابه دی او بعضی د بیعت الرضوان والاو صحابه و ته سابقین اولین وایی دی باره کی نور اقوال هم شته

فرع ۲ شافعی فرمایی د شپیته زره ته نژدی صحابه وو نبی علیه السلام لیدلی دی او د هغه نه یی روایت بیان کړی دی

ابو زرعه فرمایی د هغه صلی الله علیه وسلم سره د حجه الوداع په موقع باندی اویا زره صحابه او د وفات په وخت یو لاک څوارلس زره صحابه موجود وو

احمد بن حنبل فرمایی په صحابه وکی د ټولو نه ډیر احادیث کونکی شپږ دی

انس بن مالک جابر بن عبدالله ابن عباس ابن عمر ابو هریره او عایشه رضی الله عنهم اجمعین

زه وایم او عبدالله بن عمرو ابو سعید الخدری او ابن مسعود لیکن هغه د عثمان رضی الله عنه په خلافت کی وفات شوی وو دی وجی نه احمد بن حنبل هغه په عبادله وکی ندی حساب کړی عبادله څلور دی عبدالله بن زبیر عبدالله بن عباس ابن عمر ابن عمرو بن العاص رضی الله عنهم

فرع ۳ په ازادو سړو کی د ټولو نه مخکی ابو بکر الصدیق مسلمان شوی او دا هم ویل کیږی چی هغه په مطلق طور سره د ټولو نه مخکی مسلمان شوی دی

په ماشومانو کی علی رضی الله عنه د ټولو نه مخکی مسلمان شوی او دا هم ویل کیږی چی هغه د ټولو نه مخکی مسلمان شوی او ددی څه صحیح دلیل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ازاد کړی شوی غلامانو کی زید بن حارثه د ټولو نه مخکی مسلمان شوی او په غلامانو کی بلال رضی الله عنه د ټولو نه مخکی مسلمان شوی وو

په زنانه وکی خدیجه رضی الله عنها د ټولو نه مخکی مسلمانه شوی وه او دا هم ویل کیږی چی هغه مطلق طور سره د ټولو نه مخکی مسلمانه وه د بعثت د شروع کیدو والا حدیث نه همدا ظاهره ده

او همدا قول د ابن عباس زهری قتاده محمدبن اسحاق بن یساس او د یو جماعت علماو څخه نقل دی

مفسر ثعلبی پدی باندی د اجماع دعوی کړی او فرمایی اختلاف خو په هغو کی دی چی وروسته مسلمانان شوی وو

فرع ۴ په صحابه وکی اخری صحابی انس رضی الله عنه وفات شوی دی او د هغه نه پس ابو الطفیل عامر بن واثله علی بن المدینی فرمایی دده وفاته په مکه کی شوی دی پدی لحاظ سره هغه په صحابه وکی د ټولو نه وروسته وفات شوی دی

ویل کیږی چی په مکه کی د ټولو نه وروسته وفات شوی صحابی ابن عمر وو او دا هم یو قول دی چی جابر رضی الله عنه صحیح داده چی سهل بن سعد یا سایب بن یزید په مدینه کی د ټولو نه وروسته وفات شوی په بصره کی انس کوفه کی عبدالله بن ابی اوفی شام کی عبدالله بن بسر دمشق کی واثله بن الاسقع مصر کی عبدالله بن حارث یمامه کی هرماس بن زیاد جزیره کی عرس بن عمیره افریقه کی رویفع بن ثابت او ځنګل او صحرا کی سلمه بن الاکوع د ټولو نه اخیر کی وفات شوی دی یو قول دا هم دی چی سلمه بن الاکوع مدینه کی وفات شوی

فرع ۵ د صحابی صحابیت کله په تواتر سره ثابت وی او بعضی وخت کی په مشهور حدیث سره ثابت وی بعضی وخت کی د بل صحابی په ګواهی سره او بعضی وخت کی پدی سره چی د نبی علیه السلام هم عصر د هغه څخه روایت وکړی

که د هغه ریښتینی معاصر ووایی زه صحابی یم نو ابن حاجب په خپل کتاب المختصر کی وایی ددی په قبلولو او ردکولو کی اختلاف شته ځکه هغه د حکم شرعی باره کی بیان کوی لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی هغه د یو ناسخ روایت باره کی ووایی دا د فلانی روایت ناسخ دی دی کی د غلطی احتمال شته

که هغه ووای ما د نبی علیه السلام نه داسی اوریدلی دی یا می لیدلی دی چی یو کار یی کوو یا مونږ د نبی علیه السلام سره وو نو بیشکه قول به یی مقبول وی پدی شرط سره چی د صحابی پوری سند صحیح وی او هغه د نبی علیه السلام معاصر وی

## ۴۰ څلویښتم قسم د تابعینو پیژندنه

خطیب بغدادی فرمایی تابعی هغه کس دی چی د کوم صحابی سره یی ملګرتیا اختیار کړی وی

د حاکم د کلام مقصد دادی چی چا چی د صحابی سره ملاقات کړی وی او د هغه نه یی روایت بیان کړی وی اګر که ملګرتیا یی ورسره نه وی کړی نو دا مطلقا صحابی دی

زه وایم هغه د د صحابی په مجرد لیدو اکتفا نده کړی لکه څنګه چی هغه د نبی علیه السلام په مجرد لیدو سره په یو کس د صحابی اطلاق کړی دی

او د فرق وجه داده چی د نبی علیه السلام لیدو ته ډیر فضیلت حاصل دی

حاکم د تابعینو پینځلس طبقات جوړ کړی دی د هغه په نزد د ټولو نه اعلی طبقه هغه ده چی د عشره مبشره څخه یی روایت کړی وی هغه ددی څخه سعید بن المسیب قیس بن ابی حازم قیس بن عباد ابو عثمان النهدی ابو وایل ابو رجا او ابو ساسان حصین بن المنذر وغیره ذکر کړی دی

معرفه علوم الحدیث ص ۴۲

د حاکم پدی کلام باندی ډیر مواخذات د ی

ابن خراش فرمایی د عشره مبشره و څخه په تابعینو کی د قیس بن ابی حازم نه علاوه بل چا روایت ندی کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو بکر بن ابی داود فرمایی قیس بن ابی حازم د عبدالرحمان بن عوف نه اوریدل ندی کړی

سعید ابن المسیب خو بالاتفاق د ابو بکر رضی الله عنه سره ندی میلاو شوی ځکه هغه د عمر رضی الله عنه د خلافت نه دوه کاله وروسته پیدا شوی دی دی وجی نه د عمر رضی الله عنه څخه د هغه په سماع کی اختلاف دی

حاکم فرمایی هغه د عمر او د باقی عشره مبشره سره ملاقات کړی دی معرفه علوم الحدیث ص ۲۵

دا هم یو قول دی چی سعیدبن المسیب په عشره مبشره وکی صرف د سعد بن ابی وقاص سره ملاقات کړی دی او هغه په عشره مبشره کی د ټولو نه وروسته وفات شوی

حاکم فرمایی پدی تابعینو کی هغه خلک هم دی چی د صحابه وو اولاد وو او د نبی علیه السلام په زندګی کی پیدا شوی وو لکه عبدالله بن ابی طلحه ابو امامه بن سهل بن حنیف او ابو ادریس خولانی

معرفه علوم الحدیث ص ۴۵

زه وایم عبدالله بن ابی طلحه چی کله پیدا شو نو انس رضی الله عنه هغه نبی علیه السلام ته یوړه هغه د عبدالله په خوله کی کهجوری واچله د برکت دعا یی ورته وکړه او عبدالله نوم یی ورته کیخوده داسی کس د مجرد لیدو په وجه په وړو صحابه وکی حسابول پکار دی بعضی علماو محمد بن ابی بکر الصدیق هم په وړو صحابه وکی شمار کړی دی حالانکه هغه د حجه الوداع په وخت کی د ونی خواته د احرام په وخت پیدا شوی وو

هغه د نبی علیه السلام د زندګی څخه صرف سل ورځی موندلی وی او دا ذکر ندی چی هغه د نبی علیه السلام خواته حاضر کړی شوی وو یا نبی علیه السلام هغه لیدلی وو که نه

د محمد بن ابی بکر په نسبت د عبدالله بن ابی طلحه شمار په صغار صحابه وکی ډیر راجح دی

حاکم د نعمان بن مقرن او سوید بن مقرن ذکر هم په تابعینو کی کړی دی حالانکه دا دواړه صحابه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفه علوم الحدیث ص ۱۵۴

مخضرمین هغه خلکو ته وایی چی د نبی علیه السلام په زندګی کی مسلمانان شوی خو هغه یی ندی لیدلی

خضرمه کټ کیدو ته وایی ګویا کی دوی د خپل عمر برابر صحابه کرامو نه کټ شوی دی

امام مسلم ددوی څخه د شل کسانو ذکر کړی دی په هغی کی ابو عمرو الشیبانی سوید بن غفله عمرو بن میمون ابو عثمان النهدی ابو الحلال العتکی عبد خیر بن یزید الخیوانی او ربیعه بن زراره دی

معرفه علوم الحدیث ص ۴۴

ابن الصلاح فرمایی مسلم د ابو مسلم عبدالله بن ثوب الخولانی ندی ذکر کړی

زه وایم عبدالله بن عکیم او احنف بن قیس یی هم ندی ذکر کړی

پدی کی اختلاف دی چی په تابعینو کی افضل څوک دی مشهور قول دادی چی سعید بن المسیب دی لکه دا د امام احمد وغیره قول دی

اهل بصره وایی حسن بصری دی

اهل کوفه وایی علقمه او اسود دی

بعضی اهل مکه وایی عطا بن ابی رباح دی

په تابعیاتو کی سیدات حفصه بنت سیرین عمره بنت عبدالرحمان او ام الدردا الصغری ده

الله تعالی دی ددی ټولو نه راضی شی

د سادات تابعینو څخه د حجاز فقها سبعه دی

۱ سعید بن المسیب ۲ قاسم بن محمد خارجه بن زید عروه بن الزبیر سلیمان بن یسار عبیدالله بن عبدالله بن عتبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کیږی چی وم ابو سلمه بن عبدالرحمان بن عوف یا ابو بکر بن عبدالرحمان بن الحارث بن هشام دی بعضی علماو په تابعینو کی هغه کسان شمار کړی چی د هغوی څخه ندی او بعضو په تابعینو کی هغه کسان شمار ندی شمار کړی چی تابعین دی

دغه شان بعضی علماو هغه کسان په صحابه و کی شمار کړی چی صحابه ندی او بعضو د صحابه و یو جماعت د تابعینو په حساب کی ذکر کړی دی

دا هر چا د خپل علم مطابق دا کار کړی او الله د صحیح خبری طرفته توفیق والا دی

## ۴۱ یو څلویښتم قسم د اصاغر څخه روایت او د اکابرو پیژندنه

د ستر شان والا یا د غټ عمر والا خلکو د ځان څخه د کمی درجی والا راویانو نه روایت کړی دی پدی باب کی د ټولو نه اعلی او مهم روایت هغه دی چی نبی علیه السلام چی نبی علیه السلام په خطبه کی د تمیم الداری څخه روایت کړی وو تمیم داری هغه ته ویلی وو چی هغه په یو سمندر کی دجال لیدلی وو دا په صحیح مسلم ۲۹۴۲ کی دی

دغه شان په صحیح بخاری کی ۷۴۶۰ کی د معاویه بن ابی سفیان نه روایت دی چی هغه د مالک بن یخامر تابعی نه هغه د معاذ نه بیان کړی دی چی زما د امت یو جماعت به همیشه په حق باندی قایم وی ددی په تشریح کی یی فرمایلی دی دوی به په شام کی وی

ابن الصلاح فرمایی عبادله و د کعب الاحبار نه روایت بیان کړی دی

زه وایم د کعب الاحبار څخه عمر علی او د صحابه و یو جماعت روایت کړی دی

زهری او یحی بن سعید د امام مالک نه روایت بیان کړی دی حالانکه دا دواړه د هغه استاذان دی

عمرو بن شعیب څخه د تابعینو یو جماعت روایت بیان کړی دی ویل شوی چی هغوی د شلو یا اویا و نه ډیر دی

که مونږ ددی ټولو واقعاتو ذکر وکړو نو دا فصل به ډیر اوږد شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمایی پدی باندی په تنبیه کولو کی دا فایده ده چی د راوی او مروی عنه قدر معلوم شی هغه فرمایی د عایشه رضی الله عنها څخه په صحیح سند سره ثابت دی چی هغه فرمایی

مونږ ته نبی علیه السلام حکم کړی دی چی خلک په خپلو مرتبو کی کیږدی ( هر چا له خپله مرتبه ورکړی )

أخرجه البيهقي في "الآداب" (299)

حدیث حسن إن شاء الله،محدث شعیب الارنووط هم ورته حسن ویلی دی بعضی علما وایی چی دا مرسل دی ځکه میمون د عایشه رضی الله عنها سره ندی میلاو شوی لیکن په مختلفو اسانیدو سره د نقل کیدو په وجه حسن لغیره گرځی

## ۴۲ دوه څلویښتم قسم د مدبج پیژندنه د هم عمر او هم سند راویانو د یو بل نه روایت ته مدبج وایی

حاکم صرف د سند په یو شان والی اکتفا کړی ده اگر چی عمر کی مختلف وی لهذا دوی چی د یو بل نه روایت وکړی نو دیته به مدبج ویل کیږی بکه ابو هریره زهری عمر بن عبدالعزیز مالک او اوزاعی احمد بن حنبل او علی بن المدینی

که داسی کوم هم مرتبه کس د یو بل نه روایت ونکړی نو دیته مدبج نه وایی

## ۴۳ دی څلویښتم قسم د روایت کونکو ورونړو او خویندو پیژندنه

دی باره کی د علماو یو جماعت کتابونه لیکلی دی چی هغی کی د علی بن المدینی کتاب تسمیه من روی عنه من اولاد العشره او ابو عبدالرحمان النسایی

ددوه ورونړو مثال عبدالله بن مسعود او د هغه ورور عتبه

عمرو بن العاص او د هغه ورور هشام زید بن ثابت او د هغه ورور یزید

په تابعینو کی عمرو بن شرحبیل ابو میسیره او ددوی ورور ارقم دا دواړه د عبدالله بن مسعود شاگردان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د شاګردانو څخه هزیل بن شرحبیل او د هغه ورور ارقم دی

دی ورونه سهل عباد او عثمان دری واړه د حنیف ځامن دی

عمرو بن شعیب او د هغه دوه ورونه عمر او شعیب

عبدالرحمان بن یزید  بن اسلم او د هغه دوه ورونه اسامه او عبدالله

څلور ورونه سهیل بن ابی صالح او د هغوی دری ورونه عبدالله محمد او صالح

پینځه ورونه سفیان بن عیینه او د هغه څلور ورونه ابراهیم ادم عمران او محمد

حاکم فرمایی ما د حافظ ابو علی حسین بن علی نه اوریدلی دی چی دی ټولو احادیث بیان کړی دی معرفه علوم الحدیث ص ۱۵۵

شپږ ورونه محمد بن سیرین او د هغه پینځه خویندی او ورونه انس معبد یحیی حفصه او کریمه دغه شان نسایی یحی بن معین هم دوی ذکر کړی دی

ابو علی نیسابوری پدی کی کریمه نده ذکر کړی

پدی لحاظ سره دا په سابقه قسم کی حساب نده

پدی کی په عمر کی د ټولو نه زیات معبد او د ټولو نه په عمر کی کم حفصه ده

محمد بن سیرین د خپل ورور یحیی هغه د خپل ورور انس نه نه هغه د خپل غلام انس بن مالک نه روایت کړی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ای الله زه د حق او صدق سره حاضر وم د بندګی او غلامی سره سره

د وه ورونو مثال نعمان بن مقرن او د هغه ورور سنان سوید عبدالرحمان عقیل معقل د وم کس نوم ندی ذکر

دوی هجرت کړی وو د نبی علیه السلام ملګرتوب یی کړی وو او ویل کیږی چی ټول په غزوه خندق کی شریک شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن عبدالبر وغیره فرمایی پدی فضیلت کی ددوی سره څوک شریک نشته

زه وایم نور وه صحابه هم شته چی ټول په غزوه بدر کی شریک شوی وو لیکن هغه د مور د طرفه ورونه وو چی هغه عفرا بنت عبید ده عفرا اول کی د حارث بن رفاعه سره واده کړی وو نو د هغه دوه ځامن معاذ او معوذ پیدا شو بیا د طلاق نه پس هغی د بکیر بن عبد یا لیل بن ناشب سره واده وکه نو د هغه څخه یی څلور ځامن پیدا شو ایاس خالد عاقل عامر او بیا هغه د طلاق نه پس حارث ته راواپس شوه نو دهغه نه عوف پیدا شو

دی کی څلور د بکیر له طرفه خپل ورونه دی او دری د حارث له طرفه خپل ورونه دی

دا وه واړه د نبی علیه السلام سره په جنګ بدر کی شریک شوی وو

د عفرا دواړو ځامنو معاذ او معوذ ابو جهل زخمی کړی او راغورځولی دی بیا د هغه سر عبدالله بن مسعود کټ کړی وو الله دی ددی ټولو نه راضی شی

## ۴۴ څلور څلویښتم قسم د والدینو د خپل بچو نه روایت او د هغی پیژندنه

دی باره کی خطیب بغدادی یو کتاب لیکلی دی ( روایه الابا عن الابنا)

ابن الجوزی رحمه الله په خپل کتابونو کی فرمایی چی ابوبکر الصدیق د خپلی لور عایشه رضی الله عنها څخه او ام رومان هم د خپلی لور عایشه رضی الله عنها څخه روایت بیان کړی دی

عباس د خپلو دواړو بچو عبدالله او فضل نه روایت اغستی دی

سلیمان بن طرخان د خپل ځوی معتمر بن سلیمان نه او ابوداود د خپل ځوی ابوبکر نه روایت بیان کړی دی تلقیح فهوم اهل الاثر ص ۷۰۴

ابن الصلاح فرمایی سفیان بن عیینه د وایل بن داود نه هغه د خپل ځوی بکر بن وایل نه هغه د زهری نه هغه د سعید بن مسیب نه هغه د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی په ځناورو باندی کم وزن اچوی ځکه د هغوی لاسونه او ښپی بندی وی الفواید المنتقاه ۱۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


خطیب فرمایی دا روایت پدی سند سره معروف دی

هغه فرمایی ابو عمر حفص بن عمر د خپل ځوی ابو جعفر محمد نه شپاړس یا ددی نه ډیر احادیث بیان کړی دی او زمونږ د علم مطابق د ا د پلار څخه د ځوی ډیر روایتونه دی

بیا ابن الصلاح د ابو المظفر عبدالرحیم نه هغه د خپل پلار نه هغه د خپل ځوی نه هغه په خپل سند سره د ابو امامه رضی الله عنه نه روایت کړی چی خپل دسترخوان باندی سبزی ږدی ځکه په بسم الله ویلو سره دا شیطان لره پره کوی

ابن الصلاح پدی باندی سکوت کړی او ابن الجوزی دا په خپل کتاب کی ذکر کړی او دا روایت ددی لایق دی چی موضوع وی الموضوعات ۲ ۲۹۸

بیا ابن الصلاح فرمایی مونږ ته چی د ابو بکر عن عایشه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم په سند سره دا حدیث رارسیدلی چی نبی علیه السلام فرمایی په کلونجی کی د هر مرض شفا ده دا غلط دی صحیح داده چی دا ابو بکر عبدالله بن ابی عتیق محمد بن عبدالرحمان بن ابی بکر د عایشه رضی الله عنها څخه بیان کړی دی

صحیح البخاری ۵۳۶۳

ابن الصلاح فرمایی مونږ ته د پلار ځوی نوسی په لحاظ سره ددی نه علاوه مسلسل څلور صحابه ندی معلوم محمد بن عبدالرحمان بن ابی بکر بن ابی قحافه

دغه شان ابن الجوزی وغیره علماو ویلی دی چی ابو قحافه ابو بکر الصدیق عبدالرحمان او محمد بن عبدالرحمان څلور واړه ځوی پلار نیکه او ډر نیکه ټول صحابه وو

زه وایم چی ددوی سره عبدالله بن زبیر هم شاملول پکار دی ځکه د هغه مور اسما ده چی د ابو بکر رضی الله عنه لور ده په صحابه وکی محمد بن عبدالرحمان د عبدالله بن زبیر په نسبت ډیر مشهور وو او ډیر عمر والا وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الجوزی فرمایی حمزه او عباس د خپل وراره حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه روایت بیان کړی دی تلقیح فهوم اهل الاثر ۷۰۶

مصعب الزبیری د خپل وراره زبیر بن بکار نه روایت کړی دی .

اسحاق بن حنبل د خپل وراره احمد بن حنبل نه روایت کړی دی .

امام مالک د خپل وراره اسماعیل بن عبدالله نه روایت بیان کړی دی .

## ۴۵ پینځه څلویښتم قسم د ځامنو د پلرونو نه روایت کول

ددی مثالونه ډیر زیات د ی

او د ځوی د پلار نه د هغه د نیکه نه دا هم په کثرت سره وجود لری مګر د اولنی قسم نه کم دی لکه عمرو بن شعیب بن محمد بن عبدالله بن عمو عن ابیه شعیب عن جده عبدالله بن عمرو بن العاص والا سند ددی سند همدا طریق صحیح دی او ددی نه علاوه ټول غلط دی

مونږ په خپل کتاب التکمیل اوالاحکام الکبیر او الصغیر کی په ډیرو ځاینو کی دی باره کی کلام کړی دی

بهز بن حکیم بن معاویه بن حیده عن ابیه عن جده معاویه سند او مثلا طلحه بن مصرف عن ابیه عن جده والا سند د جد نه مراد عمرو بن کعب دی او دا هم ویل کیږی چی کعب بن عمرو دی

حافظ ابو نصر الوایلی دی باره کی کتاب لیکلی دی او بعضی متاخرینو پدی باندی د بعضی ښو شیانو اضافه کړی ده

بعضی سندونو کی فلان عن ابیه عن ابیه عن ابیه او ددی نه ډیر هم راغلی دی مګر دا سندونه ډیر کم صحیح وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴۶ شپږ څلوښتم قسم د السابق او اللاحق د روایت پیژندل

دی باره کی خطیب یو خاص کتاب لیکلی دی

دا هغه وخت وی چی کله اصاغر د اکابرو نه روایت وکړی بیا چی د چا نه روایت کړی شوی وی بیا د هغه نه یو متاخر راوی روایت وکړی

لکه څنګه چی زهری د خپل شاګرد انس نه روایت بیان کړی او زهری ۱۲۴ کی وفات شو ی

مالک د زکریا نه روایت کړی او هغه د زهری د وفات نه یو سلو وه دیرش کاله پس وفات شوی یا وروسته لکه ابن الصلاح دا خبره کړی ده

دغه شان بخاری د محمد بن اسحاق السراج نه روایت کړی دی سراج نه د ابو الحسین احمد بن محمد هم روایت کړی دی بخاری په ۲۵۶ کی وفات شوی او الخفاف په ۳۹۴ یا ۳۹۵ کی ددواړو په وفات کی تقریبا ۱۳۷ کاله فاصله ده

زه وایم زمونږ شیخ حافظ کبیر ابو الحجاج المزی په خپل کتاب کی ددی خاص خیال ساتلی دی

ډیر محدثین دی علم ته ډیر وخت ورکوی لیکن دا ددومره اهم فنونو څخه ندی

## ۴۷ وه څلویښتم قسم د هغه چا پیژندنه چی صرف یو کس ترینه روایت کړی وی برابره ده که صحابی وی یا تابعی

مسلم رحمه الله دی باره کی یو کتاب الوحدان لیکلی دی

عامر الشعبی د صحابه و د یوجماعت څخه په روایت کولو کی تفرد کړی مثلا عامر بن شهر عروه بن مضرس محمد بن صفوان او محمد بن صیفی

ویل کیږی چی دا دواړه یو دی لیکن صحیح داده چی دواړه جدا جدا د ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهب بن خنبش دیته هرم بن خنبش هم ویل کیږی

سعید بن المسیب بن حزن د خپل والد څخه په روایت کی متفرد دی

دغه شان شتیر بن شکل بن حمید د خپل والد او عبدالرحمان بن ابی لیلی څخه په روایت کی تفرد کړی

قیس بن ابی حازم د خپل والد دکین بن سعید صنابح بن الاعسر او مرداس بن مالک نه په روایت کی تفرد کړی او دا ټول صحابه دی

ابن الصلاح فرمایی حاکم په الاکلیل کی دعوی کړی چی بخاری او مسلم ددی قسم راویانو څخه په خپلو کتابونو کی روایت ندی اغستی

المدخل ص۹

هغه فرمایی پدی خبره په حاکم باندی اعتراض شوی دی دهغه خبره په دی وجه هم غلطه ده چی بخاری او مسلم دابوطالب دوفات باره کی دسعید ابن مسیب عن ابیه په سندسره روایت کړی دی حالانکه دمسیب نه دسعید نه علاوه بل چاروایت نه دی کړی بخاری دقیس ابن ابی حازم په سندسره داحدیث بیان کړی دی یذهب الصالحون اوبخاری دحسن عن عمرابن تغلب نه داحدیث روایت کړی دی انی لاعطی الرجل غیره احب الی حالانکه دعمرابن تغلب نه دحسن بصری نه علاوه چاروایت نه دی مسلم دالاغرالمزنی داحدیث ذکر کړی دی انه لیغان علی قلبی اودهغه نه دابوبرده نه علاوه بل چا روایت نه دی کړی مسلم درفاعه ابن عمرحدیث روایت کړی دی حالانکه دعبدالله ابن صامت نه علاوه دهغی نه بل چا روایت نه دی کړی مسلم دابورفاعه نه روایت اغستی دی اودهغه نه دحمیدابن بلال نه علاوه چا حدیث نه دی بیان کړی داسی نورمثالونه هم شته ابن صلاح فرمایی دبخاری اومسلم دطرزعمل نه معلومیږی چی دیوکس په روایت سره هم دراوی جهالت ختمیږی زه وایم البته دثقه دخپل استاذ نه روایت ایا دا توثیق دی که نه دی باره کی اختلاف مشهور دی دریم قول دادی چی که هغه د خپلو استاذانو دتوثیق شرط لګولی وی لکه امام مالک وغیره نودا به توثیق وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مونږ دیته توثیق هم ونه وایو نو د صحابه و جهالت مضر ندی ځکه هغوی د نورو راویانو برعکس ټول ثقه دی

دی وجی نه د ابن الصلاح رحمه الله استدلال صحیح ندی ځکه هغه ټول صحابه ذکر کړی دی

البته تابعینو باره کی خبره داده چی حماد بن سلمه د ابو العشرا الدارمی عن ابیه په سند سره هغه حدیث بیان کړی چی ( پوښتنه وشوه ) ایا ذبح د سینی او څټ په درمیان کی نه وی ؟

نو نبی علیه السلام وفرمایل که ته د هغی په رون باندی هم زخم جوړ کړی نو دا کافی او جایز ده

د ابو العشرا نه د حماد نه علاوه بل چا دا روایت ندی کړی

ویل کیږی چی زهری د شل نه زیاتو تابعینو څخه تفرد کړی دی دغه شان عمرو بن دینار هشام بن عروه ابو اسحاق السبیعی او یحی بن سعید الانصاری د تابعینو د یو جماعت نه په روایت کولو کی تفرد کړی دی

حاکم فرمایی مالک د مدینی د لس شیوخو څخه تفرد کړی دی چی د هغوی څخه د مالک نه علاوه بل چا روایت ندی کړی

معرفه علوم الحدیث ص ۱۶۰

## (۴۸)اته څلویښتم قسم :

## د کوم راوی چی ډیر نومونه وی د هغه پیژندنه

بعضی خلک ددی نومونو په وجه دا ګمان کوی چی دا ډیر خلک دی یا د هغی نه د بعضی ذکر کیږی یا کنیت بیانیږی نو چاته چی پته نه وی هغه دا ګمان کوی چی دا دویم کس دی

عام طور سره د مدلسینو څخه داسی شیان صادریږی هغوی پدی سره خلک په تعجب کی اچوی هغوی ( مدلسین ) د راوی داسی نوم ذکر کوی چی خلکو کی مشهور نه وی یا یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسی کنیت سره یادوی چی هغی سره هغه مبهم او مجهول گرځی د چا سره چی د هغه باره کی علم نه وی

او ددی قسم ډیر مثالونه دی

عبدالغنی بن سعید المصری پدی باره کی یو کتاب ایضاح الاشکال لیکلی دی

بعضی علماو د کنیتونو باره کی کتابونه لیکلی دی چی هغی کی د هغه راویانو حل موجود دی چی مخکی ذکر شو ( یعنی چی ډیر نومونو والا روایان وی ) ددی د مثالونو څخه محمد بن السایب راوی دی چی ضعیف دی لیکن تفسیر او تاریخ کی ماهر وو

بعضی د ده د نوم صراحت کوی او بعضی وایی حماد بن السایب

بعضی دده کنیه ذکر کوی ابو النضر ده

بعضی دا په ابو سعید سره یادوی

ابن الصلاح فرمایی دا هغه دی چی عطیه العوفی ترینه تفسیر نقل کوی او دهوکه دا ورکوی چی دا ابو سعید خدری رضی الله عنه دی

دغه شان سالم ابو عبدالله د سبلان په لقب سره مشهور دی دا د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کوی د حدیث راویان دده تعلق د مختلفو شیانو سره پیوستوی ددی هم ډیر مثالونه دی او د تدلیس ډیر اقسام دی لکه مخکی ذکر شو

## (۴۹)نهه څلویښتم قسم: دداسی اسما او کنیتونو معرفت چی په هر حرف کی د هغی نه علاوه په بل کی نه وی موجود ( یعنی صرف د یو کس نوم وی بل چا نه وی یخی )

دی باره کی حافظ احمد بن هارون وغیره کتابونه لیکلی دی داسی ډیری خبری ابن ابی حاتم په خپل کتاب الجرح والتعدیل کی ذکر کړی دی ابو نصر ماکولا په الاکمال کی داسی ډیر مثالونه موجود دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیخ ابن الصلاح ډېر مفرد نومونه ذکر کړی دی

اجمد د جیم سره ابن عجیان د علیان په وزن

ابن الصلاح فرمایی ما د ابن الفرات په خط کی دا د سفیان په وزن سره بغیر د تشدید نه لیدلی دی ابن یونس المصری دا په صحابه وکی ذکر کړی دی

اوسط بن عمرو البجلی تابعی دی تدوم بن صبح الکلاعی تبیع الحمیری ابن امراه کعب الاحبار

جبیب د جیم سره ابن الحارث صحابی دی جیلان بن ابی فروه ابو الجلد الاخباری تابعی دی

دجین بن ثابت ابو الغصن ویل کیږی دا جحا ( هغه کس چی د هغه طرفته د مزاح قصی منسوبی وی )

دی ابن الصلاح فرمایی صحیح داده چی هغه جحا ندی زر بن حبیش سعیر بن الخمس سندر الخصی مولی زنباع الجذامی صحابی دی شکل بن حمید صحابی دی شمغون شی او غین سره بن زید ابو ریحانه صحابی دی بعضی په عین سره وایی شمعون صدی بن عجلان ابو امامه صحابی دی

صنابح بن الاعسر ضریب بن نقیر ابو السلیل القیسی البصری معاذه نه روایت کوی عزوان عین سره بن زید الرقاشی د عبادت ګرو صحابه وو څخه دی کلده بن حنبل صحابی دی لبی بن لبا صحابی دی لمازه بن زمار مستمر بن الریان نبیشه الخیر صحابی دی

نوف البکالی تابعی دی وابصه بن معبد صحابی دی هبیب بن مغفل همدان په دال مهمله یا معجمه سره د عمر رضی الله عنه خطونه به یی خلکو ته وړل

ابن الجوزی په بعضی کتابونو کی ویلی دی

مساله ایا تاسو ته په محدثینو کی هغه کس معلوم دی چی د هغه د پلار نیکه نوم د بل هیچا نه وی ؟

ددی جواب دادی مسدد بن مسرهد بن مسربل بن مغربل بن مطربل بن ارندل د عرندل بن ماسک الاسدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الصلاح فرمايي د مفرد کنيتونو څخه بعضی دادی

ابو العبيدين ددی نوم معاويه بن سبره دی دا د ابن مسعود د شاګردانو څخه وو د ابو العشرا الدارمی ذکر مخکی تير شو

ابو المدله دده نوم معروف ندی دا د اعمش د استاذانو څخه دی ابو نعيم الاصبهانی دعوی کړيده چی دده نووم عبيدالله بن عبدالله المدنی دی

ابو مرايه العجلی عبدالله بن عمرو تابعی دی

ابو معيد حفص بن غيلان الدمشقی د مکحول شاګرد دی

زه وايم دده څخه تقريبا لس راويانو روايت کړی دی او ددی باوجود ابن حزم وايی دا مجهول دی ( المحلی ۷ ۳۷) ځکه چی هغه ته دده يا دده د شاګردانو حال معلوم نه وو نو بغير د علم نه پری د مجهول حکم ولګوو لکه څنګه چی هغه د سنن ترمذی مصنف ته مجهول ويلی وو چی محمد بن عيسی بن سوره څوک دی

د مفرد کنيتونو څخه ابو السنابل لبيد ربه بن بعکک بنو عبدالدار والا صحابی دی دده نوم د پلار نوم او دده کنيت ټول په مفرد نومونو کی داخل دی

ابن الصلاح فرمايي په مفرد لقبونو کی سفينه د صحابی مثال دی دده نوم مهران يا بل څه شی دی

مندل بن علی النعزی نوم عمرو دی

سحنون بن سعيد دده نوم عبدالسلام دی مدونه دده کتاب دی مطين

مشکدانه الجعفی

داسی نور هم ډير نومونه دی چی مونږ به يی په القابو کی ذکر کړو ان شاالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵۰)پنځوستم قسم: د اسما او کنيتونو پيژنده

دی باره کی محدثينو کتابونه ليکلی دی چی هغی کی علی بن المدينی مسلم نسايی دولابی ابن منده او الحاکم دی د حاکم دا کتاب ډیر مفید دی دده طریقه داده چی کنیت بیان کړی بیا د کنیت والا نوم هم ذکر کړی د بعضو نوم معلوم نه وی او د بعضو په نوم کی اختلاف وی

ابن الصلاح ددی څو قسمه ذکر کړی دی

اول د کوم راوی چی د کنیت نه علاوه بل هیڅ نوم نه وی لکه ابو بکر بن عبدالرحمان بن الحارث بن هشام المدنی په فقهاو سبعه وو کی دی د ده کنیت ابو عبدالرحمان دی

دغه شان ابو بکر بن محمد بن عمرو بن حزم دده کنیت ابو محمد دی

خطیب فرمایی ددی واړو څه مثال نشته

دا هو ویل شوی چی د ابن حزم د ابو بکر نه علاوه بل هیڅ کنیت نشته

د کومو راویانو چی د کنیت نه علاوه بل نوم نه وی هغی کی د شریک شاګرد ابو بلال الاشعری هم دی هغه فرمایی زما کنیت زما نوم دی

او ابو حصین بن یحی بن سلیمان الرازی ابو حاتم وغیره استاذ

دده نوم هم دده کنیت دی

دویم قسم کوم کس چی په خپل کنیت سره مشهور نه وی او نوم یی هم نا معلوم وی

لکه ابو اناس په نون سره صحابی دی

ابو شیبه الخدری چی د قسطنطینه په حصار کی قتل شوی وو او هلته دفن شوی وو ابو الابیض د انس رضی الله عنه نه روایت کړی دی ابو بکر بن نافع د امام مالک استاذ ابو النجیب د نون په زبر سره بعضی وایی چی د پیښ والا تا سره دا د عبدالله بن عمرو مولی دی

ابو حرب بن ابی الاسود ابو حریز الموقفی بن وهب استاذ موقف د مصر یوه محله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریم د چا چی دوه کنیته وی چی هغی کی یو کنیت او بل یی لقب وی

مثلا علی بن ابی طالب ددی کنیت ابو الحسن او بطور لقب ورته ابو تراب ویل کیږی

ابو الزناد عبدالله بن ذکوان دده کنیت ابو عبدالرحمان دی او بطور لقب ورته ابو الزناد ویل کیږی

ویل کیږی چی هغه به پدی لقب سره غصه کیده

ابو الرجال محمد بن عبدالرحمان دده کنیت ابو عبدالرحمان او لقب ابو الرجال دی ځکه چی دده لس بچی وو ابو تمیله یحیی بن واضح دده کنیت ابو محمد دی

ابوالاذان حافظ عمر بن ابراهیم دده کنیت ابو بکر او لقب ابوالاذان دی د اوږدو غوږونو په وجه به یی ورته دا لقب اغستو

ابو الشیخ الاصبهانی عبدالله دده کنیت ابو محمد او لقب ابو الشیخ دی

ابو حازم العبدوی عمر بن احمد دده کنیت ابو حفص او لقب ابو حازم دی دا خبره الفلکی په خپل کتاب الالقاب کی کړی ده

څلورم د چا چی دوه کنیته وی لکه ابن جریج دیته به ابو خالد او ابو الولید ویل کیدل عبدالله بن عمر العمری دده کنیت ابو القاسم وو بیا یی دا ترک کړ او ابو عبدالرحمان یی کیخوده

زه وایم د سهیلی دوه کنیته وو ابو القاسم او ابو عبدالرحمان

ابن الصلاح فرمایی زمونږ د استاذ شیخ مصور بن ابی المعالی دری کنیتونه وو

ابو بکر ابو الفتح ابو القاسم هغه د الفراوی نوسی وو

پینځم د چا نوم چی مشهور وی خو کنیت کی یی اختلاف وی د هغه دوه یا دری کنیتوه راجمع شوی وی

لکه د نبی علیه السلام د ازاد کړی شوی غلام زید بن حارثه په کنیت کی اختلاف دی ویل کیږی چی ابو خارجه یا ابو زید یا ابو عبدالله یا ابو محمد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسی نور هم ډیر مثالونه دی چی د هغی دلته ذکر کول د تطویل باعث دی

شپږم قسم د چا کنیت چی مشهور او نوم کی اختلاف وی لکه ابو هریره رضی الله عنه دده په نوم کی اختلاف دی چی تقریبا د شلو نه ډیر اقوال پکی دی

ابن اسحاق ویلی دی دده نوم عبدالرحمان بن صخر دی دیته ابو احمد الحاکم هم ترجیح ورکړی په صحابه وو او نورو خلکو کی ددی ډیر مثالونه شته دی

د ابو بکر بن عیاش په نوم کی اختلاف دی یوولس اقوال پکښ دی

د ابو زرعه او ابن عبدالبر موقف داد ی چی د ابن عیاش نه مروی دی چی هغه وایی زما نوم زما کنیت دی

وم قسم د چا په نوم او کنیت دواړو کی چی اختلاف وی ددی مثالونه ډیر کم دی لکه سفینه باره کی ویل کیږی چی دده نوم مهران یا عمیر یا صالح دی

او دده د کنیت باره کی ویل کیږی چی ابو عبدالرحمان یا ابو البختری دی

اتم کوم چی د خپل نوم او کنیت دواړو سره مشهور وی لکه ایمه ثلاثه ابو عبدالله مالک ابو عبدالله شافعی او ابو عبدالله احمد بن حنبل

او څلورم امام ابو حنیفه نعمان بن ثابت دی او دار نګه نور ډیر مثالونه شته

نهم کوم چی د خپل نوم په ځای په کنیت سره مشهور حالانکه د هغه نوم وو

لکه ابو ادریس خولانی عایذ الله بن عبدالله

ابو مسلم خولانی عبدالله بن ثوب

ابو اسحاق السبیعی عمرو بن عبدالله ابو الضحی مسلم بن صبیح او ابو الاشعث الصنعانی شراحیل بن اده

ابو حازم سلمه بن دینار ددی ډیر مثالونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵۱)یو پنځوستم قسم: د هغه چا پیژندل چی د کنیت نه بغیر په خپل نوم سره مشهور وی

ددی مثالونه ډیر زیات دی

ابن الصلاح د صحابه و د یو جماعت ذکر کړی د کومو کنیت چی ابو محمد دی مثلا اشعث بن قیس ثابت بن قیس جبیر بن مطعم حسن بن علی حویطب بن عبدالعزی طلحه بن عبیدالله عبدالله بن بحینه عبدالله بن جعفر عبدالله بن ثعلبه عبدالله بن زید موذن عبدالله بن عمرو بن العاص عبدالرحمان بن عوف کعب بن مالک او معقل بن سنان رضی الله عنهم اجمعین

هغه د ابو عبدالله او ابو عبدالرحمان کنیتونو والاو صحابه ذکر هم کړیدی که مونږ چیرته دا ټول راجمع کړو نو دا فصل به ډیر اوږد شی

مناسب دا وو چی دا قسم د مخکنی قسم په اقسامو کی لسم قسم جوړ شوی وی

## (۵۲) دوه پنځوستم قسم د القابو معرفت

دی باره کی هم علماو ډیر کتابونه لیکلی دی پدی کی د ابو بکر احمد بن عبدالرحمان کتاب الالقاب ډیر مفید کتاب دی بیا د ابو الفضل ابن الفلکی کتاب دی ددی په پیژندلو کی فایده داده چی پدی لقب باندی دا گمان ونشی چی دا د بل چا دی که د یو چا شهرت په نامناسب لقب سره شوی وی نو محدثین دغه لقب صرف د پیژندگلو لپاره ذکر کوی نه د عیب جویی او مذمت لپاره

الله صرف د صحیح لاری توفیق ورکوی

عبدالغنی بن سعید المصری فرمایی ددوه ښو کسانو طرفته ددوه بدو القابو نسبت شوی دی معاویه بن عبدالکریم الضال گمراه دا د مکه په لاره کی ورک شوی وو عبدالله بن محمد الضعیف دا په جسمانی طور سره ضعیف وو حدیث کی ضعیف نه وو ابن الصلاح فرمایی دریم کس عارم خوشی کس ابوالنعمان محمد بن الفضل السدوسی ته لقب ایخودی شوی دی چی ښه سړی وو د بدو کارونو څخه ډیر لری وو او عارم شری او فسادی ته وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غندر د شعبه شاگرد محمد بن جعفر دده لقب وو

د ابو حاتم الرازی شاگرد محمد بن جعفر ته به یی هم غندر ویله

ابو نعیم الاصبهانی وغیره استاذ محمد بن جعفر ته به یی هم غندر لقب وو

او محمد بن جعفر بن دران البغدادی چی د ابو خلیفه الجمحی نه به یی روایت کوو دیته یی هم غندر ویله ددی نه علاوه دنورو بعضو راویانو نوم هم غندر دی

غنجار د عیسی بن موسی لقب وو چی دا د مالک او ثوری شاگرد دی هغه ته یی ځکه غنجار ویل چی د هغه دواړه غومبوری سره وو

دویم غنجار د متاخرینو څخه ابو عبدالله محمد بن احمد البخاری وو چا چی تاریخ بخاری لیکلی دی دا په ۴۱۲ کی وفات شوی

صاعقه د امام بخاری د استاذ محمد بن عبدالرحیم لقب دی ځکه د هغه حافظه انتهایی تیزه وه

شباب د خلیفه بن خیاط لقب دی زنیج د امام مسلم د استاذ محمد بن عمرو الرازی لقب دی رسته د عبدالرحمان بن عمرو لقب دی سنید د حسین بن داود المفسر لقب دی

بندار د کتب سته د مصنفینو د استاذ محمد بن بشار لقب دی ځکه هغه به په کثرت سره احادیث بیانول

قیصر د امام احمد د استاذ ابو النضر هاشم بن قاسم لقب دی الاخفش د یو جماعت لقب دی چی هغی کی احمد بن عمران البصری النحوی چی هغه د زید بن الحباب نه روایت کړی او د غریب الموطا په نوم یی کتاب لیکلی

ابن الصلاح فرمایی په نحویانو کی دری اخفشان مشهور دی

په هغوی کی دټولو نه مشر ابو الخطاب عبدالحمید بن عبدالمجید دی چی سیبویه یی په خپل مشهور کتاب کی ذکر کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم ابو الحسن سعيد بن مسعده دی چی د سيبويه د کتاب راوی دی

دريم ابو الحسن علی بن سليمان دی چی د ابو العباس احمد بن يحی او ابو العباس محمد بن يحی المبرد شاګردان دی

مربع د محمد بن ابراهيم لقب دی جزره د صالح بن محمد بغدادی لقب دی کيلحه د محمد بن صالح البغدادی لقب دی ماغمه د علی بن عبدالصمد البغدادی لقب دی ديته علان ماغمه هم ويل کيږی دغه شان د هغه دوه لقبونه ده

عبيد العجل د ابو عبدالله حسين بن محمد بن حاتم البغدادی لقب دی ابن الصلاح فرمايی دا پينځه بغداديان محدثين وو چی د يحی بن معين شاګردان وو د هغوی لپاره دا القاب يحی بن معين ايخی وو

سجاده د وکيع د شاګرد حسن بن حماد لقب دی د ابن عدی د استاذ حسين بن احمد لقب هم سجاده دی

عبدان د يو جماعت لقب دی چی د هغو څخه د بخاری استاذ عبدالله بن عثمان هم دی

دا بعضی القاب دی چی ابن الصلاح رحمه الله ذکر کړی دی

ددی ټولو ذکر کول د ډير طوالت باعث دی

## (۵۳) دری پيځوستم قسم الموتلف والمختلف او ددی مشابه نومونه او انساب

د کوم نومونو شکل چی په ليکلی کی يو شان او ويلو کی مختلف وی

ابن الصلاح فرمايی دا بهترين فن دی په محدثينو کی چی څوک دا نه پيژنی د هغه غلطيانی ډير وی او هميشه شرمنده کيږی

دی باره کی مفيد کتابونه ليکل شوی دی چی هغی کی د ابن ماکولا کتاب کامل ترين کتاب دی ( الاکمال ) که چيرته په هغی کی بعضی ځايونو کی نقص او کمی نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وایم حافظ عبدالغنی بن نقطه په الاکمال باندی استدارک کړی دی چی هغی کی ډیر فایدی دی او په متاخرینو کی د حافظ ابو عبدالله النجار کتاب پدی باب کی نهایت مفید دی

ددی د مثالونو څخه بعضی په لاندی ډول دی

سلام او سلام عماره او عماره په کسره سره حزام او حرام عباس او عیاش غنام او عثمام

بشار او یسار بشر بسر بشیر یسیر نسیر حارثه جاریه جریر حریز حبان حیان رباح رباح سریج شریح عباد عباد وغیره

العنسی العیشی العبسی الحمال الجمال الخیاط الحناط الخباط البزار البزاز الابلی الایلی البصری النصری الثوری التوری الجریری الجریری الحریری السلمی السلمی په پیښ سره

الهمدانی الهمذانی داسی نور ډیر مثالونه شته

دا شیان په خپلو مقاماتو کی د بهترین ذهن په ذریعی یادیږی

او الله تعالی د بنده سره مدد کوی اسانی پیدا کوی او مونږ د هغه نه مدد غواړو

## (۵۴)څلورپینځوستم قسم د اسماو او انسابو څخه د متفق او مفترق پیژندنه

دی باره کی خطیب یو غټ کتاب المتفق والمفترق لیکلی دی شیخ ابو عمرو بن الصلاح ددی ډیر اقسام ذکر کړی دی

۱۔ دوه یا ډیر راویان په خپل نوم او د پلار په نوم کی متفق وی مثلا د خلیل بن احمد په نوم ۶ راویان دی

یو نحوی بصری دی چی د ټولو نه مخکی یی علم عروض ایجاد کړی وو بعضی علما وایی چی د نبی علیه السلام نه پس د خلیل بن احمد د پلار د نوم نه علاوه د چا نوم احمد نشته د ابو السفر سعید بن احمد نه لکه دا قول د ابن معین رحمه الله دی نور وایی چی دده نوم سعید بن یحمد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


دویم ابو بشر المزنی هم بصری دی ده د مستنیر بن اخضر څخه هغه د معاویه بن قره نه روایت کړی دی د هغه نه عباس العنبری او یو جماعت روایت کوی

دریم:اصبهانی دی چی د روح بن عباده وغیره نه روایت کوی

څلورم :ابو سعید السجزی د خراسان مشهور قاضی فقیه حنفی دی چی د ابن خزیمه او د هغه د طبقی والاو څخه روایت کوی

پینځم: ابو سعید البستی شافعی دی هغه د شیخ ابو حاتم الاسفراینی نه علم حاصل کړی وو او اندلس ته داخل شوی وو

دویم قسم : د احمد بن جعفر بن حمدان په نوم څلور راویان دی ۱ القطیعی البصری الدینوری الطرسوسی محمد بن یعقوب بن یوسف دوه دی دواړه نیسابوری دی

ابو العباس الاصم او ابو عبدالله الاخرم دی

دریم :د ابو عمران الجونی په نوم دوه کسان دی عبدالملک بن حبیب تابعی او موسی بن سهل جی د هشام بن عروه نه روایت کوی

ابو بکر بن عیاش دری کسان دی

۱ـ مشهور قاری ۲ـ د غریب الحدیث مصنف السلمی الباجدایی چی په ۲۰۴ کی وفات شوی ۳ حمصی مجهول دی ۴ صالح بن ابی صالح

پینځم: محمد بن عبدالله الانصاری دوه د ییو د بخاری استاذ او د مشهور کتاب جز مولف دویم ضعیف راوی دی چی د هغه کنیت ابو سلمه دی

دا باب هم ډیر وسیع دی ددی ډیر شاخونه دی دا په تجربه او بعضی وخت د یو شی په معلومولو سره حاصلیږی

## (۵۵) پینځه پنځوستم قسم : دا قسم د سابقه دوه اقسامو څخه مرکب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطیب بغدادی دی بار کی کتاب تلخیص المتشابه فی الرسم لیکلی دی ددی مثال موسی بن علی د عین په زبر سره چی د یو جماعت نوم دی او موسی بن علی د عین په پیښ سره مصری عالم دی چی د تابعینو څخه روایت کوی

ددی څخه المخرمی په پیښ د میم سره او المخرمی په زبر د میم سره دی

ددی څخه ثور بن یزید الحمصی او ثور بن زید الدیلی الحجازی دی

ابو عمر الشیبانی النحوی اسحاق بن مرار او یحی ین ابی عمرو السیبانی دی

د مسلم استاذ عمرو بن زراره النیسابوری او ابو القاسم البغوی استاذ عمرو بن زراره الحدثی دی

## (۵۶) قسم :د سابقه قسم نه علاوه بل قسم دی

ددی معنی او مفهوم دادی چی چی د هغه خپل نو او د پلار نوم یا نسبت یو وی لیکن عمر کی د یو بل نه جدا وی یو متاخر او بل متقدم وی

مثلا یزید بن الاسود خزاعی صحابی دی او یزید بن الاسود الجرشی تابعی دی چا چی د جاهلیت زمانه موندلی وه او په شام کی اوسیده دا هغه دی چی معاویه رضی الله عنه ترینه د باران دعا غوښتی وه البته اسود بن یزید د عبدالله بن مسعود د شاګردانو څخه مشهور تابعی دی

د اوزاعی شاګرد او د امام احمد استاذ ولید بن مسلم دمشقی دی او یو بل ولید بن مسلم هم شته چی بصری دی

مسلم بن ولید بن رباح مدنی دی دده نه عبدالعزیز بن محمد الداوردی وغیره روایت کوی او بخاری ته په خپل تاریخ کی وهم شوی هغه دده نوم ولید بن مسلم لیکلی دی

زه وایم زمونږ شیخ حافظ المزی په تهذیب کی دده بیان په پوره توجه سره کړی دی هغه په ښی طریقی سره د متقدمینو او متاخرینو مابین کی فرق کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پخپل کتاب التکمیل کی د ډیرو ښو شیانو اضافه په هغه باندی کړی ده

## (۵۷) وه پینځوستم قسم :کوم خلک چی د خپل پلار نه علاوه بل چا ته منسوب وی د هغوی معرفت

ددی ډیر اقسام دی :

۱ـ کوم چی د خپلو مورګانو طرفته منسوب دی مثلا د عفرا دوه ځامن چی د بدر په جنګ کی یی ابو جهل زخمی کړی وو ددوی مور عفرا بنت عبید ده او ددوی والد حارث بن رفاعه دی ددوی دریم ورور ته عوذ یا عون یا عوف وایی

بلال بن حماد الموذن دده د پلار نوم رباح دی

ابن ام مکتوم الاعمی دا هم موذن دی ده به بعضی وختونو کی د نبی علیه السلام په غیر موجودګی کی امامت هم کوو ویل کیږی چی دده نوم عبدالله بن زایده یا عمرو بن قیس دی

عبدالله بن اللتبیه صحابی دی ده ته ابن الاتبیه هم ویل کیږی

سهیل بن بیضا او دده دوه ورونه د بیضا نوم دعد دی او دده د پلار نوم وهب دی

شرحبیل بن حسنه په شام کی د صحابه د امیرانو څخه وو حسنه دده د مور نوم دی دده پلار عبدالله بن مطاع دی

عبدالله بن بحینه دده مور بحینه او پلار مالک بن قشب دی

سعد بن حبته حبته دده مور او بجیر بن معاویه دده پلار په تابعینو او ورستنو کی محمد بن الحنفیه دده د مور نوم خوله او لقب حنیفه دی دده والد علی بن ابی طالب رضی الله عنه دی

اسماعیل بن علیه علیه دده مور ده او ابراهیم یی پلار ده د حدیث او فقه د امامانو څخه دی او ډیر نیک انسان وو

زه وایم هغه ابن علیه چی ډیر فقها یی یادوی هغه د اسماعیل بن علیه ځوی ابراهیم دی چی یو بدعتی انسان او د خلق قران قایل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن هراسه دا ابو اسحاق ابراهیم بن هراسه دی شیخ عبدالغنی بن سعید المصری فرمایی هراسه دده مور او سلمه دده پلار دی

ددی خلکو څخه هغه هم دی چی د خپلی نیا طرفته منسوب وی

مثلا یعلی بن منیه ربیر بن بکار فرمایی دا دده نیا امیه ده

بشیر بن الخصاصیه دده د پلار نوم معبد او خصاصیه دده ددریم نیکه د مور نوم دی

ابن الصلاح فرمایی : زمونږ پدی نژدی زمانه کی زمونږ استاذ عبدالوهاب بن علی البغدادی په ابن سکینه سره مشهور وو سکینه دده د نیا نوم وو

زه وایم دغه شان زمونږ استاذ ابن تیمیه دده نوم احمد بن عبدالحلیم دی تیمیه دده د نیکونو مور ده

پدی کی بعضی د خپل نیکه طرفته منسوب وی لکه نبی علیه السلام چی د غزوه حنین په موقع کله صحابه ولیدل چی د کفارو طرفته یی منډی وهلی هغوی ته یی اواز وکه او خپل تعارف یی ورته بیان کړ چی زه نبی یم دی کی هیڅ شک نشته زه د عبدالمطلب ځوی یم

حالانکه هغه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب دی

او ابو عبیده بن الجراح عامر بن عبدالله بن الجراح الفهری دی دا د عشره مبشره و څخه دی د ټولو نه مخکی دا په شام باندی امیر مقرر شوی وو دده امارت د خالد بن ولید نه پس شوی وو

مجمع بن جاریه دا مجمع بن  بن یزید بن جاریه دی

اب جریج دا عبدالملک بن عبدالعزیز بن جریج دی

ابن ابی ذیب دا محمد بن عبدالرحمان بن ابی ذیب دی

احمد بن حنبل اصل کی احمد بن محمد بن حنبل الشیبانی دی چی د امامانو څخه وو

ابو بکر بن ابی شیبه اصل کی عبدالله بن محمد بن ابی شیبه ابراهیم بن عثمان د مصنف مصنف دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان دده دوه ورونه عثمان بن ابی شیبه او قاسم بن ابی شیبه

ابو سعید بن یونس د تاریخ مصر مصنف دده نوم عبدالرحمان بن احمد بن یونس بن عبدالاعلی دی

کوم خلک چی د خپل پلار نه علاوه بل چا ته منسوب دی هغوی څخه مقداد بن عمرو بن ثعلبه دی اسود عبد یغوث ځوی او دهغه والده دویم خاوند وو هغه ددی په غیږه کی لوی شوی وو هغی دی لره خپل ځوی ګرځولی وو نو دده نوم د هغی سره منسوب شو

حسن بن دینار اصل کی حسن بن واصل دی دینار دده د دویم پلار نوم دی

ابن ابی حاتم فرمایی : حسن بن دینار بن واصل ( الجرح والتعدیل ۲ ۱۱ )

## (۵۸) اته پنځوستم قسم : داسی نسب چی د ظاهر خلاف وی

لکه ابو مسعود عقبه بن عمرو البدری دی بخاری فرمایی هغه بدر کی حاضر شوی وو جمهور د هغه مخالفت کړی او فرمایی چی هغه بدر کی اوسیده دی وجی نه ورته بدری وایی

سلیمان بن طرخان التیمی د تمیمیانو څخه نه وو هغه صرف د هغو سره پاتی شوی وو دی وجی نه ورته دا نوم وایی

هغه د بنو مره مولی وو

ابو خالد الدالانی دالان د همدان یو شاخ دی هغه پدی کی پاتی شوی وو که نه یی نو هغه د بنو الاسد غلام وو

ابراهیم بن یزید الخوزی د مکه په یو غر خوز کی پاتی شوی وو

عبدالملک بن ابی سلیمان العرزمی دا د بنو فزاره یو شاخ دی دا په کوفه کی پدی عرزم علاقه کی پاتی شوی وو

محمد بن سنان العوقی دا د عبدالقیس قبیلی یو شاخ دی دا اصل کی باهلی وو لیکن بصره کی ددوی سر ه پاتی شوی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد بن یوسف السلمی د مسلم استاذ الازدی دی لیکن د خپلی مور د قبیلی السلم طرفته منسوب دی دغه شان دده نوسی ابو عمرو اسماعیل بن نجید السلمی او دده نوسی ابو عبدالرحمان السلمی الصوفی

ددی باب څخه مقسم ته د ابن عباس رضی الله عنهما مولی ویل شوی ځکه هغه به اکثر د ابن عباس سره اوسیده که نه یی هغه د عبدالله بن حارث بن نوفل غلام وو

خالد الحذا ته ځکه حذا وایی چی هغه به موچیانو سره ډیر کیناسته

یزید الفقیر ددی د شاه په هډوکو کی درد وو ځکه ورته فقیر وایی

## ( ۵۹ ) نهه پنځوستم قسم د سړو او ښځو په نومونو کی د مبهم نومونو پیژندنه

دی باره کی شیخ عبدالغنی بن سعید المصری کتاب الغوامص والمبهمات لیکلی دی

او خطیب بغدادی او نورو هم کتابونه لیکلی دی

دا خبره د حدیث د سندونو د جمع کولو نه پس ددویم روایت څخه معلومیږی مثلا د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی یو کس وویل ای د الله رسول ایا هر کال حج فرض دی؟دا پوښتنه کونکی اقرع بن حابس دی

ابو سعید خدری نه روایت دی چی هغوی په یو قبیلی باندی تیر شو چی د هغی مشر یو زهریلا شی چیچلی وو بیا یو صحابی هغه دم کړ د یو کس نه مراد پخپله ابو سعید الخدری رضی الله عنه دی

ددی قسم ډیر مثالونه دی چی دلته یی ذکر کول باعث طوالت دی

ابن الاثیر په خپل کتاب جامع الاصول ددی په اخر کی پدی توجه ورکړی ده

شیخ نووی دی باره کی د خطیب کتاب مختصر کړیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حدیث د حکم د معرفت په مقابله کی دا قسم د کمی فایدی والا دی لیکن ددی باوجود ډیر محدثین پدی باندی توجه ورکوی

دی کی اهمه خبره داده چی که سند کی ابهام وی مثلا عن فلان عن فلان یا عن ابیه عن عمه عن امه وغیره بیا بل سند کی ددی مبهم نوم معلوم شی یا دده ثقه یا ضعیف والی معلوم شی یا دا پته وشی چی دده باره کی لا تر وسه تلاش شروع دی پدی قسم کی دا خبره په ټولو کی اهم ده

## (۶۰) شپتم قسم : د راویانو د پیدایش وفات او عمر پیژنده

دی دپاره چی معلومه شی چی هغی د چا سره ملاقات کړی او چا سره نه هغه دروغجن دی یا مدلس دغه شان د متصل او منقطع پته لګی

سفیان ثوری فرمایی کله چی راویانو ددروغو استعمال وکه نو مونږ د هغوی په مقابلی کی د تاریخ استعمال وکه حفص بن غیاث فرمایی که ستاسو په یو راوی باندی شک وی نو د کلونو څخه د هغه محاسبه وکړی یعنی د هغه د عمر حساب ولګوی او هغه چی د چا نه روایت کوی د هغه دعمر هم حساب ولګوی

حاکم فرمایی کله چی محمد بن حاتم الکشی زمونږ خواته راغلی نو د عبدبن حمید نه یی حدیثونه بیان کړل ما د هغه نه د هغه د پیدایش باره کی تپوس وکه نو هغه وویل چی په ۲۶۰ کی پیدا شوی دی ما خپلو ملګرو ته وویل دا کس دعوی کوی چی دده د عبد بن حمید د وفات نه دیارلس کاله پس سماع کړی ده

ابن الصلاح فرمایی په صحابه و ک ی دوه کسان داسی دی چی شپیته کاله یی په جاهلیت کی او شپیته په اسلام کی تیر کړی دی هغه حکیم بن حزام او حسان بن ثابت دی ددواړه عمر یو سلو شل کاله وو

ابن اسحاق نه مروی دی چی د حسان بن ثابت بن منذر بن حزام دی کی د هر یو عمر یو سلو شل کاله وو

ابو نعیم الاصبهانی فرمایی په عربو کی ددی پشان بل مثال نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه وایم په عربو کی د یو جماعت ددی نه هم ډیر عمر تیر شوی دی د ابو نعیم مطلب دادی چی مسلسل طور سره د یو سلو شلو کالو نیکه ځوی نوسی او ډر نوسی داسی مثال نشته

د سلمان فارسی باره کی عباس بن یزید اجماع نقل کړی ده چی هغه ۲۵۰ کاله ژوندی وو او ددی نه په ډیر کی اختلاف دی چی ایا هغه ۳۵۰ کاله ژوندی پاتی شوی وو

ابن الصلاح رحمه الله د مشهورو کسانو د وفات تاریخونه ذکر کړی دی

نبی علیه السلام د مشهور قول مطابق د ۶۳ کالو په عمر کی د پیر په ورځ ۱۲ ربیع الا ول ۱۱ هجری باندی وفات شوی

ابو بکر رضی الله عنه د ۶۳ کالو په عمر د جمای په میاشت دیارلسم هجری باندی وفات شوی وو

عمر رضی الله عنه د ۶۳ کالو په عمر په ۲۳ هجری د ذوالحجه په میاشت کی وفات شوی

زه وایم د مکه نه مدینی ته د هجرت والا تاریخ د ټولو نه مخکی عمر رضی الله عنه جاری کړی وو لکه دا خبره مونږ د هغه په سیرت او د تاریخ په کتاب کی لیکلی ده

هغه په ۱۶ هجری کی دا حکم جاری کړی وو

عثمان رضی الله عنه د شهادت په وخت کی د هغه عمر ۸۰ یا ۹۰ کاله وو هغه په ۳۵ هجری د ذوالحجه په میاشت کی شهید شوی وو

علی رضی الله عنه په څلویښتم هجری د ۶۳ کاله په عمر وفات شو

طلحه او زبیر رضی الله عنهما د جنګ جمل په موقع په ۳۶ هجری شهیدان شوی وو حاکم فرمایی د شهادت په وخت ددواړو عمر ۶۴ کاله وو

سعد رضی الله عنه په ۵۵ هجری  د ۷۳ کاله په عمر کی وفات شوی

هغه په عشره مبشره وکی د ټولو نه اخر کی وفات شوی

سعید بن زید په ۵۱ هجری د ۷۳ یا ۷۴ کاله په عمر وفات شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالرحمان بن عوف په ۳۲ هجری د ۷۵ کاله په عمر وفات شوی

ابو عبیده په ۱۸ هجری د ۵۸ کاله په عمر وفات شوی

الله دی د ټولو نه راضی شی

زه وایم په عبادله وکی عبدالله بن عباس ۶۸ هجری کی ابن عمر او ابن زبیر په ۷۳ او عبدالله بن عمرو بن العاص ۶۷ هجری باندی وفات شوی

د امام احمد په نزد عبدالله بن مسعود د عبادله و څخه نه دی البته د جوهری په نزد د هغوی څخه دی د هغه وفات ۳۱ کی شوی

ابن الصلاح فرمایی

دویم :د پینځه مذاهبو ایمه دکومو اتباع چی کیږی د هغوی وفات په لاندی ډول دی

سفیان ثوری په بصره کی د ۶۴ کاله په عمر ۱۶۱ هجری کی وفات شوی مالک بن انس په مدینه کی ۱۷۹ هجری کی وفات شوی د هغه عمر د ۸۰ نه زیات وو

ابو حنیفه  په بغداد کی د ۷۰ کاله په عمر ۱۵۰ کی وفات شوی وو

محمد بن ادریس الشافعی په مصر کی د ۵۴ کاله په عمر ۲۰۴ کی وفات شوی

احمد بن حنبل په بغداد کی د ۷۷ کاله په عمر ۲۴۱ کی وفات شوی

زه وایم د شام خلک دوه سوه کاله د اوازاعی په مسلک باندی وو

هغه د ۶۰ کالو په عمر د شام په ساحل بیروت کی ۱۵۷ کی وفات شیو دغه شان اسحاق بن راهویه یو امام وو چی تابعداری به یی کیده یو جماعت به د هغه تقلید کوواو د هغه په مسلک به روان وو هغوی ته اسحاقیه ویل کیږی دده وفات د ۷۰ کاله په عمر ۲۴۸ کی شوی

ابن الصلاح فرمایی

د پینځه کتابونو د مصنفینو سن وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library


بخاري په ۱۹۴ کی پیدا او د عید الفطر په ورځ د خرتنګ په کلی کی په ۲۵۶ هجری کی وفات شوی

مسلم بن الحجاج د ۵۵ کاله په عمر کی په ۲۶۱ کی وفات شوی

ابو داود ۲۷۵ کی وفات شوی

ترمذی د هغه نه څلور کاله پس ۲۷۹ کی وفات شوی دی

ابو عبدالرحمان النسایی ۳۰۳ کی وفات شوی

زه وایم ابو عبدالله محمد بن یزید بن ماجه القزوینی د سنن ابن ماجه مصنف چی په دی کتاب سره د کتب سته تکمیل شوی او د بخاری او مسلم نه پس د سنن اربعه تکمیل شوی وو د کوم اطراف چی حافظ ابن عساکر مرتب کړی او دغه شان زمونږ شیخ حافظ مزی ددی کتاب په راویانو باندی توجه کړی ده دا کتاب ډیر مفید دی ددی فقهی تبویب قوی دی

هغه په ۲۷۳ کی وفات شوی وو

ابن الصلاح فرمایی پینځم

وه محدثین چی د هغوی د کتابونو څخه زمونږ په زمانه کی فایده حاصله کړی شوه

ابو الحسن الدارقطنی ۸۹ کاله په عمر کی ۳۸۵ کی وفات شوی

ابو عبدالله الحاکم نیسابور ی د صفر په میاشت کی په ۴۰۵ هجری باندی د اتیا کاله په عمر کی وفات شوی عبدالغنی بن سعید المصری د ۷۰ کاله په عمر کی په صفر ۴۰۹ کی وفات شوی

ابو نعیم الاصبهانی د ۹۶ کاله په عمر کی په ۴۳۰ کی وفات شوی

په دویمه طبقه کی شیخ ابو عمر بن عبدالبر د ۹۵ کاله په عمر کی ۴۶۳ کی وفات شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ابو بکر احمد بن حسین البیهقی په نیسابور کی د ۷۴ کاله په عمر کی ۴۵۸ کی وفات شوی وو

بیا ابو بکر البغدادی د ۷۱ کاله په عمر ۴۶۳ کی وفات شوی

زه وایم ددی علماو سره د هغه خلکو تذکره هم پکاره وه چی د هغوی کتابونه د محدثینو په نزد مشهور دی

لکه المعجم الکبیر المعجم الاوسط المعجم الصغیر وغیره د کتابونو مصنف طبرانی په ۳۶۰ کی وفات شوی

حافظ ابو یعلی الموصلی حافظ ابو بکر البزار او امام الایمه محمد بن اسحاق بن خزیمه د صحیح بن خزیمه مصنف په ۳۱۱ کی وفات شوی وو

دغه شان د صحیح بن حبان مصنف ابو حاتم محمد بن حبان البستی ۳۵۴ کی وفات شوی وو

او د کامل ابن عدی مصنف حافظ ابو احمد بن عدی ۳۶۷ کی وفات شوی وو

( ۶۱) د راویانو څخه د ثقه او ضعیف پیژندنه

په علوم حدیث کی دا فن د ټولو نه مهم او اعلی دی ځکه پدی سره د حدیث د سند ضعف او صحت معلومیږی علماو په مخکنی او وسنی زمانه کی پدی فن کی ډیر کتابونه لیکلی دی دی کی ډیر مفید کتاب د ابن ابی حاتم کتاب دی ( الجرح والتعدیل )

د ابن حبان دوه کتابونه یو کتاب الثقات دویم کتاب المجروحین دی

او د ابن عدی کتاب الکامل هم مفید دی

د تاریخ ډیر کتابونه مشهور دی چی هغی کی د حافظ ابو بکر احمد بن علی الخطیب تاریخ بغداد د حافظ ابو القاسم بن عساکر تاریخ دمشق زمونږ شیخ حافظ ابو الحجاج المزی تهذیب الکمال او زمونږ استاذ ابو عبدالله الذهبی میزان الاعتدال ډیر جلیل القدر کتابونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دا دواړه کتابونه یو ځای کړی دی او د جرح او تعدیل په باب کی می پری زیادت کړی دی ما د خپل کتاب نوم التکمیل فی معرفه الثقات والضعفا والمجاهیل ایخی دی دا کتا ب د ماهر فقیه او محدث لپاره مفید دی

که په راویانو باندی د جرح کولو مقصد د الله رسول او قران مجید او مسلمانانو خیرخواهی وی نو دا د غیبت څخه ندی بلکی دداسی کار کونکی ته به ددی مقصد په وجه ثواب میلاویږی

یحی بن سعید القطان ته وویل شو ایا ته ددی نه نه یریږی چی د کومو خلکو حدیث تاسو پریخی دی هغه د قیامت په ورځ ستا سره بحث وکړی

هغه وفرمایل که دا خلک د قیامت په ورځ زما دشمنان وی دا ماته ددی نه خوښه ده چی نبی علیه السلام زما دشمن وی

ابو تراب النخشبی د امام احمد نه واوریدل چی په بعضی راویانو باندی یی جرح کوله هغه وویل ایا ته د علماو غیبت کوی امام احمد وفرمایل ویحک دا نصیحت دی غیبت ندی

ویل کیږی چی په راویانو باندی د ټولو نه مخکی شعبه بن الحجاج جرح کړی ده

یحی بن سعید د هغه تابعداری وکړه بیا د هغه شاګردانو احمد بن حنبل علی بن المدینی یحیی بن معین او عمرو ابن علی الفلاس وغیره دا علم استعمال کړ

دی علم کی مالک هشام بن عروه او د سلف صالحینو یو جماعت کلام کړی دی نبی علیه السلام فرمایی دین د خیرخواهی نوم دی صحیح مسلم ۵۵

بعضی خلکو په بعضو علماو باندی جرح کړی لیکن هغی ته چا اعتبار ندی ورکړی ځکه ددی جرح مقصد مشهوره دشمنی ده

ددی په مثالونه کی ذکر کیږی چی محمد بن اسحاق په امام مالک باندی او امام مالک په محمد بن اسحاق باندی جرح کړی سهیلی دی باره کی تفصیل لیکلی دی

دغه شان د نسایی جرح په احمد بن صالح باندی ( مردود جرح ده ) ځکه احمد بن صالح هغه د مجلس څخه د حاضریدو نه منع کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library


## (۶۲) دوه شپیتم قسم : د هغه راویانو پیژندل چی په اخری عمر کی د اختلاط ښکار شوی وو

خوف تکلیف مرض یا د څه خاص حادثی د وجی نه د راویانو اختلاط مثلا کله چی د عبدالله بن لهیعه کتابونه ضایع شول نو د هغه حافظه د اختلاط ښکار شو

دداسی روایانو نه چی چا د اختلاط نه مخکی حدیث اوریدلی وی هغه به مقبول وی او چا چی وروسته اوریدلی وی یا شک وی چی نو ددی روایت به مقبول نه وی

کوم خلک چی په اخری عمر کی د اختلاط ښکار شوی وو د هغی نه بعضی په لاندی ډول دی

عطا بن سایب ابو اسحاق السبیعی حافظ ابو یعلی الخلیلی فرمایی ابن عیینه دده نه د اختلاط نه وروسته حدیث اوریدلی دی

سعید بن ابی عروبه وکیع او معافی بن عمران د ده نه د اختلاط نه پس سماع کړی ده

مسعودی ربیعه او صالح بن التوامه

حصین بن عبدالرحمان نسایی فرمایی سفیان بن عیینه د وفات نه دوه کاله مخکی د اختلاط ښکار شوی دا خبره یحی بن سعید القطان نقل کړی ده

عبدالوهاب التقفی دا خبره ابن معین کړیده

عبدالرزاق بن همام احمد بن حنبل فرمایی هغه د ړوندوالی نه پس د اختلاط ښکار شوی وو بیا به یی تلقین قبلوو نو چا چی د هغه نه د اختلاط نه پس اوریدلی دی هغی له هیڅ اعتبار نشته

ابن الصلاح فرمایی ما لیدلی چی طبرانی د اسحاق بن ابراهیم عن عبدالرزاق نه منکر احادیث بیان کړی دی نو کیدای شی چی دا ده د عبدالرزاق څخه د اختلاط نه پس روایت کړی وی

ابراهیم الحربی فرمایی کله چی عبدالرزاق وفات شو هغه وخت کی د اسحاق بن ابراهیم عمر شپږ یا وه کاله وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عارم په اخری عمر کی د اختلاط ښکار شوی وو

ددی نه پس لاندینی خلکو ته اختلاط شوی وو

ابو قلابه الرقاشی

ابو احمد الغطریفی ابو ابو بکر بن مالک القطیعی ډیر بوډا شوی وو تر دی چی دا به ورته هم معلومه نه وه چی هغوی ته څه اورول کیږی

## (۶۳) دری شپیتم قسم : د طبقاتو پیژندل

دا اصطلاحی امر دی بعضی خلک ټولو صحابه و ته یو طبقه وایی بیا د هغی نه پس تابعین دویمه طبقه او بیا دریمه طبقه تبع تابعین

ددی تایید ددی حدیث نه کیږی نبی علیه السلام فرمایی د ټولو نه بهترینه زمانه زما ده بیا چی هغی ته نزدی وی بیا چی هغی ته نزدی وی

هغه د خپلی زمانی نه پس دوه یا دری زمانی ذکر کړی دی

بعضی خلک د صحابه و ډیر طبقا ت ګرځوی دغه شان د تابعینو او د هغوی نه د وروستنو خلکو

بعضی خلک څلویښت کاله ته یو قرن وایی

دی باره کی د ټولو نه بهترین کتاب د محمد بن سعد کاتب الواقدی الطبقات

او دغه شان زمونږ استاذ الذهبی کتاب التاریخ دی

د هغه کتاب طبقات الحفاظ هم مفید کتاب دی

## (۶۴) څلورشپیتم قسم : د راویانو او علماو څخه د موالی پیژندنه

دا د اهم اقسامو څخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضی وخت یو کس یوی قبیلی ته منسوب وی او اوریدونکی دا ګمان کوی چی هغه ددی قبیلی یو فرد دی حالانکه هغه ددوی ازاد کړی شوی غلام وی لهذا ددی تمیز پکار دی چی صحیح خبره واضحه شی

اګر چی حدیث کی راځی د یو قوم ازاد کړی شوی غلام د هغوی څخه وی ( صحیح البخاری ۶۳۸۰)

ددی څخه ابو البختری سعید بن فیروز دی هغه د طی قبیلی مولی وو دغه شان ابو العالیه الریاحی

او لیث بن سعد الفهمی  عبدالله بن وهب القرشی دا د قریشو مولی وو

عبدالله بن صالح کاتب اللیث جهینه قبیلی مولی وو

ددی ډیر مثالونه شته

د امام بخاری په حالاتو کی چی ویل کیږی چی  د جعفی قبیلی مولی دی نو ددی وجه داده چی دده نیکه د جعفی قبیلی د بعضی کسانو په لاس مسلمان شوی وو

دغه شان حسن بن عیسی الماسرجی چی د عبدالله بن مبارک طرفته یی نسبت شوی ځکه هغه د عیسایانو څخه وو او د ابن المبارک په لاس مسلمان شوی وو

بعضی ولایت د معاهدی د وجی نه وی لکه د امام مالک بن انس په نسب کی ویل کیږی چی هغه د تمیمیانو مولی وو حالانکه هغه اصل کی حمیری دی لیکن د هغه نیکه مالک بن ابی عامر د تمیمیانو معاهد وو

هغه به د طلحه بن عبدالله سره ملازمت کولو دی وجی نه هغه د تمییمانوطرفته منسوب کړی شو

صحیح مسلم کی روایت دی چی کله عمر رضی الله عنه کله د حج یا عمری لپاره په لاره روان وو نو د مکی په لاره کی ورته د هغه نایب میلاو شو هغه تری پوښتنه وکړه تا په شاته خلکو باندی څوک مقرر کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وویل ابن ابزی عمر رضی الله عنه وفرمایل ابن ابزی څوک دی

هغه وویل د موالی څخه یو کس دی

هغه وفرمایل ما د نبی علیه السلام څخه اوریدلی دی الله ددی علم په وجه یو قوم اوچتوی او بل قوم ښکته کوی

زهری فرمایی چی هشام بن عبدالملک د هغه نه تپوس وکړ چی د مکه د خلکو سردار څوک دی ما وویل عطا بن ابی رباح هغه وویل د یمن والاو قاید څوک دی ما وویل طاوس هغه وویل د شام والاو قاید څوک دی هغه ما وویل مکحول

هغه وویل د مصر د خلکو ؟ ما وویل یزید بن ابی حبیب

هغه وویل د جزیری والاو ما وویل میمون بن مهران

هغه وویل د خراسان والاو ما وویل ضحاک بن مزاحم هغه وویل د بصری والاو ما وویل حسن بصری

هغه وویل د کوفی والا ما وویل ابراهیم النخعی

هغه وایی د هر کس باره کی به هغه پوښتنه کوله چی دا د عربو څخه دی که د عجمو

زهری به فرمایل د موالی څخه

کله چی اخیر ته ورسیده نو هغ هوویل ای زهری قسم په الله د عربو موالی به د هغوی سرداران وګرځی

تر دی چی په منبرونو به د هغوی خطبی وی او عرب به لاندی ناست وی

ما وویل ای امیر المومنین دا دا الله حکم او دین دی چا چی دا یاد کړ قاید به وګرځی او چا چی دا ضایع کړ نو هغه به ښکته شی

زه وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضی بانډه چیانو د بصری د خلکو نه پوښتنه وکړه ددی ښار سردار څوک دی

هغوی وویل حسن بصری هغه وویل ایا هغه ازاد کړی شو ی غلام دی

هغوی وویل هو هغه وویل دا په څه وجه سردار وګرځیده هغوی وویل دا خلک د هغه د علم محتاج دی او هغه ددوی دد نیا محتاج ندی

## ( ۶۵) قسم : د راویانو د وطن او علاقو پیژندل

ډیر علما پدی باندی توجه ورکوی او بعضی وخت ددی ډیری فایدی ښکار کیږی

د راوی د استاذ معرفت بعضی وخت کی دا د نورو سره مکس کیږی نو کله چی مونږ ته ددی علاقه معلومه وی نو عام طور سره به ددی تعین کیده او دا ډیر جلیل القدر کار دی

عرب خلک د قبیلو د قبیلی د شاخونو د خاندانونو د کورونو طرفته منسوب وی البته عجمی خلک د قومونو کلو او علاقو طرفته منسوبولی شی

بنی اسرایل د اولاد یعقوب طرفته منسوب وو بیا چی کله اسلام راغلی او خلک په مختلف ځایونو کی منتشر شول نو هغوی د ملکونو ښارونو او کلو طرفته منسوب کړی شو

کوم کس چی به یو کلی کی اوسیده نو هغه به مخیر وو چی د کلی طرفته ځان منسوبو ی یا د ملک ښار طرفته

که یو کس به د یوی علاقی اوسیدونکی وو بیا به بلی علاقی ته لاړه نو هغه ته به اختیار حاصل وو چی کومی طرفته ځان منسوبوی بهتره داده چی ددواړو ذکر وشی مثلا وویل شی شامی بیا عراقی یا دمشقی بیا مصری

بعضی وایی کله چی یو کس په یو ځای کی څلور کاله یا ددی نه ډیر پاتی شی د هغه طرفته یی نسبت صحیح دی

لیکن دی کی نظر دی او الله ته پته ده چی کوم شی صحیح دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا اخری الفاظ دی چی الله تعالی پدی سره ماته د اختصار علوم الحدیث د لیکلو توفیق راکړی وو

او حمد ثنا او احسان ټول د الله لپاره دی

وصلی الله علی سیدنا محمد صلی الله علیه وسلم

ختم شو: ۱۳ ذوالحجه ۱۹۳۹ هجری

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**